


BUREAU OF MOTOR VEHICLES
BMV
INDIANA

# انډيانا

## د موټر چلوونکي لارښود






# یوه شیبه له لاسه مه ورکوئ

له رښتیني پېژند (Real ID) سره کولای شئ
په متحده ایالتونو کې په یوه سوداګریزه الوتنه
کې سپاره شئ، پوځي اډې وګورئ، او
ځانګړو فدرالي تاسیساتو ته ددننه شئ.

یو **رښتینی پېژند (Real ID)** د جوازونو،
پېژندونو (IDs) او اجازو په پورتني ښي
کونج کې په یوه ستوري سره ښودل کېږي.




**RealID.IN.gov** وګورئ څو پوه شئ چې رښتیني پېژند
(Real ID) ته د لوړولو لپاره کومو اسنادو ته اړتیا ده.

# زموږ ماموریت

په وخت او دقیق ډول او په ورته وخت کې د امنیت او روښتیا په ډاډمنولو سره د موټر چلوونکي او نقلیه وسیلې د لومړۍ درجې خدمتونو په وړاندې کولو سره د انډیانا ټولو اوسېدونکو ته خدمت کول.

د خدمت لپاره هڅول شوی

انډیانا موټوري نقلیه وسیلو اداره

# لړلیک

**لومړی څپرکی | د نوي باورلیک ترلاسه کول ... 1**
باورلیک ته عمومي کتنه ... 1
د باورلیک ډیزاین ... 1
ریښتیني پېژند (Real ID) ... 1
د انډیانا د استوګني اړتیاوې ... 2
د پېژند کارت غوښتنه کول ... 3
د زده کوونکي اجازې ... 3
د لید چاڼ کول ... 4
د پوهې ازموینه ... 5
د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه ... 5
د ټپي کېدلو یا زیان لپاره مالي مسؤولیت ... 7
د موټر چلولو د جواز غوښتنه ... 8
د زده کوونکي سوداګریزه اجازه او د سوداګریز موټر چلولو جواز ... 10
له عکس څخه مستثناء باورلیکونه ... 11
د پُست له لارې د خپل باورلیک ترلاسه کول ... 11
د عامه خوندیتوب محدودیتونه او بندیزونه ... 11
دویم څپرکی | محدودیتونه او تاییدونه ... 12
محدودیتونه او تاییدونه ... 12
پر یو باورلیک د ځانګړو اړتیاوو محدودیتونه ... 13
د موټرسیکل د زده کوونکي اجازه ... 13
د موټرسیکل تایید ... 13
په موتور چلېدونکی سیکل (MDC) ... 14
اتوسیکلونه ... 15
د کرایي لپاره تایید ... 15
د چلوونکي (CHAUFFEUR) او د عامه مسافرو د چلوونکي (CHAUFFEUR)جوازونه ... 16
**دریم څپرکی |** نښانونه، کښتۍ او د تمځای لوحې
د غړي بسپنه ... 17
د فعالي دندي او د پخواني پوځي نښان ... 17
کښتۍ ... 17
د تمځای پلاکارتونه ... 18
**څلورم څپرکی |** د باورلیک نوي کول، اصلاح کول، یا بدلول
د یو باورلیک نوي کول ... 19
د یو باورلیک اصلاح کول ... 20
د باورلیک بدلول ... 20
**پنځم څپرکی |** نمرې، ځنډول، او د بیمې اړتیاوې
د نمرې ارزښت ... 21
د موټر چلوونکي د خوندیتوب پروګرام ... 21
د بیمې اړتیاوې ... 22
ځنډوني ... 23
عادتي ترافیکي سرغړونکي ... 25
شپږم څپرکی | ترافیکي نښې او اشارې ... 27
د ترافیکي نښو رنګونه ... 27
د ترافیکي نښو شکلونه ... 28
*د خبرداري نښې* ... 29
د ترافیکي مقرراتو نښې ... 31
ترافیکي لارښوونو نښې ... 33
ترافیکي اشارې ... 34
اووم څپرکی | دنقلیه وسیلې خوندي چلول ... 37
د لین نښې ... 37
د لینونو بدلول او له نورو نقلیه وسیلو څخه تېرېدل ... 37
د خوندي او قانوني تاوېدلو لپاره قوانین ... 38
د سرعت محدودیت ... 40
د بریک نیولو او تعقیبولو واټنونه ... 41

د تیلو لګښت ........................................................ 42
د ټایر فشار او د ټایر د رخې ژوروالی ........................................................ 43
د هوا په نامعلومو حالاتو کې موټر چلول ........................................................ 43
په شپه کې موټر چلول ........................................................ 44
ناسم او خطرناک موټر چلول ........................................................ 45
د حواسو د ګډوډۍ په حالت کې موټر چلول ........................................................ 45
تېری کوونکې یا تعرضي موټر چلوونه ........................................................ 45
پر کلیوالي سړکونو موټر چلول ........................................................ 46
پر ایالت منځي یا د ایالتو تر منځ لویو لارو موټر چلول ........................................................ 46
د کار سیمې یا زونونه ........................................................ 47
د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځایونه ........................................................ 48
د رېل پټلۍ د تېرېدلو په ځایونو کې خوندیتوب ........................................................ 49
له ټراکټور-ټرېلرو سره د سړک شریکول ........................................................ 49
له نورو نقلیه وسیلو سره د سړک شریکول ........................................................ 51
د پلیو خوندیتوب ........................................................ 55
د خوندیتوب کمربندونه او د ماشوم د خوندیتوب څوکۍ ........................................................ 55
د لارۍ د تجهیزاتو اړتیاوې ........................................................ 57
اتم څپرکی | پېښې او بېړني حالات ........................................................ 58
له پېښې وروسته څه وکړو ........................................................ 58
له ټکرونو څخه ډډه کول ........................................................ 58
ناسم (د نشې په حالت کې) موټر چلول ........................................................ 59
د سړک د غاړې بېړني حالات ........................................................ 59
د نقلیه وسیلې د تجهیزاتو خرابېدل ........................................................ 60
د نقلیه وسیلې له غلا څخه مخنیوی کول ........................................................ 60
د قانون د پلي کوونکو له خوا د ترافیکو درول ........................................................ 60
د کاربن مونوکسایډ مسمومیت ........................................................ 62
نهم څپرکی | د پوهې د ازموینې د پوښتنو نمونه ........................................................ 63
د زده کوونکي د اجازې او د موټر چلولو د جواز ازموینې د پوښتنو نمونه ........................................................ 63
د کرایې لپاره د تایید د ازموینې د پوښتنو نمونه ........................................................ 64
په موټور چلېدونکي سایکل د تایید د ازموینې د پوښتنو نمونه ........................................................ 65
الف ضمیمه | د اسنادو اړتیاوې ........................................................ 66
ب ضمیمه | تنکي ځوانان د جلب تر شا ........................................................ 69
ج ضمیمه | د موتوري نقلیه وسایلو د ادارې (BMV) نور خدمتونه او سرچینې ........................................................ 70
نوملیک ........................................................ 72

# لومړی څپرکی | د نوي باورليک ترلاسه کول

## باورلیک ته عمومي کتنه

انډیانا موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) درې ډوله باورلیکونه صادروي، چې په لاندې ډول دي:

1. **پېژند کارتونه**
   دا د انډیانا پر شرایطو برابر هر اوسېدونکي لپاره شته دي. پېژند کارتونه له کوم لګښت پرته هغو کسانو ته ورکول کېږي چې په راتلونکو عمومي یا د ښاروالی ټاکنو کې یا له هغې مخکې ۱۸ کاله عمر ولري.
2. **د زده کوونکي اجازه**
   په دې کټګورۍ کې د چلوونکي د زده کوونکي اجازه (چې دلته د زده کوونکي د اجازه په نامه یادېږي)، د موټر سيکل د چلوونکي اجازه، او د سوداګریز زده کوونکي اجازه راځي.
3. **د موټر چلولو جوازونه**
   په دې کټګورۍ کې د موټر چلولو جواز او د سوداګریزې موټر چلولو جواز (CDL) راځي.

ټول هغه باورلیکونه چې د انډیانا هغو اوسېدونکو ته صادرېږي چې تر ۲۱ کلونو کم عمر لري، عمودي بڼه لري او هغه نېټې ښيي چې کارت لرونکی ۱۸ او ۲۱ کلن کېږي. د ستورې یوه نښه په پورتني ښي کونج کې ښکاري چې څرګندوي باورليک له رښتيني پېژند (Real ID) سره مطابقت لري او ښايي د فدرالي موخو لپاره وکارول شي. (د رښتيني پېژند (Real ID) په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې وګورئ)

## د باورليک ډيزاین

په ۲۰۱۹ کال کې انډیانا له نوي ظاهري بڼې او امنيتي ځانګړنو سره د باورليکونو صادرول پيل کړل. اوسني باورليکونه به د کارت پر مخ د پای ته رسېدلو تر چاپ شوې نېټې پورې د باور وړ وي. د انډیانا باورليکونه امنيتي ځانګړتياوې لري چې د قانون پلي کوونکو ته اجازه ورکوي چې کره توب يې معلوم کړي.


د باورليک ټول غوښتنليکونه د جدي امنيتي کتنو له لارې پروسس کېږي څو د هويت د غلا او درغلۍ مخنيوی وکړي. که د تایید پر مهال، BMV ومومي چې غوښتونکي ته د متحده ایالتونو په بل ایالت، سیمه، یا ملکیت، کولمبیا ولسوالی، یا پورتوریکو مشترک المنافع کې بل باورليک صادر شوی، مخکې له دې چې BMV د انډیانا د باورليک لپاره غوښتنليک پروسس کړي، غوښتونکی باید له ایالت څخه بهرنی باورليک تسليم کړي.

د بارولیک د طرزونو د بېلګې انځورونه په ښي لوري کې لیدی شئ.

## رښتينی پېژند (Real ID)

د ۲۰۰۵ کال د رښتيني پېژند (Real ID) قانون د دولت له لوري صادر شويو باورليکونو ته اصغري معيارونه رامنځته کړل. د يوې يادونې په توګه، په باورليکونو کې د موټر چلولو جواز، اجازې او پېژند کارتونه راځي. د دولت له لوري صادر شوي باورليکونه چې دغه معيارونه پوره کوي، په سوداګریزو پروازونو کې د سپرېدلو، پوځي او نورو خوندي فدرالي تاسيساتو ته د ننوتلو په ګډون، فدرالي پېژند یا هویت لپاره منل کېدای شي. د دغو معيارونو موخه د متحد الشکل مستند کولو او انځور اخيستلو د اړتياوو ټاکل، له درغلۍ څخه مخنيوی، او له يو خوندي او مرکزي ځای څخه د چاپولو او استولو لپاره د باروليکونو توليد دی. انډیانا د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ له ۱ نېټې څخه د رښتيني پېژند (Real ID) د قانون له اړتياوو سره مطابقت لري، له همدې امله فدرالي اجرا زموږ هغه ښاروندان نه دي اغېزمن کړي چې له دې نېټې څخه وروسته له رښتيني پېژند (Real ID) مطابق باورليک ورته صادر شوی وي.

د ۲۰۲۲ کال په ډېسمبر کې، د کورني امنيت وزارت (DHS) او د ترانسپورت د امنيت ادارې (TSA) د ۲۰۲۵ کال د مې مياشتې ۷مه نېټه د مهلت په توګه ټاکلې ده چې له هغو کسانو څخه به د رښتيني پېژند (Real ID) مطابق باروليک غوښتل پيلوي، چې غواړي د موټر چلولو د جواز يا د پېژند کارت په کارولو سره په الوتکه کې سپاره شي. د تر ټولو تازه معلوماتو لپاره په DHS.gov پته د کورني امنيت وزارت (DHS) وېب پاڼه وګورئ. د انډیانا موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) سپارښتنه کوي چې ټول ښاريان دې د خپل باورليک د راتلونکي نوي کولو پر مهال يا مخکې، که چېرې د دوی د اوسنی باورليک وخت د ۲۰۲۵ کال د مې مياشتې له ۷مې نېټې له مهلت څخه مخکې پای ته رسيږي، د رښتيني پېژند (Real ID) غوښتنه وکړي. د باورليک د نوي کولو، اصلاح يا بدلولو پر مهال د رښتيني پېژند (Real ID) مطابق باورليک ته د لوړولو لپاره، تاسو باید




د رښتيني پېژند (Real ID) موټر چلوونکي جواز: *له ۲۱ کلونو څخه زيات عمر*




د رښتيني پېژند (Real ID) موټر چلوونکي جواز: *له ۲۱ کلنو څخه کم عمر*

REAL ID
WILL YOUR LICENSE FLY?

د موټوري نقليه وسيلو د اداري (BMV) د څانګې د کتنې پر مهال د خپل هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت د شمېرې، او په انډيانا کې د استوګنې د ثبوت د اسنادو اصلي نسخې يا تصديق شوي نقلونه وړاندې کړئ.

د دې لپاره چې معلومه کړئ چې ايا ستاسو باورليک د ريښتيني پېژند (Real ID) مطابق دی، ويې ګورئ چې په پورتني ښي کونج کې يو ستوری لري او که نه (مهرباني وکړئ په ۱ پاڼه کې د باورليکونو انځورونه وګورئ).

➔ له ريښتيني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکي يو باورليک د ترلاسه کولو لپاره د ټولو اړينو اسنادو د بشپړ لېست لپاره، د دې لارښود الف ضميمه (۶۶ پاڼه) يا REALID.IN.gov وګورئ. که د خپلو اسنادو د ترلاسه کولو په اړه پوښتنه لرئ، د پېرودونکو د خدمتونو له يو استازي سره د خبرو لپاره کولای شئ په 888-692-6841 وريا شمېره د انډيانا موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته زنګ ووهئ.

## د انډيانا د استوګنې اړتياوې

د انډيانا د يو باورليک د ترلاسه کولو لپاره بايد د انډيانا يو قانوني اوسېدونکی اوسئ. د انډيانا د استوګنې په شواهدو کې لاندې موارد راځي:

- په انډيانا کې د استوګنيزې پتې ساتل او په بل ايالت کې د استوګنې دعوه نه کول
- په انډيانا کې يو ثبت شوی رايه ورکوونکی کېدل
- يو اړوند شخص لرل چې په انډيانا کې په يو لومړني يا ثانوي ښوونځي کې يې نوم ليکنه کړې وي

د يو باورليک د ترلاسه کولو موخو لپاره، لاندې کسان د انډيانا اوسېدونکي نه ګڼل کېږي:

- هغه زده کوونکي چې له ثانوي ښوونځي وروسته يو ښوونيزه اداره کې يې نوم ليکنه کړې او انډيانا د خپلې استوګنې د ايالت په توګه نه ګڼي
- په وسله والو ځواکونو کې فعال پوځي کارکوونکي چې انډيانا د خپلې استوګنې د ايالت په توګه نه ګڼي
- موقتي کارکوونکي
- انډيانا د دايمي کور په توګه له ګرځولو پرته نورې موخې

### *د انډيانا نوي اوسېدونکي*

کله چې تاسو د انډيانا اوسېدونکي شئ، ۶۰ ورځې وخت لرئ تر څو د انډيانا د موټر چلولو نوی جواز ترلاسه کړئ.

که مو هېڅکله له بل ايالت څخه د موټر چلولو جواز نه وي اخيستی، مخکې له دې چې وکولای شئ انډيانا د موټر چلولو جواز ته غوښتنه وکړئ، بايد د ۱۸۰ ورځو لپاره د انډيانا د زده کوونکي اجازه ولرئ.

که مو په بل ايالت کې جواز ترلاسه کړی وي، لاندې قوانين پلي کېږي.

**که ستاسو عمر ۱۸ کاله يا زيات وي**

که تاسو لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولرئ او له ايالت څخه بهر د موټر چلولو جواز ولرئ، بايد څانګې ته له لاندې دريو څخه يو توکی يې راوړئ:

- له ايالت څخه بهر ستاسو اوسنی د موټر چلولو جواز،
- ستاسو د موټر چلولو د رسمي سوابقو نقل، يا
- يو تاييد ليک.

که له ايالت څخه بهر ستاسو د موټر چلولو د جواز له پنځو کلونو څخه کم تېر شوي وي، يا که لږ تر لږه د يو کال لپاره د موټر چلولو يو لغوه شوی جواز ولرئ، د انډيانا ايالات د موټر چلولو د جواز ترلاسه کولو لپاره بايد د پوهې ازموينه ورکړئ.

که له ايالت څخه بهر ستاسو د موټر چلولو د جواز وخت له پنځو کلونو څخه زيات تېر شوی وي، انډيانا د موټر چلولو د جواز ترلاسه کولو لپاره بايد د پوهې ازموينه او د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه ورکړئ.

په پورتنيو ټولو کټګوريو کې کسان د انډيانا د موټر چلولو د جواز د ترلاسه کولو لپاره د څانګې د کتنې پر مهال بايد هغه اسناد وړاندې کړي چې ستاسو هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت شمېره، او په انډيانا کې استوګنه ثابتوي. تاسو همدارنګه اړ يئ چې د ليد معياري ازموينه هم په برياليتوب سره تېره کړئ.

**که ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي**

که ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم، خو له ۱۶ کلونو او ۱۸۰ ورځو څخه زيات وي، او لږ تر لږه د ۱۸۰ ورځو لپاره د خپلې استوګنې په پخواني ايالت (ايالتونو) کې له ايالت څخه بهر د موټر چلولو جواز ولرئ، بايد د خپل اوسني له ايالت څخه بهر د موټر چلولو د جواز يا د موټر چلولو د خپلو رسمي سوابقو د وړاندې کولو لپاره موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشئ همدارنګه هغه اسناد هم بايد وړاندې کړئ چې ستاسو هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت شمېره او د انډيانا استوګنه ښيي. له ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي غوښتونکي به د ټولو اړينو اسنادو پر وړاندې کولو سربېره د پوهې ازموينه او د ليد د چاڼ ازموينه هم ورکړي.

➔ *د اضافي تاييد او محدوديت د اړتياوو لپاره، مهرباني وکړئ د دې لارښود ۲ څپرکی وګورئ.*

## د پېژند کارت غوښتنه کول

د پېژند کارت ښايي د انډيانا د هر عمر اوسېدونکي ته چې د موټر چلولو جواز نه لري، ورکړل شي. د انډيانا اوسېدونکي نه شي کولای په ورته وخت کې له يو څخه زيات باورليک ولري، تر دې که له باورليکونو څخه يو يې د بل ايالت له لوري هم صادر شوی وي. له همدې امله، د پېژند د يو کارت لپاره د غوښتنليک د بشپړولو لپاره، بايد بل هر باورليک د انډيانا موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته تسليم کړئ.

د پېژند کارتونه ښايي د موټوري سيکلونو د چلولو لپاره هم امتيازونه وړاندې کړي. (د موټوري سيکل ( MDC– ب تاييد) په دې شرط چې لږ تر لږه ۱۵ کاله عمر ولرئ او يوه MDC د پوهې ازموينه ورکړئ. که دواړه اړتياوې پوره شي، ستاسو پر پېژند کارت به د موټوري سيکل (MDC) يو تاييد زيات شي تر څو ستاسو د چلولو اجازه وښيي.

يو د پېژند کارت غوښتنې لپاره، بايد موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) څانګې ته ورشئ او په الف ضميمه کې تشريح شوي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت شمېره (مګر دا چې د مستثناءيت ادعا ولرئ يا يو بهرنی تبعه اوسئ، چې دواړه يې بديلو اسنادو ته اړتيا لري) او د انډيانا استوګنه ثابتوي.

### *د پېژند کارت اعتبار*

- يو پېژند کارت او د موټوري سيکل (MDC) تاييد د شپږو کلونو لپاره د اعتبار وړ دی.
- هغه پېژند کارتونه چې قانوني موقتي اوسېدونکو ته صادر شوي دي، د غوښتونکي د اوسېدلو د پای په نېټې سره يې وخت پای ته رسيږي، له همدې امله ښايي د اعتبار معياري موده ځرګندې نه کړي.

## د زده کوونکی اجازې

د زده کوونکي اجازه د انډيانا اوسېدونکي ته اجازه ورکوي چې د موټر چلولو جواز ته له غوښتنې څخه مخکې د موټر چلولو تمرين وکړي. تاسو کولای شئ د موټوري نقليه وسيلو د اداري (BMV) په هره څانګه کې د زده کوونکي اجازې ته غوښتنه وکړئ.

که ستاسو عمر ۱۶ کاله يا زيات وي، د زده کوونکي د اجازې ترلاسه کولو لپاره بايد لاندې اړتياوې پوره کړئ:

- په الف ضميمه کې تشريح شوي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت شمېره (مګر دا چې يو بهرنی تبعه اوسئ، چې بديلو اسنادو ته اړتيا لري) او د انډيانا استوګنه ثابتوي
- د معياري ليد د چاڼ کولو ازموينه ورکړئ
- د پوهې ازموينه ورکړئ

که ستاسو عمر له ۱۶ کلونو کم يا زيات وي، د زده کوونکي د اجازې ترلاسه کولو لپاره بايد لاندې اړتياوې پوره کړئ:

- لږ تر لږه بايد ۱۵ کاله عمر ولرئ او د موټر چلولو له روزنيز ښوونځي څخه د موټر چلوونکي د زده کړې د نوم ليکنې د تصديق په وړاندې کولو سره، د موټوري نقليه وسيلو له اداري (BMV) څخه د جواز لرونکي د جلب تر شا روزنې له وړاندې کوونکي سره د خپلې نوم ليکنې ثبوت وښيئ. د تصديق نېټه بايد د ټولګي له پيل څخه تر دريو اونيو ډېره مخکې نه وي. نظري روزنې لپاره د پرليکه (انلاين) کورس تصديق د منلو وړ سند نه دی.
- په الف ضميمه کې تشريح شوي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو هويت، قانوني حالت، د ټولنيز امنيت شمېره (مګر دا چې يو بهرنی تبعه اوسئ، چې بديلو اسنادو ته اړتيا لري) او د انډيانا استوګنه ثابتوي.
- د معياري ليد د چاڼ کولو ازموينه ورکړئ
- د پوهې ازموينه ورکړئ

### خپل د زده کوونکي اجازې سره د موټر چلولو تمرین وکړئ

**که ستاسو عمر له ۱۶ کلونو څخه کم وي او د موټر چلولو د زده کړې په پروګرام کې مو نوم لیکنه کړې وي:**

- کولای شئ یواځې هغه مهال موټر وچلوئ، چې د موټر چلولو یو جواز لرونکی لارښود یا د موټر چلوونکي د روزنې ورکولو تصدیق شوی متخصص، چې هم د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) له لوري پیژندل شوی وي او هم د موټر چلولو د روزنې ورکولو د یو پروګرام له لوري ګمارل شوی وي، ستاسو سره شته وي. لارښود یا د روزنې ورکولو متخصص باید د موټر د سپرلۍ په مخکینۍ څوکۍ کې ناست وي.
- همدارنګه کولای شئ له جواز لرونکي موټر چلوونکي سره د موټر چلولو تمرین وکړئ چې د موټر چلولو اعتباري (چې نېټه یې نه وي تېره، ځنډول شوی نه وي، یا لغوه شوی نه وي) امتیازونه ولري او ۲۵ کاله یا زیات عمر ولري. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید له تاسو سره د وینې، واده یا قانوني حالت له مخې تړاو ولري. همدارنګه کولای شئ د خپل ژوند له ملګري سره د موټر چلولو تمرین وکړئ، چې هغه باید جواز ولري او لږ تر لږه ۲۱ کاله عمر ولري. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید ستاسو د موټر د سپرلۍ په مخکینۍ څوکۍ کې ناست وي.

**که ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي او د موټر چلولو د زده کړې په پروګرام کې مو نوم لیکنه نه وي کړې:**

- کولای شئ له جواز لرونکي موټر چلوونکي سره د موټر چلولو تمرین وکړئ چې د موټر چلولو اعتباري (چې نېټه یې نه وي تېره، ځنډول شوی نه وي، یا لغوه شوی نه وي) امتیازونه ولري او ۲۵ کاله یا زیات عمر ولري. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید له تاسو سره د وینې، واده یا قانوني حالت له مخې تړاو ولري. همدارنګه کولای شئ د خپل ژوند له ملګري سره د موټر چلولو تمرین وکړئ، چې هغه باید جواز ولري او لږ تر لږه ۲۱ کاله عمر ولري. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید ستاسو د موټر د سپرلۍ په مخکینۍ څوکۍ کې ناست وي.
- همدارنګه کولای شئ د موټر چلولو د زده کوونکي له جواز سره د موټر چلولو تمرین وکړئ که داسې یو شخص درسره وي چې د موټر چلولو د روزنیز ښوونځي د لارښود په توګه جواز ولري، چې د موټر چلولو د روزنیز ښوونځي تر لارښوونې لاندې کار کوي، یا د موټر چلوونکي د روزنې ورکولو تصدیق شوی متخصص درسره وي، چې د انډیانا د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) له لوري پیژندل شوی وي او د موټر چلولو د روزنې ورکولو د یو پروګرام له لوري ګمارل شوی وي. لارښود یا د روزنې ورکولو متخصص باید ستاسو د موټر د سپرلۍ په مخکینۍ څوکۍ کې ناست وي.

**که ستاسو عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي او د ماشومانو د خدمتونو د وزارت تر پاملرنې یا څارنې لاندې اوسئ:**

- کولای شئ له جواز لرونکي موټر چلوونکي سره د موټر چلولو تمرین وکړئ چې د موټر چلولو اعتباري (چې نېټه یې نه وي تېره، ځنډول شوی نه وي، یا لغوه شوی نه وي) امتیازونه ولري او ۲۵ کاله یا زیات عمر ولري. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید له تاسو سره د وینې، واده یا قانوني حالت له مخې تړاو ولري.
  - همدارنګه کولای شئ له جواز لرونکي موټر چلوونکي سره د موټر چلولو تمرین وکړئ چې ۲۵ کاله یا زیات عمر ولري او د ماشومانو د خدمتونو د وزارت له لوري تایید شوی وي. جواز لرونکی موټر چلوونکی باید ستاسو د موټر د سپرلۍ په مخکینۍ څوکۍ کې ناست وي.

**که تاسو ۱۸ کاله یا زیات عمر ولرئ:**

- تاسو کولای شئ یواځې هغه وخت د زده کوونکي په اجازې سره د موټر چلولو تمرین وکړئ چې جواز لرونکی موټر چلوونکی درسره وي چې د موټر چلولو اعتباري (چې نېټه یې نه وي تېره، ځنډول شوي نه وي، یا لغوه شوي نه وي) امتیازونه ولري او ۲۵ کاله یا زیات عمر ولري، یا خپل د ژوند ملګری درسره وي په دې شرط چې هغه جواز ولري او ۲۱ کاله یا زیات عمر ولري.

### د زده کوونکي د اجازې اعتبار

1. د زده کوونکي اجازې د صدور له نېټې څخه تر دوو کلونو پورې د اعتبار وړ دي.
2. د زده کوونکي اجازې چې قانوني موقتي اوسېدونکو ته صادرې شوي دي، د غوښتونکي د اوسېدلو د پای په نېټې سره یې وخت پای ته رسېږي، له همدې امله ښایي د اعتبار معیاري مودې څرګندې نه کړي.
3. که د خپلې زده کوونکي اجازې د نوي کولو لپاره د موټوري نقلیه وسیلو (BMV) له یوې څانګې څخه لیدنه کوئ او ستاسو د زده کوونکي د اجازې وخت له ۱۸۰ ورځو څخه زیات تېر شوی وي، تاسو باید بیا ازموینه وکړئ.

## د لید چاڼ کول

د انډیانا د زده کوونکي اجازې یا د چلوونکي د جواز ټول غوښتونکي اړ دي چې د لید چاڼ کول تېر کړي، تر
دې که غوښتونکی غواړي د زده کوونکي شته اجازه یا د موټر چلولو جواز نوی کړي، مګر دا چې
غوښتونکی د برلیکه (انلاین) نوي کولو لپاره وړ وي.

که تاسو په عادي توګه عینکې یا د سترګو لېنزونه کاروئ، باید د موټوري نقلیه وسیلو (BMV) څانګې کارکوونکو ته یې په اړه خبر ورکړئ او د لید چاڼ کولو پر مهال یې وکاروئ. که ستاسو د لید وړتیا د ایالت معیارونه نه پوره کوي، تاسو به اړ اوسئ چې د ازموینې یا معاینې لپاره د سترګو یو ډاکټر ووینئ. که د سترګو له یو ډاکتر څخه له یوې څرګندونې یا بیانیې سره، چې تاییدوي ستاسو لید د دولت د معیار پوره کولو لپاره سم شوی دی، بېرته د موټوري نقلیه وسیلو (BMV) څانګې ته ورشئ، تاسو کولای شئ د موټر چلوونکي د جواز د غوښتنلیک پروسې ته ادامه ورکړئ، چې د موټري نقلیه وسیلو (BMV) په څانګه کې د لید چاڼ کول هم به پکې راشي.

## د پوهې ازموينه

د موټر چلوونکي د پوهې ازموينه د انډيانا د قانون، د دفاعي موټر چلولو د تمرينونو او د موټر چلولو په دې لاربنود کې د معلوماتو پر بنسټ ځو ځوابه ازموينه ده. د موټر چلوونکي د پوهې ازموينه په انډيانا کې د موټر چلولو د امتيازونو د ترلاسه کولو د پروسې يو پړاو دی. د پوهې ازموينې ورکولو (بريالي کېدلو) لپاره، بايد د انډيانا د ترافيکي قوانينو او د خوندي موټر چلولو د تخنيکونو په اړه خپل اساسي پوهاوی څرګند کړئ. همدارنګه بايد د تنظيمي، خبرداري، او ترافيکي نښو او اشارو د لوستلو او پوهېدلو وړتيا هم ولرئ.

د پوهې ازموينه د لاندې مواردو لپاره اړينه ده:

- د زده کوونکي د اجازې د غوښتليکونو لپاره
- د انډيانا نوی اوسېدونکی چې له ايالت څخه بهر د موټر چلولو د جواز وخت يې تېر شوی وي يا يو نوی اوسېدونکی چې له هېواد څخه بهر د اعتبار وړ جواز ولري
- د انډيانا يو اوسېدونکی چې د موټر چلولو د جوزا وخت يې له ۱۸۰ ورځو څخه زيات تېر شوی وي
- يو موټر چلوونکی چې د انډيانا د موټر چلولو په سوابقو کې شپږ يا زياتې فعالې نمرې ولري او خپل د موټر چلولو جواز نوی کوي
- فعال پوځي کارکوونکی، د دوی د ژوند ملګری، او يا د دوی اړوند کسان، چې د هغوی د انډيانا د موټر چلولو د جواز وخت له ۱۸۰ ورځو څخه زيات تېر شوی وي او د نوي کولو له نېټې څخه له ۹۰ څخه ډېرې ورځې مخکې له ماموريت څخه راستون شوی وي
- له ايالت څخه بهر فعال پوځي کارکوونکی چې د موټر چلولو وخت يې د هغوی د سوابقو په پخواني ايالت کې له مجاز پوځي تمديد څخه زيات تېر شوی وي

د انډيانا موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) د سوداګريز موټر چلولو جواز (CDL) غوښتونکو ته چې غواړي ځانګړي عملياتي تاييدونه زيات کړي، يا هغو غوښتونکو ته چې غواړي موټر سيکلونه، موټوري سيکلونه (MDC) وچلوي - ب ډله نقليه وسايل، او چې د کرايي ظرفيت لري - هم د پوهې ازموينه وړاندې کوي.

➔ *په هغه ورځ د پوهې ازموينې ورکولو لپاره بايد د ځانګې له تړل کېدلو څخه لږ تر لږه يو ساعت مخکې ځانګې ته ورسېږئ.*

➔ *که د پوهې په ازموينه کې ناکام شئ، د ازموينې د بيا ورکړې لپاره بايد تر راتلونکي کاري ورځې پورې صبر وکړئ.*

### د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه

که د زده کوونکي اجازه ولرئ او د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) له لوري جواز لرونکي د موټر چلولو په روزنيز ښوونځي کې چې د نقليه وسيلو د ادارې (BMV) د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې پروګرام لري، ګډون کوئ، کولای شئ په برياليتوب سره د کورس له بشپړولو وروسته په ښوونځي کې د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه ورکړئ، چې ۳۰ ساعته نظري روزنې او شپږ ساعته د جلب تر شا روزنه پکې شامله ده. که په برياليتوب سره د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه بشپړه کړئ، چې د موټر چلولو د يو روزنيز ښوونځي له لوري مديريت کېږي، ستاسو د ازموينې پايلې به ستاسو د زده کوونکي د اجازې تر پای ته رسېدلو پورې د اعتبار وړ وي. د موټر چلولو د جواز لرونکو روزنيزو ښوونځيو لېست په IN.gov/BMV کې شته دی.

که له لاندې حالتونو څخه هر يو يې پېښ شي، د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه بايد د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) په يوه ځانګه کې ورکړئ:

- ستاسو د زده کوونکي د اجازې وخت پای ته رسېږي
- د موټر چلولو د ښوونيز کورس په هره برخه کې د ناکامۍ نمرې واخلئ
- ستاسو د موټر چلوونکي روزنيز ښوونځی د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې لپاره د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې په پروګرام کې برخه نه اخلي

که ستاسو د زده کوونکي د اجازې وخت پای ته رسېږي او ستاسو د پوهې له وروستۍ ازموينې څخه له ۱۸۰ ورځو څخه ډېرې تېرې شوې وي، د دې لپاره چې تاسو ته د زده کوونکي نوې شوې اجازه درکړل شي، بايد د پوهې ازموينه بيا ورکړئ. د وخت هغه موده چې تاسو به د زده کوونکي د اعتبار وړ (چې وخت يې نه وي تېر شوی، ځنډول يا لغوه شوی نه وي) اجازه ولرئ په اړينه ۱۸۰ ورځنۍ موده کې شمېرل کېږي.

د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې د وخت د مهالوېش کولو لپاره، IN.gov/BMV وګورئ يا په 6841-692 (888) شمېره د موټري نقليه وسيلو (BMV) د اړيکو مرکز ته زنګ ووهئ. د موټر چلولو د مهارتونو ازموينه د ازموينې له وخت څخه له دريو اونيو څخه زيات او له ۴۸ ساعتونو څخه لږ مخکې نه شي مهالوېش کېدای. که څه هم، تاسو ښايي د جواز له يوې ځانګې څخه په لېدنې سره، ښايي وکولای شئ کتنه لا ژر مهالوېش کړئ. د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې لپاره بايد خپل موټر برابر کړئ. د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې لپاره چې د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) له لوري اداره کېږي، هېڅ لګښت نه لري.

د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) د ازموینې اخیستونکي له لوري اخیستل کېږي، په لاندې مواردو کې ورته اړتیا ده:

- هغه موټر چلوونکي چې د انډیانا د زده کوونکي اجازه لري، مګر دا چې موټر چلوونکي په بریالیتوب سره د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) د جواز لرونکي د موټر چلوونکي ښوونیز پروګرام بشپړ کړی وي او د مهارتونو د ازموینې معافیت ولري
- د انډیانا نوي اوسېدونکي چې له یو کال څخه کم وخت لپاره له ایالت څخه بهر لغوه شوی جواز ولري یا هغوی چې له ایالت څخه بهر د موټر چلوونکي د جواز وخت يې له پنځو کلونو څخه زیات تېر شوی وي
- د انډیانا نوي اوسېدونکي چې له ایالت څخه بهر د موټر چلولو جواز لري
- د انډیانا هغه اوسېدونکي چې د انډیانا د موټر چلوونکي د جواز وخت يې له پنځو کلونو څخه زیات تېر شوی وي
- هغه موټر چلوونکي چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) محدودیت ولري چې ازموینې ته اړتیا لري
- هغه موټر چلوونکي چې د موټوري نقلیه وسیلو له اداري (BMV) سره په دوسیه کې طبي شکایت ولري او هغه کسان چې د دوی لپاره موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) معلومه کړې وي چې د موټر چلولو د مهارتونو ارزونې ته اړتیا ده
- کله چې د موټري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) طبي پلاوی د مهارتونو د ارزونې سپارښتنه وکړي، د موټري نقلیه وسیلو اداره (BMV) ښايي له موټر چلوونکي څخه وغواړي چې د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه بشپړه کړي
- فعال پوځي کارکوونکی او د هغه د ژوند ملګری او یا يې اړوند شخص، که د پلې کېدلو وړ وي، چې د انډیانا د موټر چلوونکي د جواز وخت يې له پنځو کلونو څخه زیات تېر شوی وي، او له نوي کولو نه ۹۰ څخه ډېرې ورځې مخکې له ماموریت څخه راستون شوی وي
- مرخص شوي پوځي کارکوونکی چې له ایالت څخه بهر د موټر چلولو جواز لري چې د وخت تېرېدل یا انقضاء يې له ۹۰ ورځو تمدید څخه هاخوا وي، او وخت يې له پنځو کلونو څخه زیات تېر شوی وي

د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې ورکولو پر مهال، د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له ازموینې اخیستونکي (اخیستونکو) چې د مهارتونو ازموینه اخلي یا د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له اجازه لرونکو کارکوونکو پرته نور هېڅوک اجازه نه لري چې ستاسو په موټر کې وي. ستاسو نقلیه وسیله باید په قانوني توګه مجهزه، بیمه شوې، او په خوندي او پاک حالت کې وي. همدارنګه د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې له ورکولو څخه مخکې باید د خپلې نقلیه وسیلې اوسنی ثبت هم وړاندې کړئ.

د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې لپاره د یوې نقلیه وسیلې ردول د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) د ازموینې اخیستونکي په واک کې دي.

د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې لپاره د نقلیه وسیلې د ردولو د دلیلونو په بېلګو کې لاندې موارد راځي خو تر دې پورې محدود نه دي:

- نقلیه وسیله په سمه توګه نه وي ثبت شوې
- ناخوندي ټایرونه
- د بمپر نه شتون
- ماته شوې ښیینه/هینداره
- دروازه کار نه کوي

مخکې له دې چې تاسو د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه پیل کړئ، د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) ازموینه اخیستونکی به یو څو اړینې پوښتنې وکړي. د ازموینې اخیستونکي دنده د لارښوونو وړاندې کول نه دي، بلکې د هغه څه پر اساس د یوې عادلانه او عیني ازموینې مدیریت کول دي چې وینې يې. د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) ازموینه اخیستونکی به په خوندي توګه د موټوري نقلیه وسیلې د چلولو لپاره ستاسو د وړتیا ارزولو لپاره یوه معیاري شوې فورمه وکاروي.

تاسو به د موټر چلولو د ازموینې د ورکولو پر مهال د لاندې معیارونو پر اساس و ارزول شئ:

- د لین د ننبو په مراعاتولو، په احتیاط سره کنټلو، او د لین له بدلولو مخکې په سمه توګه د اشارې ورکولو یا اشارې ورکولو سره په سم لین کې موټر چلول
- د خپلې نقلیه وسیلې او د مخکینۍ نقلیه وسیلې تر منځ کافي واټن په پام کې نیول
- د خپل سرعت په ساتلو او د عبور لپاره د کافي واټن په رامنځته کولو سره، د بلې نقلیه وسیلې د مخته کېدلو پر وړاندې او له هغې څخه د تېرېدلو پر مهال مناسب غبرګون ښودل
- د سرعت د لګول شویو محدودیتونو او د ترافیکو د بدلېدونکو شرایطو سره سم د خپل سرعت کنټرولول
- د دفاعي موټر چلولو د ښو عادتونو مراعاتول
- لارښوونو ته غوږ نیول او د ترافیکو د عمومي جریان رعایت
- په مناسب سرعت سره تقاطع ته نږدې کېدل، نورو نقلیه وسیلو ته کتل او د اړتیا په حالت کې بشپړ درېدل
- د په شا تللو (رېورس) مهارتونه او له تمځای څخه په سمه توګه په شاتګ

د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې پر مهال، لاندې کړنې کېدای شي ستاسو پر وروستيو نمرو اغېز وکړي يا د موټر چلولو د مهارتونو په ازموينه کې د ناکامېدلو لامل شي:

- د اړتيا پر مهال د يخ لرې کوونکي (defroster) يا واورې پاکوونکي (برف پاکونو) نه کارول
- پر جلب دواړه لاسونه نه ايښودل
- د ناسم ګېر ټاکل
- د اشارې يا سېګنال نه ورکول
- ډېر ورو موټر چلول يا له اړتيا پرته درېدل
- د پلي کسانو د تېرېدلو له کرښې، د درېدلو له کرښې يا د درېدلو له نښې تېرېدل
- سم لين ته يا ورڅخه په تاوېدلو کې پاتې راتلل
- د خپل پټ ټکي (ړانده ټکي، چې نه ليدل کېږي) نه کتل
- د لينونو د بدلولو پر مهال د سرعت کمول
- ډېر چټک په شا تلل
- د لين له بشپړ بدلون وروسته د خپلې اشارې يا سېګنال روښانه پرېښودل
- مخکينۍ نقليه وسيلې يا پارک شوې نقليه وسيلې ته ډېر نږدې موټر چلول

لاندينۍ هره کړنه د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې د اتومات ناکامۍ لامل ګرځي:

- د لومړيتوب د حق، درېدلو، د ښوونځي د سيمې، يا د سرې اشارې د نه روښانه کېدلو نه مراعاتول
- د ترافيکي اشارې يا سېګنال نه رعايت
- د سرک په څنډه په شا ورتلل
- د پارک شوې نقليه وسيلې پر لور د موټر چلول
- د لارښوونو نه تعقيبول
- د خونديتوب يا څوکۍ د کمربند نه کارول
- د موټر چلولو خطرناکو حالتونو ته غبرګون نه ښودل
- سرعت اخيستل
- د شرايطو لپاره ډېر چټک موټر چلول
- ناسم لين ته تاوېدل يا يې کارول
- د نه تېرېدلو (عبور نه کولو) په سيمه کې تېرېدل (عبور کول) يا له يوې ثابتې ژېړې کرښې څخه تېرېدل
- د کوڅې له مرکز څخه کيڼ لورې ته موټر چلول
- په نښو شويو لينونو نيول (له يو څخه زياتو لينونو نيول)
- پلي کسانو يا سايکلونو ته ډېر نږدې موټر چلول
- د بېړنيو حالتونو د نقليه وسيلو يا د ښوونځي د بسونو لپاره په څنډې ته تګ او درېدلو کې پاتې راتلل
- د موټر چلولو د مهارتونو د ازموينې پر مهال د پېښې لامل کېدل
- د لومړيتوب حق نه ورکول
- د RR تقاطعاتو اړوند د اړينو قوانينو نه رعايت

*د موټر چلولو د مهارتونو په ازموينه کې له ناکامېدلو وروسته ادامه ورکول د موتوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) د ازموينې اخيستونکي په واک کې دي.*

**که د موټر چلولو د مهارتونو په ازموينه کې ناکام شئ، بايد ۷ ورځې صبر وکړئ تر څو وکولای شئ بيا ازموينه ورکړئ.** د زده کوونکي د اجازې په لرلو سره درې ځلې د موټر چلولو د مهارتونو په ازموينه کې له ناکامۍ وروسته، د ازموينې له بيا ورکولو مخکې د موټر چلولو د مهارتونو د وروستۍ ناکامې ازموينې له نېټې څخه وروسته بايد د دوو مياشتو لپاره صبر وکړئ.

## د ټپي کېدلو يا زيان لپاره مالي مسؤوليت

د زده کوونکي د اجازې يا د موټر چلولو د ازمايښتي جواز د غوښتونکو لپاره چې عمر يې له ۱۸ کلونو څخه کم وي، له لاندې لويانو څخه يو يې بايد د موتوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) په يوه څانګه کې په حضوري توګه د مالي مسؤوليت سوګند يا تاييد شوی بيان لاسليک کړي. د (IC 9-24-9-3) د لومړيتوب قانوني ترتيب عبارت دی له:

1. مور او پلار چې د کوچني غوښتونکي سرپرستي کوي يا د سرپرست مور او پلار له لورې ټاکل شوی يو استازی

**.2** د کوچني غوښتونکي غیر سرپرست مور او پلار (لکه څرنګه چې په IC 31-9-2-83 کې تعریف شوي) یا د غیر سرپرست مور او پلار له لوري تاکل شوی استازی

**.3** هغه سرپرست چې د کوچني غوښتونکي سرپرستي کوي

**.4** له یو (۱) څخه تر درې (۳) کربنو پورې د تشریح شویو کسانو د نشتون په حالت کې، هر بل لوی شخص چې د دې څپرکي (IC 9-24-9) په موادو کې د وضع شویو مکلفیتونو منلو ته لېواله وي.

یو لوی شخص چې د مالي مسؤولیت لپاره په ګډه لاسلیک کوي، سوګند خوري یا د کوچني غوښتونکي لپاره مالي مسؤولیت تاییدوي او هوکړه کوي چې له کوچني غوښتونکي سره په ګډه او انفرادي توګه به د ټولو هغو زیانونو لپاره مسؤول وي چې ښایي د موټوري نقلیه وسیلې د چلولو له امله رامنځته شي. هغه لوی شخص چې د مالي مسؤولیت لپاره په ګډه لاسلیک کوي، کله چې کوچنی غوښتونکی د زده کوونکي اجازې یا د موټر چلوونکي د جواز لپاره غوښتنه کوي، باید د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) د هویت د اسنادو له لېښت څخه د هویت یو باوري ډول موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) ته وړاندې کړي. که په هر وخت کې او په هر دلیل، هغه لوی شخص چې د مالي مسؤولیت لپاره په ګډه لاسلیک کوي، وغواړي چې د کوچني شخص لپاره خپل مالي مسؤولیت بېرته واخلي، لوی شخص کولای شي 55834 ایالتي فورم - د مالي مسؤولیت د لغوه کولو لپاره لیکلي غوښتنه ثبت کړي، چې د انډیانا د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په ویبپاڼه کې شته ده. د مالي مسؤولیت د لغوه کولو لپاره لیکلي غوښتنه به د کوچني شخص د زده کوونکي اجازه یا د موټر چلولو جواز لغوه کړي [IC 9-24-9-4(b)].

که غوښتونکی له ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولري او وکولای شي د دې ثبوت وړاندې کړي چې د ماشومانو د پاملرنې وزارت (DCS) تر پاملرنې او څارنې لاندې دی، د موټر چلوونکي د جواز یا د زده کوونکي د اجازې لپاره د کوچني شخص پر غوښتنلیک د یو لوی شخص لاسلیک ته اړتیا نشته ده. که د ماشومانو د پاملرنې وزارت (DCS) غوښتونکی د موټر چلولو د جواز یا د زده کوونکي د اجازې غوښتنه کوي، غوښتونکی باید د موټوري نقلیه وسیلې د بیمې د پالیسۍ ثبوت هم وړاندې کړي چې د انډیانا په قانون کې د حد اقل مسؤولیت لپاره ټاکل شوي معیارونه پوره کوي. د دې لارښود ۵ څپرکی له بیمې پرته د یوې موټوري نقلیه وسیلې د چلولو لپاره د بیمې اړتیاوې او جزاوې په لا جزییاتو سره تر پوښښ لاندې نیسي.

### د موټر چلولو د جواز غوښتنه

د موټر چلولو د جواز دوه ډولونه دي چې تاسو ښایي غوښتنه یې وکړئ: د موټر چلولو جواز یا د سوداګریز موټر چلولو جواز.

- که ستاسو عمر له ۲۱ کلونو څخه کم وي، ستاسو د موټر چلولو "ازمایښتي " جواز ګڼل کېږي. د موټر چلولو د ازمایښتي جوازونو په اړه نور معلومات په ۹مه پاڼه کې دي.
  - تاسو باید لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولرئ چې د سوداګریز موټر چلولو د جواز (CDL) غوښتنه وکړئ او باید لږ تر لږه ۲۱ کاله عمر ولرئ چې له سپرلۍ (مسافرو) او یا خطرناکو موادو له تاییدونو سره د سوداګریز موټر چلولو د جواز (CDL)غوښتنه وکړئ.

د موټر چلولو د جواز د هر ډول او د بېلابېلو اړتیاوو، تاییدونو، او محدودیتونو په اړه لنډ توضیحات په ادامه کې راځي. همدارنګه هره موضوع په دې څپرکي او په ۲ څپرکي کې په لا جزییاتو سره تر پوښښ لاندې راوستل شوې ده.

### *د موټر چلولو د جواز غوښتنه*

په عمومي توګه، د موټوري نقلیه وسیلو (BMV) په هره څانګه کې کولای شئ د موټر چلولو د جواز غوښتنه وکړئ. د موټر چلولو د جواز تر لاسه کولو لپاره باید لاندې اړتیاوې پوره کړئ:

- د موټر چلولو د جواز لپاره د عمر اړتیاوې پوره کړئ، چې په دې څپرکي کې توضیح شوي دي
- په دې څپرکي کې وروسته توضیح شوي مودې لپاره د انډیانا د زده کوونکي اعتباري اجازه ولرئ، مګر دا چې اوس له یوې بلې قضایي حوزې څخه د موټر چلولو جواز ولرئ چې وخت یې نه وي تېر شوی
  - په الف ضمیمه کې تشریح شوي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو هویت، قانوني حالت، د ټولنیز امنیت شمېره (مګر دا چې یو بهرنی تبعه اوسئ چې ښایي بدیلو اسنادو ته اړتیا ولرئ) او په انډیانا کې استوګنه ثابتوي.
  - د معیاري لید د چاڼ کولو ازموینه ورکړئ
  - د موټر چلولو د هغه جواز لپاره د پوهې ازموینه ورکړئ چې غواړئ تر لاسه یې کړئ (باید د مهارتونو له ازموینې څخه مخکې بشړه شي)
- د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) یو ازموینه اخیستونکي ته د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه ورکړئ، مګر دا چې د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې د مستثناءیت وړ اوسئ

### *د موټر چلولو د جواز لپاره د عمر او تجربې اړتیاوې*

د موټر چلولو د جواز د غوښتنې لپاره:

- باید لږ تر لږه ۱۶ کاله او ۹۰ ورځې عمر ولرئ او د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) جواز لرونکی د موټر چلولو ښوونیز پروګرام مو بشپړ کړی وي
  - باید لږ تر لږه ۱۶ کاله او ۲۷۰ ورځې عمر ولرئ پرته له دې چې د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) جواز لرونکی د موټر چلولو ښوونیز پروګرام مو بشپړ کړی وي

- بايد لږ تر لږه د ۱۸۰ ورځو لپاره د انډيانا د زده کوونکي اعتباري (چې وخت يې نه وي تېر، ځنډول شوي يا لغوه شوي نه وي) اجازه ولرئ، يا
- بايد لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولرئ او مستند شوي معلوليت ولرئ، د موټوري نقليه وسيلو د ادارې له لوري (BMV) پېژندل شوي د موټر چلولو د وړتيا ورکولو د متخصص له لوري د موټر چلولو د وړتيا ترلاسه کولو روزنه مو ترلاسه کړې وي.

**که د موټر چلولو د جواز غوښتنه کوئ او لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر لرئ**، بايد د لاندې يو شخص تر څارنې لاندې لږ تر لږه ۵۰ ساعته د موټر چلولو تمرين بشپړ کړئ:

- يو جواز لرونکی موټر چلوونکی، چې د موټر چلولو اعتباري (چې وخت يې نه وي تېر، ځنډول يا لغوه شوي نه وي) امتيازونه ولري او عمر يې لږ تر لږه ۲۵ کاله وي، يا
- ستاسو د ژوند ملګرې چې د موټر چلولو اعتباري امتيازونه ولري او عمر يې لږ تر لږه ۲۱ کاله وي

په دواړو حالتونو کې، لږ تر لږه ۱۰ ساعته تر څارنې لاندې د موټر چلولو تمرين بايد په شپه کې بشپړ شي، مګر دا چې د زده کوونکي په خپله اجازه کې يواځې د ورځې محدوديت (G محدوديت) ولرئ. که د زده کوونکي په خپله اجازه کې يواځې د ورځې محدوديت لرئ، بايد لا هم لږ تر لږه تر څارنې لاندې ۵۰ ساعته د موټر چلولو تمرين بشپړ کړئ.

د موټر چلولو د جواز د غوښتنليک په وخت کې، بايد بشپړ شوی 54706 ايالتي فورم - تر څارنې لاندې د موټر چلولو د تمرين راپور واستوئ، چې د موټر چلولو د تمرين د ۵۰ ساعتونو ثبوت ښيي. د اړتيا په حالت کې، کېدای شي ګڼ راپورونه وکاروئ څو د اړينو ساعتونو راپور ورکړئ. که د غوښتونکي عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي، راپور بايد د مور او پلار څخه د يو يا د قانوني سرپرست له لوري لاسليک شي.

### *د موټر چلولو د جواز اعتبار*

د موټر چلولو جوزا د اعتبار وړ دی لپاره د:

- د شپږو کلونو که ستاسو عمر له ۷۵ کلونو څخه کم وي
- د درېو کلونو لپاره که ستاسو عمر له ۷۵ څخه تر ۸۴ پورې وي
- د دوو کلونو لپاره که ستاسو عمر لږ تر لږه ۸۵ کاله وي

د موټر چلولو جواز ښايي د اعتبار معياري موده و نه ښيي لپاره د:

- قانوني موقتي اوسېدونکو

### *د ازمايښتي موټر چلولو اړتياوې*

**که د موټر چلولو د ازمايښتي جواز غوښتنه کوئ او لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر لرئ**، بايد د لاندې يو شخص تر څارنې لاندې لږ تر لږه ۵۰ ساعته د موټر چلولو تمرين بشپړ کړئ:

- يو جواز لرونکی موټر چلوونکی، چې د موټر چلولو اعتباري (چې وخت يې نه وي تېر، ځنډول يا لغوه شوي نه وي) امتيازونه ولري او عمر يې لږ تر لږه ۲۵ کاله وي، له تاسو سره د وينې، واده يا قانوني حالت له مخې تړاو ولري
- ستاسو د ژوند ملګرې چې د موټر چلولو اعتباري امتيازونه ولري او عمر يې لږ تر لږه ۲۱ کاله وي
- يو شخص چې د موټر چلولو اعتباري امتيازونه لري، د موټر چلولو د روزنيز ښوونځي د لارښود په توګه جواز ولري او د موټر چلولو د يو روزنيز ښوونځي تر لارښوونې لاندې کار کوي، يا
- يو شخص چې د موټر چلولو د وړتيا ورکولو د متخصص په توګه د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) له لوري تصديق شوی وي او د موټر چلولو د وړتيا ورکولو د يو پروګرام له لوري ګمارل شوی وي

### *د موټر چلولو د ازمايښتي جواز اعتبار*

**که د موټر چلولو د جواز تر لاسه کولو پر مهال له ۲۱ کلونو څخه کم عمر ولرئ**، ستاسو د موټر چلولو جواز تر هغې ازمايښتي ګڼل کېږي چې ۲۱ کلن شوي نه اوسئ. ستاسو د موټر چلولو ازمايښتي جواز تر هغې د اعتبار وړ دی تر څو چې عمر مو ۲۱ کاله او ۳۰ ورځې شي. تاسو ښايي تر هغې خپل د موټر چلولو ازمايښتي جواز نوی نه کړئ چې عمر مو ۲۱ کاله او يوه ورځ نه وي شوی.

### *د موټر چلولو د ازمايښتي جواز د سپرلۍ (مسافرو) محدوديتونه*

د موټر چلولو د خپل ازمايښتي جواز له ترلاسه کولو وروسته د لومړيو ۱۸۰ ورځو لپاره نه شئ کولای له سپرليو سره موټر وچلوئ، مګر دا چې له لاندې کسانو څخه يو يې ستاسو د موټر د سپرلۍ په مخکينۍ څوکۍ کې ناست وي:

- يو جواز لرونکی شخص چې د موټر چلولو اعتباري (چې وخت يې نه وي تېر، ځنډول شوي يا لغوه شوي نه وي) امتيازونه ولري او عمر يې ۲۵ کاله يا زيات وي،
- ستاسو د ژوند ملګرې چې د موټر چلولو اعتباري امتيازونه ولري او عمر يې ۲۱ کاله يا زيات وي، يا
- يو شخص چې د موټر چلولو د روزنيز ښوونځي د لارښوونکي جواز ولري

که څه هم، ښايي د موټر چلولو د خپل ازمايښتي جواز له تر لاسه کولو وروسته په لومړيو ۱۸۰ ورځو کې له یو بل ملتيا کوونکي شخص څخه پرته له خپل ماشوم، ناسکه ماشوم، ورور يا خور، ناسکه خور يا ورور يا د ژوند له ملګري سره موټر وچلوئ.

### د موټر چلولو د ازمايښتي جواز د وخت محدوديتونه

د موټر چلولو د خپل ازمايښتي جواز تر لاسه کولو وروسته په ۱۸۰ لومړيو ورځو کې، نه شئ
کولای چې د شپې د ۱۰ بجو څخه د سهار تر ۵ بجو پورې موټر وچلوئ.

د ۱۸۰ ورځو لپاره د موټر چلولو د ازمايښتي جواز له لرلو وروسته، تاسو نه شئ کولای د لاندې ساعتونو تر منځ موټر وچلوئ:

- يکشنبه تر پنجشنبه د شپې له ۱۱ بجو وروسته
- دوشنبه تر جمعه د سهار له ۵ بجو څخه مخکې
- شنبه او يکشنبه د شپې له ۱ بجې څخه د سهار تر ۵ بجو پورې

په لاندې ځايونو کې د ګډون، تللو يا بېرته راتللو په مودو کې کولای شئ په پورتنيو وختونو کې موټر وچلوئ:

- قانوني دنده
- د ښوونځي تاييد شوی فعاليت
- يوه مذهبي پېښه، يا
- که یو شخص چې د موټر چلولو اعتباري (چې وخت يې تېر شوی، ځنډول شوي يا لغوه شوي نه وي) امتيازونه ولري او عمر يې ۲۵ کاله وي، يا ستاسو د ژوند ملګری چې د موټر چلولو اعتباري امتيازونه ولري او عمر يې ۲۱ کاله وي، ستاسو ملتيا کوي.

### د موټر چلولو د ازمايښتي جواز د مخابراتي وسايلو ممنوعيت

د انډيانا قانون د موټر چلولو د ازمايښتي جواز لرونکو په ګډون ټول چلوونکي د هر ډول مخابراتي وسايلو د کارولو
پر مهال له موټر چلولو څخه منع کوي، لکه بې سيم تليفون، شخصي ډيجيټل مرستندوی، پېجر يا د ليکلي پيغام استولو
وسيله مګر دا چې وسيله ۹۱۱ بېړني زنګ لپاره کارول کېږي.

### ښوونځی پرېښودل، ځنډول يا له ښوونځي څخه ايستل کېدل

د انډيانا قانون موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) اړ کوي چې د يو تنکي ځوان د موټر چلولو امتيازونه د تنکي ځوان د ښوونځي د مدير له لوري د لاندې کوم لامل له امله له خبرتيا ورکولو وروسته وځنډوي:

- تنکی ځوان د ښوونځي د يو کال په موده کې تر اخراج، محروميت، يا دويم يا ورپسې ځنډولو لاندې وي
- معلومه شي چې تنکی ځوان له ښوونځي څخه عادتي تېښتېدونکی دی، يا
- تنکي ځوان ښوونځی پرېښی دی

### د موټر چلولو نامحدود جواز ته د موټر چلولو د ازمايښتي جواز نوي کول

کله چې له ۲۱ کلن کېدلو وروسته د موټر چلولو خپل ازمايښتي جواز نوی کوئ، د موټر چلولو يو نامحدود جواز به تر لاسه کړئ. د موټر چلولو يو نامحدود جواز په دې برخه کې مخکيني ځرګند شوي محدوديتونه لرې کوي چې د موټر چلولو د ازمايښتي جواز پر لرونکو وضع کېږي. د موټر چلولو د نامحدود جواز لرونکو بايد تل د خونديتوب له عامه محدوديتونو او ممنوعيتونو څخه خبر وي چې د موټري نقليه وسيلو پر ټولو موټر چلوونکو پلي کېږي پرته له دې چې په ۱۱مه پاڼه کې د دوی د جواز ليکل شوی ډول په پام کې ونيول شي.

#### د زړه کوونکی سوداګريزه اجازه او د سوداګريز موټر چلولو جواز

د زده کوونکي د سوداګريزې اجازې (CLP) يا د سوداګريز موټر چلولو جواز (CDL) د غوښتنې لپاره بايد لږ تر لږه
۱۸ کاله عمر ولرئ. له ۲۱ کلونو د کم عمر لرونکي موټر چلوونکي کولای شي يوازې د ايالت دننه سوداګريزې
موټوري نقليه وسيلې وچلوي او د سپرلی (مسافرو)، ښوونځي د بس، يا د خطرناکو موادو د تاييدونو د غوښتنې لپاره وړ
نه دي.

د انډيانا د سوداګريز موټر چلولو جواز (CDL) جواز لرونکي ته دا امکان ورکوي چې له ۲۶،۰۰۰ پونډه څخه زيات ناخالص ځرګند شوي وزن سره سوداګريز موټوري نقليه وسيلې يا د نقليه وسيلو ترکيب، لکه نيمه-تراکتور ټريلر وچلوي؛ هغه نقليه وسيلې چې د چلوونکي په ګډون د ۱۶ يا زياتو کسانو د لېږد لپاره ډيزاين شوي يا کارول کېږي، او هغه نقليه وسيلې چې د خطرناکو موادو د لېږد لپاره کارول کېږي، په دې شرط وچلوي چې جواز لرونکی په خپل جواز کې مناسب ټولګی يا طبقه او تاييد (تاييدونه) ولري.

- د زده کوونکي د سوداګريزې اجازې (CLP) يا د سوداګريز موټر چلولو د جواز (CDL) ترلاسه کولو په اړه زيات معلومات په IN.gov/BMV کې يا د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) له يوې څانګې څخه په ليدني سره موندلای شئ.

## له عکس څخه مستثناء باورليکونه

د طبي يا مذهبي لاملونو له امله له عکس مستثناء د زده کوونکي اجازې يا د موټر چلولو جوازونه شته دي. له عکس څخه مستثناء د هويت کارتونه يواځې د مذهبي لاملونو لپاره د لاسرسي وړ دي. له خپلو اړتياوو سره سم له عکس څخه مستثناء باورليک ترلاسه کولو په موخه د ځانګړو اړينو اسنادو لپاره IN.gov/BMV ته مراجعه کولای شئ. د عکس د استثناء لرې کولو لپاره، بايد د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) يوې څانګې ته ورشئ څو د يو نوي يا اصلاح شوي باورليک لپاره مو عکس واخلي.

## د پُست له لارې د خپل باورليک ترلاسه کول

وروسته له دې چې د نوي، نوي (تجديد) شوي، اصلاح شوي، يا بديل باورليک غوښتنه وکړئ، ستاسو دايمي باورليک به له يو خوندي مرکزي ځای څخه د پُست له لارې درته واستول شي. ستاسو باورليک به د موټوري نقليه وسيلو له ادارې سره (BMV) په دوسيه کې شته پُستي پتې ته استول کېږي او ستاسو پُستي پتې ته به په ۱۴ تقويمي ورځو کې ورسېږي.

مهرباني وکړئ په ياد ولرئ، باورليکونه د موټوري نقليه وسيلو له ادارې سره (BMV) په دوسيه کې شته پُستي پتې ته استول کېږي او بيا نه استول کېږي. **که مو خپله پُستي پته په موقتي يا دايمي توګه د متحده ايالتو له پُستي خدمتونوسره بدله کړې وي، بايد د موټوري نقليه وسيلو له ادارې (BMV) سره هم خپله پُستي پته اوسمهالي يا تازه کړئ.** په دې کار کې پاتې راتګ به تاسو ته باورليک د لېږدونې مخنيوی وکړي. کولای شئ خپله پُستي پته د انډيانا د موټوري نقليه وسيلو له ادارې (BMV) سره د يادې ادارې په يوه څانګه، IN.gov/BMV، يا د BMV Connect کيوسک له لارې مهالنی کړئ.

## د عامه خونديتوب محدوديتونه او بنديزونه

### *د خونديتوب کمربند*

د انډيانا قانون د خونديتوب له کمربند، چې د جوړوونکي له لوري نصب شوي معياري تجهيزات دي، سره مجهزې يوې موټوري نقليه وسيلې ټولې سپرلۍ اړ کوي هر کله چې موټوري نقليه وسيله په حرکت کې وي، د خونديتوب کمربند واغوندي.

### *د مخابراتي وسايلو ممنوعيت*

د انډيانا قانون د موټوري نقليه وسيلې د چلولو پر مهال د متني يا برېښناليک پيغام له ليکلو، استولو، يا لوستلو لپاره د مخابراتي وسيلې له کارولو څخه منع کوي، مګر دا چې وسيله له لاس پرته (hands-free) يا په غږ سره کارول کېدونکې (voice-operated) ټېکنالوژۍ سره کارول کېږي يا ۹۱۱ بېړنۍ شمېرې ته د زنګ وهلو لپاره کارول کېږي.

د انډيانا قانون مخابراتي وسيله د برېښنايي يا ډيجيټل وسيلې په توګه تعريفوي، لکه بې سيم تليفون، شخصي ډيجيټل مرستندوی، پيجر، يا د متني پيغامونو وسيله. په دې تعريف کې د ښاروندانو د راډيويي څپو (CB) تجهيزات نه راځي چې د فدرالي اړيکو له کميسيون څخه د ښاروندانو د راډيويي څپو (CB) د چلوونکي په توګه جواز لرونکي شخص يا له ۱۰،۰۰۰ پونډ څخه زيات وزن لرونکي سوداګريزه موټوري نقليه وسيله کې د نصب شوي مخابراتي سيستم له لوري کارول کېږي. د موټوري نقليه وسيلې د چلولو پر مهال د مخابراتي وسيلې د کارولو پر مهال ښايي ستاسو د موټر چلولو په سوابقو کې نمرې درته وټاکل شي.

# دويم څپرکی | محدودیتونه او تاییدونه

## محدودیتونه او تاییدونه

ښايي د مختلفو لاملونو له امله پر یو باورلیک محدودیتونه او تاییدونه ولګول شي. محدودیتونه او تاییدونه ستاسو د باورلیک په ښکتني چپ لوري کونج کې ښکاري او ستاسو د باورلیک پر شا تشریح شوي دي.
د ځانګړو محدودیتونو او تاییدونو په اړه اضافي معلومات په IN.gov/BMV کې موندل کېدای شي.

تر ټولو عمده محدودیتونه د لید د چاڼ کولو له امله دي. ځیني عمده محدودیتونه چې د لید له امله د زده کوونکي پر اجازه او د موټر چلولو پر جواز لګول کېږي، لاندې موارد پکې راځي:

- **Bمحدودیت:** د موټر چلولو پر مهال عینکو یا د سترګو لېنز ته اړتیا ده
- **Fمحدودیت:** د موټر چلولو پر مهال د شا لید (عقب نما) بهرنیو هېنداړو ته اړتیا ده
- **Gمحدودیت:** یواځې په ورځ کې موټر چلول

| | |
|---|---|
| **د هغو موټر چلوونکو لپاره محدودیتونه چې له عینکو پرته لوستل کوي** | |
| **هېڅ** | دواړه سترګې ۲۰/۲۰ تر ۴۰/۴۰ دي |
| **F** | یوه سترګه ۲۰/۲۰ نه تر ۴۰/۲۰ ده او بله سترګه ۵۰/۲۰ نه تر ړندي پورې ده |
| **د هغو موټر چلوونکو لپاره محدودیتونه چې له عینکو سره لوستل کوي** | |
| **BF** | یوه سترګه ۲۰/۲۰ نه تر ۴۰/۲۰ او بله سترګه ۵۰/۲۰ نه تر ړندي پورې ده |
| **B** | دواړې سترګې ۴۰/۲۰ دي |
| **BFG** | یوه سترګه ۵۰/۲۰ او بله سترګه ۷۰/۲۰ نه تر ړندي پورې ده |
| **BFG** | دواړې سترګې ۷۰/۲۰ دي |

***په نورو محدودیتونو کې لاندې موارد راځي:***

| | |
|---|---|
| **د موټر چلولو د اساسي جواز محدودیتونه** | |
| B | عینکې او د سترګو لېنزونه |
| C | میخانیکي مرسته یا تطبیقي وسیله |
| D | پروتز یا مصنوعي مرسته |
| F | د شالید (عقب نما) بهرنۍ هېنداره |
| G | یواځې د ورځې موټر چلول |
| H | M/C یواځې درې څرخه سایکل |
| J | ځانګړې محدودیتونه |
| S | M/C یواځې د څنګ له موټر سره |
| 2 | HTV مشروط |
| 3 | له عکس مستثنا |
| 5 | مشروط: تر ځانګړو شرایطو لاندې چلول |
| 6 | انټرلاک وسیله (Interlock Device) |
| 7 | د خوندیتوب له کمربند څخه مستثناء |
| 8 | طبي شرایط |
| 9 | قانوني موقتي اوسېدونکی |

| | |
|---|---|
| **د موټر چلولو د اساسي جواز تاییدونه** | |
| L | موټرسیکل |
| 2 | د کرایي لپاره |
| **د پېژند کارت محدودیتونه** | |
| B | په موتور چلېدونکی سیکل |
| **د پېژند محدودیتونه** | |
| 3 | له عکس څخه مستثناء |
| 7 | د خوندیتوب له کمربند څخه مستثناء |

## پر یو باورلیک د ځانګړو اړتیاوو محدودیتونه

د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) ازموینه اخیستونکی ټاکي چې ایا معلولیت لرونکي شخص ته، چې معلولیت یې د معیاري تجهیز شوې نقلیه وسیلې پر عادي چلولو اغېزکوي، له محدودیتونو سره د موټر چلولو جواز صادري کړي. د موټر چلولو محدود جواز ښایي هغه ځانګړي تجهیزات مشخص کړي چې موټر چلوونکی د نقلیه وسیلې د چلولو پر مهال ورته اړتیا لري، یا د شخص د ځانګړو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نور محدودیتونه مشخص کړي.

## د موټرسیکل د زده کوونکی اجازه

د موټر سیکل د زده کوونکي اجازه د انډیانا اوسېدونکو ته اجازه ورکوي چې د موټرسیکل د تایید لپاره له غوښتنې څخه مخکې د موټرسیکل چلولو تمرین وکړي. تاسو کولای شئ د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) په هره څانګه کې د موټرسیکل د زده کوونکي د اجازې غوښتنه وکړئ. د موټر سیکل د زده کوونکي د اجازې ترلاسه کولو لپاره تاسو باید:

- د انډیانا د موټر چلولو اعتباري جواز ولرئ
- د موټرسیکل چلوونکي د لارښود پر اساس د پوهې ازموینه ورکړئ

### *د موټر سیکل د زده کوونکي د اجازې د چلولو امتیازونه*

که د موټرسیکل د زده کوونکي اجازه ولرئ او وغواړئ چې موټرسیکل وچلوئ، د نقلیه وسیلې د چلولو پر مهال باید خولی پر سر کړئ او کولای شئ له سپرلي پرته له لمر ختلو نیم ساعت مخکې او له لمر لویدلو نیم ساعت وروسته موده کې یې وچلوئ.

### *د موټرسیکل د زده کوونکي د اجازې اعتبار*

د موټرسیکل د زده کوونکي اجازه د صادرېدلو له نېټې څخه تر یو کال پورې اعتبار لري. د موټرسیکل د زده کوونکي اجازه یو ځل د یو کال د مودې لپاره نوې کېدای شي. که د نوې شوې اجازې د وخت له تېرېدلو څخه مخکې د موټرسیکل تایید ترلاسه نه کړئ، باید یو کال صبر وکړئ څو د موټرسیکل د زده کوونکي د نوې اجازې غوښتنه وکړئ، یا باید د Ride Safe Indiana له لوري د کورس له یو تایید شوي چمتو کوونکي سره په بریالیتوب د موټرسیکل د خوندیتوب کورس بشپړ کړئ. د کورس د تایید شویو چمتو کوونکو لېست په RideSafeIndiana.com کې موندل کېدای شي.

## د موټرسیکل تایید

د موټرسیکل تایید ښایي د انډیانا یو اوسېدونکي ته صادر شي چې د انډیانا د موټر چلولو اعتباري جواز لري. که د لومړي ځل لپاره خپل د انډیانا د موټر چلولو جواز ترلاسه کوئ، کولای شئ په ورته وخت کې د موټرسیکل تایید ترلاسه کړئ، په دې شرط چې ۱۶ کاله او ۹۰ ورځې یا زیات عمر ولرئ او د موټرسیکل د خوندیتوب کورس مو بشپړ کړی وي.

د موټر سیکل د تایید ترلاسه کولو لپاره، د هر عمر موټر چلوونکي باید د Ride Safe Indiana له لوري تایید شوي د کورس له وړاندي کوونکي سره په بریالیتوب د موټرسیکل د خوندیتوب کورس بشپړ کړي یا د موټرسیکل د پوهې او د چلولو د مهارتونو ازموینې ورکړي.

د انډیانا نوي اوسېدونکي چې له یو بل ایالت څخه د موټرسیکل اعتباري تایید یا د موټر سیکل چلولو جواز لري، د موټرسیکل د پوهې له ازموینې ورکولو څخه وروسته ښایي خپل د انډیانا د موټر چلولو جواز ته د موټرسیکل تایید زیات کړي.

ستاسو د انډیانا د موټرسیکل تایید ستاسو د انډیانا د موټر چلولو د جواز سره د ورته مودې لپاره د اعتبار وړ دی. کولای شئ خپل د موټر چلولو جواز د موټرسیکل له تایید سره د جواز د وخت له تېرېدلو څخه تر دوو کالو مخکې پورې د انډیانا د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) په هره څانګه کې یا پرلیکه (انلاین) نوی کړئ. که اوس د موټرسیکل له تایید سره د موټر چلولو جواز ولرئ چې وخت یې نه وي تېر شوی، د خپل جواز د نوي کولو پر مهال به اړ نه اوسئ چې د تایید لپاره د فیس پیسې ورکړئ.

د انډیانا موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) تاسو په کلکه هڅوي چې د Ride Safe Indiana له لوري تایید شوي د کورس چمتو کوونکي له لوري وړاندې کېدونکي د موټرسیکل د خوندیتوب په یو کورس کې ګډون وکړئ. د موټرسیکل د تایید ترلاسه کولو د څرنګوالي، د موټرسیکل د خوندیتوب او روزنیزو کورسونو، یا د چلولو د مهارتونو د ازموینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ، RideSafeIndiana.com وګورئ.

## په موټور چلېدونکی سیکل (MDC)

| ***MDC – په موټور چلېدونکی سیکل*** |
|---|
| د انډیانا قانون یو نقلیه وسیله په موټور چلېدونکي سیکل (MDC) په توګه تعریفوي که:<br><br>• د چلوونکي لپاره څوکی یا زین ولري<br>• داسې ډېزاین شوی وي چې له ځمکې سره په اړیکه کې له دریو څخه په زیاتو څرخونو حرکت و نه کړي<br>• د موټوري نقلیه وسیلو اړوند د پلې کېدلو وړ ایالتي او فدرالي اړتیاوو سره مطابقت لري<br>• د سلنډر ظرفیت یې له ۵۰ سانتي متر مکعب څخه زیات نه وي<br>• د MDC یا B – MDC ټولګي یا طبقې په توګه ثبت شوي وي |
| که د MDC د پوهې ازموینه په بریالیتوب سره تېره کړئ، کولای شئ د خپل هویت پر کارت د MDC د تایید غوښتنه وکړئ. د MDC تایید به د راتلونکي صدور په موده کې ستاسو د هویت کارت ته زیات شي. که د انډیانا اعتباري (چې وخت یې نه وي تېر، ځنډول یا لغوه شوي نه وي) د زده کوونکي اجازه یا د موټر چلولو جواز ولرئ، د MDC تایید ته اړتیا نه لرئ.<br><br>لاندې محدودیتونه د MDC پر چلولو پلې کېږي:<br><br>• باید لږ تر لږه ۱۵ کاله عمر ولرئ<br>• که مو عمر له ۱۸ کلونو کم وي باید د خوندیتوب خولۍ پر سر کړئ<br>• که مو عمر له ۱۸ کلونو کم وي، باید محافظتي عینکې، عینکې، یا د مخ شفاف ساتونکی وکاروئ<br>• باید په داسې حالت کې یې وچلوئ چې پر څوکۍ سپاره (چې پښې مو په یوه او بله خوا وي) اوسئ<br>• د چلولو پر مهال باید د مخې څراغونه روښانه وي<br>• نه شئ کولای کڅوره په لاس کې ولېږدوئ<br>• باید د سړک ښي څنډې ته نږدې یې وچلوئ، مګر دا چې له بلې نقلیه وسیلې څخه تېرېږئ یا کیڼ لوري ته تاوېدلو ته چمتووالی نیسئ<br>• باید په یو ساعت کې له ۳۵ میلو څخه په زیات سرعت یې و نه چلوئ<br>• باید سپرلی و نه لېږدوئ<br>• باید په ایالتي لویه لاره یا پیاده رو کې یې و نه چلوئ |



د **Ride Safe Indiana** په اړه د نورو معلوماتو لپاره، **www.in.gov/bmv/rsi/** وګورئ.

## اټوسیکلونه

### *د اټوسیکل چلول*

د انډیانا قانون یوه نقلیه وسیله د اټوسیکل په توګه تعریفوي که درې څرخه موټوري نقلیه وسیله وي چې په هغه کې چلوونکی او سپرلی (مسافر) د څوکیو په بشپړه یا قسمي تړلي سیمه کې وي او په لاندې مواردو سره مجهزه وي:

- یو رول بار یا رول کېج (roll cage) یا رول کړۍ (roll hoops)،
- د هرې سپرلۍ لپاره د خوندیتوب کمربند،
- د قفل ضد برېکونه، او
- داسې ډیزاین شوی وي چې په جلب یا پاډلونو سره کنټرولېږي

که د انډیانا د موټر چلولو اعتباري (چې وخت يې نه وي تېر شوی، ځنډول شوی یا لغوه شوی نه وي) جواز ولرئ، کولای شئ د انډیانا په سړکونو اټوسیکل وچلوئ. د موټرسیکل د زده کوونکي اجازې یا د موټرسیکل تایید ته اړتیا نشته.

د اټوسیکل پر چلولو باندې لاندې محدودیتونه پلي کېږي:

- باید پر څوکۍ په یو حالت کې وچلول شی
- نه شئ کولای کڅوړه په لاس کې ولېږدوئ
- په یو ترافیکي لین کې له یو څخه زیات اټوسیکلونه حرکت نه شي کولای
- چلوونکی او هره سپرلۍ باید د خوندیتوب کمربند واغوندي
- د موټر چلولو د جواز لپاره د موټر چلولو د مهارتونو د ازموینې لپاره نه شي کارول کېدای

## د کرايې لپاره تایید

د کرايې لپاره تایید باورلیک لرونکي ته د دې امتیازونه ورکوي چې یوه موټوري نقلیه وسیله وچلوي چې:

- لږ تر لږه د ۱۶،۰۰۰ پونډ ناخالص وزن په لرلو خو له ۲۶،۰۰۰ پونډ څخه زیات نه، او د کرايې لپاره د توکو د لېږدولو په موخه د کارول کېدونکي په توګه ثبت شوی وي؛ یا
- د چلوونکي په ګډون له ۱۶ څخه د کمو سپرلیو د لېږدولو لپاره ډیزاین شوی وي او د کرايې لپاره د سپرلۍ د لېږدولو په موخه کارول کېږي.

د کرايې لپاره تایید د باورلیک لرونکي ته دا اجازه نه ورکوي چې یوه سوداګریزه موټوري نقلیه وسیله وچلوي. د انډیانا هغه اوسېدونکي چې د سوداګریز موټر چلولو (CDL) جواز لري او غواړي چې د "کرايې لپاره " ظرفیت (لکه د لیموزین چلول، د ټکسي چلونکی، یا د سپرلۍ شریکول) کې فعالیت وکړي، باید د کرايې لپاره د پوهې ازموینه ورکړي او د کرايې لپاره تایید ترلاسه کړي.

د کرايې لپاره تایید کېدای شي د انډیانا هغو اوسېدونکو ته صادر شي چې لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولري او لږ تر لږه د یو کال لپاره د انډیانا د موټر چلولو اعتباري جواز ولري. د کرايې لپاره له تایید سره د موټر چلولو د جواز ترلاسه کولو لپاره، باید د موټر چلولو د پوهې ازموینه او د کرايې لپاره د پوهې ازموینه دواړه ورکړئ. که تاسو اوس د موټر چلولو جواز لرئ چې وخت يې نه وي تېر شوی، تاسو به یواځې د کرايې لپاره د ازموینې ورکولو ته اړتیا ولرئ.

د انډیانا هغه اوسېدونکي چې لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر لري او له بل ایالت څخه د موټر چلولو اعتباري جواز، د چلوونکي (chauffeur) اعتباري جواز، د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) جواز، یا د کرايې لپاره له تایید سره د سوداګریز موټر چلولو (CDL) جواز ولري، کولای شي د کرايې لپاره د ازموینې له ورکولو څخه وروسته خپل د انډیانا د موټر چلولو جواز ته د کرايې لپاره تایید زیات کړي.

د ۲۰۱۷ د جنورۍ له ۱ څخه، ټول هغه غوښتونکي چې اوس د انډیانا د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) جواز یا د چلوونکي (chauffeur) جواز ولري چې وخت يې نه وي تېر شوی، د باورلیک په راتلونکي معاملې کې به د دوی د جواز ډول د کرايې له تایید سره د موټر چلوونکي جواز ته ولېږدول شي. د ازموینې اړتیا نشته او د کرايې لپاره د تایید فیس ستاسو د راتلونکې مالي معاملې پر مهال معاف کېږي. که تاسو اوس د انډیانا د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) جواز یا د چلوونکي (chauffeur) جواز نه لرئ، ټولې پلي کېدونکې ازموینې او فیسونه پلي کېږي.

ستاسو د انډیانا د کرايې لپاره تایید ستاسو د موټر انډیانا د موټر چلولو له جوزا سره د ورته مودې لپاره د اعتبار وړ دی. کولای شئ خپل د موټر چلولو جواز د جواز د وخت له تېرېدلو څخه تر یو کال مخکې پورې د انډیانا د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په هره څانګه کې یا پرلیکه (انلاین) د کرايې لپاره له تایید سره نوی کړئ.

موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) د کرايې لپاره له تایید سره د موټر چلولو د جواز د صادرولو لپاره د طبي معاینې راپور ته اړتیا نه لري. که داده نه يئ چې هغه نقلیه وسیله چې چلوئ يې د بشپړې طبي معاینې راپور ته اړتیا لري، د انډیانا له ترانسپورت وزارت سره اړیکه ونیسئ.

د کرايي لپاره يو بس، هغه بس ته ويل کېږي چې د کرايي لپاره د مسافرو د لېږدولو لپاره کارول کېږي، يا د جبران لپاره کارول کېږي.

لاندي موارد د کرايي لپاره لېږدول نه ګڼل کېږي:

- د طبي خدمتونو د نقليه وسيلي کارول
- د تفريحي نقليه وسيلي له لومړي پرچون پلور څخه مخکې د يوې تفريحي نقليه وسيلي لېږدول کله چې:
  - " د تفريحي نقليه وسيلي ناخالص وزن له ۲۶،۰۰۰ پونډ څخه زيات نه وي، يا
  - " د تفريحي نقليه وسيلي او د بکسي نقليه وسيلي ترکيبي ناخالص وزن له ۲۶،۰۰۰ پونډ څخه زيات نه وي، د بکسل شوې نقليه وسيلي د ناخالص وزن په ګډون، او د بکسل شوې نقليه وسيلي وزن له ۱۰،۰۰۰ بونډ څخه زيات نه وي
- د هغې موټوري نقليه وسيلي چلول چې له ۱۶،۰۰۰ پونډ څخه د کم وزن په لرلو سره ثبت شوې وي او د کرايي لپاره د توکو د لېږدولو لپاره کارول کېږي


## د چلوونکی (CHAUFFEUR) او د عامه مسافرو د چلوونکی (CHAUFFEUR) جوازونه

که غواړئ چې خپل د انډیانا د چلوونکي (chauffeur) او د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) جواز له وخت تېرېدلو يا وخت تېرېدلو سره له نږدې کېدلو وروسته وساتئ، تاسو اړ يئ چې د کرايي لپاره له تاييد سره د موټر چلولو د جواز غوښتنه وکړئ. د چلوونکي (chauffeur) يا د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) جوازونه ښايي پرليکه (انلاين) بدل، تصحيح، يا نوي نه شي. د کرايي لپاره تاييد سره د موټر چلولو جواز ته اړولو لپاره، بايد د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشئ. لکه څرنګه چې د جواز د ډول (ډولونو) د بدلولو لپاره اړ يئ چې د موټوري نقليه وسيلو (BMV) څانګې ته ورشئ، موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) مو د خپلې کتنې پر مهال له ريښتيني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکي باور ته د لوړولو لپاره هڅوي. له ريښتيني پېژند (Real ID) سره د مطابقت لرونکي باورليک ترلاسه کولو لپاره د ټولو اړينو اسنادو د بشپړ لېست لپاره، د دې لارښود الف ضميمه (۶۶ پاڼه) وګورئ يا [REALID.IN.gov](REALID.IN.gov) وګورئ. که د خپلو اسنادو د ترلاسه کولو په اړه پوښتنه لرئ، د پيرودونکو د خدمتونو له يو استازي سره د خبرو لپاره کولای شئ په 888-692-6841 وړيا شمېره د انډیانا موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته زنګ ووهئ. کوم اضافي لګښت نه لري.

# درېیم څپرکی |

## نښانونه، کښتۍ او د تمځای لوحې

### د غړي بسپنه




که تاسو غوره کړئ چې د غړي بسپنه کوونکی اوسئ، ستاسو د باورلیک پر مخ به یو کوچنی زړه چاپ شي.

د انډیانا د بسپنه کوونکي د غوره کولو له قانون سره سم، د ۱۸ کلونو یا زیات عمر لرونکي کسان کولای شي د غړي د بسپنه کوونکو په توګه خپله اراده څرګنده کړي او د دوی د کورني غړي نه شي کولای د مړیني پر وخت د دوی اراده تر پښو لاندې کړي. له ۱۸ کلونو څخه د کم عمر کسان کولای شي د مور یا پلار یا قانوني سرپرست په اجازه خپله اراده څرګنده کړي، چې هغوی باید د یوه کوچني شخص د مړیني په وخت کې د غړي د بسپنې لپاره رضایت وړاندې کړي.

د غړي د بسپنې لپاره
د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ
[https://www.donatelifeindiana.org/](https://www.donatelifeindiana.org/) وګورئ.

### د فعالې دندې او د پخواني پوځي نښان




که تاسو د متحده ایالتونو په وسله والو ځواکونو کې فعاله دنده لرئ، کولای شئ غوره کړئ چې پر باورلیک مو د فعالې دندې پوځي نښان ولګول شي. د ښودونکي یا شاخص ترلاسه کولو لپاره، د خپل نوي صدور یا د نوي کولو د غوښتنلیک پر مهال د خپل اوسني ګډ لاسرسي کارت یا Common Access Card (CAC) د وړاندې کولو لپاره باید د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) یوې څانګې ته ورشئ.

که د متحده ایالتونو د وسله والو ځواکونو یو پخوانی سرتېری یئ، کولای شئ غوره کړئ چې پر باورلیک مو د پخواني سرتېري نښان ولګول شي (پدې شرط چې اجباري نه اوسئ ترخیص شوي). د نښان ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید د متحده ایالتونو د دفاع وزارت له لورې صادر شوی DD 214 وړاندې کړئ چې ستاسو ترخیص تاییدوي. که تاسو د یو پخواني سرتېري ژوندی د ژوند ملګری (مېرمن یا خاوند) اوسئ، کولای شئ غوره کړئ چې ستاسو پر باورلیک یو نښان ولګول شي.

که د یو مړ شوي پخواني سرتېري ژوندی د ژوند ملګری (مېرمن یا خاوند) اوسئ، کولای شئ غوره کړئ چې د موټر چلولو پر جواز مو د پخواني سرتېري د ژوند د شریک نښان ولګول شي. د ښودونکي ترلاسه کولو لپاره، باید د پخواني سرتېري د ترخیص یا جلا کېدلو ثبوت، د واده تصدیق، او د مړه شوي پخواني سرتېري د مړیني تصدیق وړاندې کړئ.

### کښتۍ

#### *د کښتۍ چلول*

د انډیانا قانون د هغې انجن لرونکې کښتۍ چلوونکی، چې له ۱۰ هارس پاور څخه زیات ځواک (قدرت) تولیدوي، اړ ګڼي چې د موټر چلولو اعتباري جواز ولري.

که تاسو ۱۵ کاله یا کم عمر لرئ او د موټر چلولو جواز نه لرئ، په بریالیتوب سره د انډیانا د طبیعي سرچینو د وزارت له لورې تایید شوي د کښتۍ چلولو د کورس له بشپړولو وروسته کښتۍ وچلوئ.

د کښتۍ چلولو پر مهال باید هر وخت له ځان سره خپل د هویت اعتباري کارت ولرئ. د کښتۍ چلولو د تایید شویو ښوونیزو کورسونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د انډیانا د طبیعي سرچینو له وزارت سره اړیکه ونیسئ.

که له ۱۵ کلونو څخه کم عمر ولرئ، نه شئ کولای چې له ۱۰ هارس پاور خروجي څخه زیات انجن لرونکي کښتۍ وچلوئ.

که ستاسو د موټر چلولو جواز وځنډول شي، نه شئ کولای چې کښتۍ وچلوئ. که په بې پروايي سره، د نېشې په حالت کې کښتۍ وچلوئ، یا د خصوصي کښتیو له قوانینو څخه سرغړونه وکړئ، ښايي د موټر چلولو د سوابقو پر وړاندې مو نمرې وارزول شي.

د اندیانا هغه اوسېدونکي چې د اندیانا په سرحدي اوبو کې کښتۍ چلوي، اړ دي چې د اندیانا د موټر چلولو جواز له ځان سره ولري. د نورو ایالتونو اوسېدونکي اړ نه دي چې د موټر چلولو جواز له ځان سره ولري، مګر دا چې د اندیانا په یو خلیج (embayment)، سیند یا نهر (stream) کې بېړۍ چلوئ.

## د تمځای پلاکارتونه

د تمځای پلاکارت د کارت لرونکي ته دا امکان ورکوي چې د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د تمځای له ځانګړو شویو ځایونو څخه ګټه واخلي. پلاکارت د دايمي یا موقتي معلولیت لرونکو او همدارنګه د هغه کس لپاره، چې د انډیانا معلولیت لرونکي پخواني سرتېري (DHV) د جواز پلېټ ورکړل شوی وي یا یې په بل ډول د ترلاسه کولو وړ وي، شته دی. همدارنګه، هر هغه شرکت چې د ایالت (دولت) یا یوې سیاسي فرعي څانګې له لوري واک ولري څو د فزیکي معلولیت لرونکو کسانو لپاره د ترانسپورټ یا اسانتیاوو په ګډون پروګرامونه اجرا کړي، ښايي د پلاکارت غوښتنه وکړي.

د تمځای د پلاکارت د غوښتنې لپاره باید د روغتیايي پاملرنې له یو چمتو کوونکي (لکه ډاکټر، د کایروپراکټیک متخصص، د پښو متخصص، مسلکي ثبت شوې نرس، د ډاکټر مرستیال، د سترګو د لید د اندازه کولو متخصص یا د سترګو ډاکټر) څخه وغواړئ چې د معلولیت د تمځای پلاکارت لپاره یا د معلولیت د پلېټ – 42070 ایالتي فورم چې تاییدوي تاسو د تمځای پلاکارت لپاره وړ یئ - لپاره غوښتنلیک بشپړ کړي.

د 42070 ایالتي فورم له بشپړولو وروسته، کولای شئ د تمځای پلاکارت د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له هرې څانګې څخه یا په فورم کې لیکل شوي پُستي پتې ته د پُست له لارې ترلاسه کړئ.

کله چې یو شخص د انډیانا د معلولیت لرونکي پخواني سرتېري د جواز پلېټ ترلاسه کړي یا یې د ترلاسه کولو وړ وي، د روغتیايي پاملرنې له چمتو کوونکي څخه تصدیق ته اړتیا نشته.

که تاسو دايمي معلولیت ولرئ، ستاسو د تمځای د پلاکارت وخت نه تېرېږي مګر دا چې ستاسو د روغتیايي پاملرنې چمتو کوونکی تصدیق کړي چې معلولیت نور دايمي نه ګڼل کېږي یا د انډیانا د پخوانیو سرتېرو د چارو وزارت (IDVA) تصدیق کړي چې تاسو نور د انډیانا معلولیت لرونکی پخوانی سرتېری نه یئ. د تمځای دايمي پلاکارت کوم لګښت نه لري.

که تاسو موقتي معلولیت لرئ، ستاسو د تمځای د پلاکارت وخت په هغه نېټه چې ستاسو د روغتیايي پاملرنې د چمتو کوونکي له لورې ټاکل شوې یا له صدور څخه یو کال وروسته تېرېږي، هره یوه یې چې مخکې پېښه شي. د تمځای د موقتي پلاکارت لپاره فیس شته دی. د زیاتو معلوماتو لپاره [IN.gov/BMV](IN.gov/BMV) وګورئ.

یو شرکت ته د صادر شوي پلاکارت وخت، د پلاکارت د صدور له نېټې وروسته کال څخه پس د څلورم کال د جنورۍ په ۱مې نېټه، یا په هغه نېټه چې شرکت معلولیت لرونکو کسانو ته پروګرامونه یا اسانتیاوې دروي، چې هر یو یې ژر وي، تېرېږي.

➔ *د یو پلاکارت کارول چې وخت یې تېر شوی وی، ښايي د جریمې لامل شي.*

د تمځای د ریزرف شوي ځای تر څنګ په رېونده ښه خط خط شوي ځای کې د موټر ودرول کول منع دي، تر دې که اعتباري پلاکارت هم ولرئ.

# څلورم څپرکی |

## د باورلیک نوي کول، اصلاح کول، یا بدلول

لکه څرنګه چې په ۱ څپرکي کې یادونه وشوه، موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) درې ډوله باورلیکونه صادروي: د موټر چلولو جوازونه، د زده کوونکي اجازې، او د هویت کارتونه. کله چې ستاسو باورلیک صادر شي، د وخت د ټاکلې مودې لپاره د اعتبار وړ دی او ستاسو له شرایطو سره سم، نوی کېدای، اصلاح کېدای یا بدلېدای شي. د چلوونکي (chauffeur) یا د عامه مسافرو د چلوونکي (chauffeur) د جواز د نوي کولو، اصلاح کولو یا بدلولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په ۲ څپرکي کې د کرایې لپاره تایید تر سرلیک لاندې برخه ولولئ.

که د موقتي وخت لپاره له انډیانا څخه بهر د اوسېدلو پر مهال خپل باورلیک له لاسه ورکړئ، ښایي د ځانګړو شرایطو په پام کې نیولو سره موقتي باورلیک ترلاسه کړئ. که ستاسو پته، نوم، یا جنډر نه وي بدل شوی، کولای شئ خپل باورلیک پر لیکه (انلاین) په IN.gov/BMV کې بدل یا نوی کړئ، که وړ یا پر شرایطو برابر اوسئ. کولای شئ خپل باورلیک پرلیکه (انلاین) یا په BMV Connect کیوسک کې هر بل ځل نوی کړئ. پرلیکه بشپړ لېست لپاره
نوي کولو، بدلولو، او اصلاح شویو باورلیکونو د اړتیاوو د بشپړ لېست لپاره، لوستلو ته ادامه ورکړئ یا IN.gov/BMV وګورئ.

## د یو باورلیک نوی کول

د موټر چلولو د ازمایښتي جواز وخت هغه وخت تېرېږي کله چې د کارت لرونکي عمر ۲۱ کاله او ۳۰ ورځې شي.
که د کارت لرونکی اړین شرایط پوره کړي، د موټر چلولو ازمایښتي جواز پر لیکه (انلاین) نوی کېدای شي. د نورو ټولو باورلیکونه وخت ستاسو د زېږېدلو د ورځې د شپې په نیمایي کې تېرېږي.

**که ستاسو د زوکړې ورځ له داسې ورځې سره برابرېږي چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) څانګې ترلې وي، ستاسو د باورلیکونو وخت د راتلونکي کاري ورځې د شپې په نیمایي کې تېرېږي.** له موقتي قانوني حالت سره اوسېدونکو لپاره د باورلیک د وخت تېرېدلو نېټې توپیر کوي. که ستاسو باورلیک د وخت تېرېدلو له نېټې وروسته نوی شي، ټول [بنکېل] کسان له اداري جریمې سره مخ کېږي.

**که د موټر چلولو جواز نوی کوئ چې لږ تر لږه د ۱۸۰ ورځو لپاره یې وخت تېر شوی خو له پنځو کلونو څخه زیات نه دی،** باید اداري جریمه ورکړئ، د پوهې ازموینه ورکړئ، او د معیاري لید چاڼ کول تېر کړئ.

**که د موټر چلولو جواز نوی کوی چې پنځه کاله یا زیات وخت یې تېر شوی وی،،** باید اداري جریمه ورکړئ، د پوهې ازموینه ورکړئ، د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه ورکړئ، او د معیاري لید چاڼ کول تېر کړئ.

د موټر چلولو جواز یا د هویت کارت د متحده ایالتونو د اتباعو یا د هغو کسانو له لورې چې دایمي قانوني حالت ولري، د باورلیک د وخت له پای ته رسېدلو څخه مخکې تر ۲۴ میاشتو پورې ښېرته نوی کېدای شي.

له موقتي قانوني حالت سره کسان یواځې کولای شي د خپل اوسني باورلیک د وخت له تېریدلو څخه تر ۳۰ ورځو مخکې پورې یې نوی کړي. د زده کوونکي اجازه د هغې د وخت له تېرېدلو څخه مخکې تر ۳۱ ورځو پورې نوی کېدای شي.

- که تاسو لږ تر لږه ۲۱ کاله عمر ولرئ او د موټر چلولو په خپلو سوابقو کې شپږ یا زیاتې نمرې ولرئ، د موټر چلولو د خپل جواز د نوي کولو لپاره باید د پوهې ازموینه ورکړئ.

### *د متحده ایالتونو د وسله والو ځواکونو د پرسونل لپاره د موټر چلولو د جواز نوی کول*

که تاسو له دې امله په موقتي توګه له انډیانا څخه بهر اوسېږئ چې د متحده ایالتونو له وسله والو ځواکونو سره خدمت کوئ، ستاسو د موټر چلولو جواز ستاسو له ترخیص یا له ماموریت څخه وروسته تر ۹۰ ورځو پورې د اعتبار وړ پاتې کېږي. که تاسو ځانګړي شرایط پوره کړئ، کولای شئ خپل د موټر چلولو جواز پرلیکه (انلاین) په IN.gov/BMV کې نوی کړئ. د دغو اړینو شرایطو د لېست لپاره IN.gov/BMV وګورئ.

که ستاسو د انډیانا د موټر چلولو د جواز وخت تېر شوی وی او غواړئ چې له ترخیص وروسته نوی شوی جواز ترلاسه کړئ، باید د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) یوې ځانګې ته ورشئ و د وزارت دفاع داسې اسنادچې ستاسو د پوځې ترخیص ثبوت ښیې یا DD 214 اوږد فورم وړاندې کړئ. همدارنګه کولای شئ په هغه وخت کې غوره کړئ چې خپل باورلیک ته د پخواني سرتېري نښان هم زیات کړئ، په دې شرط چې خپل د موټر چلولو د جواز د نوي کولو یا اصلاح کولو لپاره خپل DD 214 اوږد فورم هم د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ځانګې ته له ځان سره راوړئ.

## د يو باورليک اصلاح کول

وروسته له دې چې خپل هر ډول شخصي معلومات په قانوني توګه بدل کړئ، بايد هغه معلومات هم اصلاح کړئ چې ستاسو پر باورليک ښکاري. کولای شئ د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) په هره څانګه کې خپل باورليک اصلاح کړئ.
لاندې ځو عام لاملونه دي چې ښايي تاسو اړتيا ولرئ خپل باورليک اصلاح کړئ.

### *د پتې بدلون*

که د انډيانا باورليک لرئ، بايد د خپلې اصلي (قانوني) پتې له بدلون څخه موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) خبره کړئ او د پتې له بدلون څخه وروسته په ۳۰ ورځو کې د اصلاح شوي باورليک غوښتنه وکړئ.

په خپل باورليک کې د خپلې اصلي (قانوني) پتې د بدلون لپاره، بايد د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشئ ځو هغه اسناد وړاندې کړئ چې په الف ضميمه کې تشريح شوي.

- کولای شئ خپله پُستي پته پرليکه (انلاين) په IN.gov/BMV، په BMV Connect کيوسک، يا د جواز په يوه څانګه کې بدله کړئ.

### *د نوم بدلون*

د ټولنيز امنيت په اسنادو کې په رسمي توګه د خپل نوم د بدلون لپاره بايد د ټولنيز امنيت اداري دفتر ته ورشئ او د خپل نوم د بدلون د معاملې له بشپړېدلو وروسته د خپل باورليک د اصلاح لپاره د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته له ورتګ څخه مخکې يوه کاري ورځ فرصت ورکړئ. د نوم له بدلون وروسته په ۳۰ ورځو کې د اصلاح شوي باورليک د غوښتنې لپاره بايد د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) څانګې ته ورشئ. په الف ضميمه که تشريح شوي اسناد بايد وړاندې کړئ. خپل د SSA کارت بدلولو ته اړتيا لرئ او د انډيانا د موټر چلولو د اوسنی جواز، اجازې يا د هويت د کارت وخت مو نه وي تېر شوی، کولای شئ دا کار پرليکه (انلاين) وړيا وکړئ.

### *د جنډر بدلون*

که د جنډر بدلولو پروسيجر لرئ او د انډيانا باورليک لرئ، بايد موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشئ ځو د انډيانا د داسي باورليک غوښتنه وکړئ چې له نارينه څخه ښځينه يا له ښځينه څخه نارينه ته بدلون ښيي. بايد د زوکړې تصديق شوی تعديل شوی تصديق يا پر سرليک لرونکي پاڼه د ډاکټر لاسليک شوي او نېټه لرونکي څرګندونه (بيان) وړاندې کړئ چې 3-1.1-7 IAC 140 ژبه پکې وی "حد پېرودونکي نوم وليکئ> له <زوړ جنډر وليکئ> څخه <نوي جنډر وليکئ> ته د دايمي بدلون لپاره ټوله درملنه په برياليتوب سره ترسره کړه "، يا د جنډر د بدلون د ډاکټر څرګندونه يا بيان - 55617 ايالتي فورم، چې بايد په بشپړه توګه د غوښتونکي او ډاکټر دواړو له لوري بشپړ شي، وړاندې کړئ.

## د باورليک بدلول

که خپل باورليک ورک کړئ يا که غلا شئ، کولای شئ خپل حساب IN.gov/BMV ته په ننوتلو سره يې بدل کړئ يا د بدلولو د سفارش لپاره يو BMV Connect کيوسک وګورئ، په دې شرط چې نوم، جنډر، يا د استوګنې د پتې معلومات مو نه وي بدل شوي. مخکې له دې چې اړ شئ د باورليک د بدلولو لپاره د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشئ، کولای شئ خپل باورليک زيات نه زيات تر ۱۰ ځلونو پورې پرليکه (انلاين) بدل کړئ.

کولای شئ خپله پُستي پته پرليکه يا انلاين بدله کړئ. که څه هم، که کوم نور معلومات بدل شوي وي، نه شئ کولای پرليکه يا انلاين د بدلولو غوښتنه وکړئ، بايد له بدلون وروسته په ۳۰ ورځو کې د خپل باورليک د اصلاح کولو لپاره د موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) يوې څانګې ته ورشي او په الف ضميمه کې تشريح شوي اسناد بايد وړاندې کړئ.

له ريښتيني پېژند (Real ID) سره د مطابقت لرونکي باورليک ترلاسه کولو لپاره د ټولو اړينو اسنادو د بشپړ لېست لپاره، د دې لارښود الف ضميمه (۶۶ پاڼه) وګورئ يا **REALID.IN.gov** وګورئ. که د خپلو اسنادو د ترلاسه کولو په اړه پوښتنه لرئ، د پېرودونکو د خدمتونوله يو استازي سره د خبرو لپاره کولای شئ په 888-692-6841 وړيا شمېره د انډيانا موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته زنګ ووهئ.

# پنځم څپرکی |

## نمرې، ځنډول، او د بیمې اړتیاوې

د نمرو د مطالعې کمېټه د ترافیکي سرغړونو لپاره د نمرې یو ارزښت یا قیمت ټاکي. د نمرې ارزښت د سرغړونې یا پېښې له شدت او تاریخچې سره تړاو لري.

د نمرو د ارزښت بشپړ چدول له IN.gov/BMV څخه بشکته کړئ.

| **د نمرې ارزښت**<br>***د سرعت د سرغړونو لپاره نمرې توپیر کوي. د سرعت د سرغړونو د نمرو د مجموعو په بېلګو کې لاندې موارد راځي:*** | |
|---|---|
| د سرعت له حد څخه په یو ساعت کې ۱ – ۱۵ میله زیات | **۲ نمرې** |
| د سرعت له حد څخه په یو ساعت کې ۱۶ – ۲۵ میله زیات | **۴ نمرې** |
| د سرعت له حد څخه په یو ساعت کې +۲۶ میله زیات | **۶ نمرې** |
| ***د نورو سرغړونو د نمرو د مجموعو په بېلګو کې لاندې موارد راځي:*** | |
| د مخې له څراغونو څخه کار نه اخیستل | **۲ نمرې** |
| د برېک یا اشارې (سېګنال) د څراغونو نه کارول | **۲ نمرې** |
| د موټرسیکل نامناسبه خولۍ | **۴ نمرې** |
| د موټرسیکل ناماسبه سپرلی | **۴ نمرې** |
| د لاسي وسیلې سرغړونه | **۴ نمرې** |
| د لین ناخوندي حرکت | **۴ نمرې** |
| د درېدلو یا د لومړیتوب حق نښې ته پام نه کول | **۴ نمرې** |
| بېړنۍ نقلیه وسیلې ته لاره (لومړیتوب) نه ورکول | **۶ نمرې** |
| بله نقلیه وسیله ډېره نږدې تعقیبول | **۶ نمرې** |
| په ځنډول شوې حالت کې موټر چلول | **۸ نمرې** |
| پر سړک د سرعت سیالي | **۸ نمرې** |

نمرې د محکومیت له نېټې څخه تر دوو کلونو پورې ستاسو د موټر چلولو په سوابقو کې فعالې پاتې کېږي.

## د موټر چلوونکی د خوندیتوب پروګرام

د موټوري نقلیه وسیلو اداری (BMV) د موټر چلوونکي د خوندیتوب پروګرام (DSP) محدود شمېر وړاندې کوونکي تایید کړي دي د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري د موټر چلوونکي د خوندیتوب تایید شوي پروګرام (DSP) نصاب په ټولګي کې، پرلیکه (انلاین)، یا پد ډي وي ډي (DVD) لاربښوونې په بڼو شته دی. د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري د موټر چلوونکي د خوندیتوب تایید شوي پروګرام (DSP) کورس د دفاعي موټر چلولو د تخنیکونو لنډیز وړاندې کوي او کېدای شي د موټر چلوونکو لپاره ګټور تازه کوونکی کورس وي.

د انډیانا هر موټر چلوونکی کولای شي د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري له تایید شوي چمتو کوونکي سره د موټر چلوونکي د خوندیتوب پروګرام (DSP) کورس بشپړ کړي او د څلورو نمرو اعتبار (کرېډېټ) ترلاسه کړي. که څه هم هغه موټر چلوونکي چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري اړ دي چې د موټر چلولو د خوندیتوب په پروګرام (DSP) کې ګډون وکړي، د پُست له لارې استول شوي یوه خبرتیا ترلاسه کړي چې بښیي له خبرتیا څخه وروسته باید په ۹۰ ورځو کې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري د موټر چلوونکي د خوندیتوب تایید شوی پروګرام (DSP) په بریالیتوب سره بشپړ کړي. هر موټر چلوونکی په یوه درې کلنه موده کې د څلورو نمرو د یو اعتبار (کرېډېټ) اجازه لري.

موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) ښایي له هغه موټر چلوونکي څخه چې عمر یې ۲۱ کاله یا زیات وي او د تېرو ۱۲ میاشتو په موده کې پر دوو یا زیاتو ترافیکي سرغړونو محکوم شوي وي وغواړي چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري تایید شوی د موټر چلوونکي د خوندیتوب د پروګرام (DSP) کورس بشپړ کړي. له ۲۱ کلونو څخه د کم عمر لرونکي کسان ښایي اړ وي چې د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري تایید شوی د موټر چلوونکي د خوندیتوب پروګرام (DSP) کورس بشپړ کړي که پر دوو یا زیاتو ترافیکي سرغړونو محکوم شوي وي.

د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري د خبرتیا له استول کېدلو وروسته په ۹۰ ورځو کې د موټر چلوونکو د خوندیتوب د پروګرام (DSP) په کورس کې پاتې راتلل به ستاسو د موټر چلولو د امتیازونو د ځنډول لامل شي. ځنډول به تر هغې د اجرا وړ وي څو مو چې د موټر چلوونکو د خوندیتوب د پروګرام (DSP) کورس نه وي بشپړ کړی، او د کورس بشپړول به د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري پروسس شي.

یو قاضي هم کولای شي هغه موټر چلوونکي ته د موټر چلوونکو د خوندیتوب په پروګرام (DSP) کې د ګډون امر وکړي چې ترافیکي سرغړونه یې کړې. که یو محکمه تاسو ته امر کوي چې د موټر چلوونکو د خوندیتوب پروګرام (DSP) بشپړ کړئ، د موټر چلوونکو د خوندیتوب د پروګرام (DSP) دوره چې باید بشپړ یې کړئ، د محکمې په واک کې دی. که څه هم د ځلورو نمرو اعتبار (کریډیټ) یواځې هغه وخت ستاسو د موټر چلولو سوابقو ته پلي کېږي چې د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري تایید شوی د موټر چلوونکو د خوندیتوب پروګرام (DSP) کورس بشپړ کړئ.

د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري تایید شوی د موټر چلوونکو د خوندیتوب د پروګرام (DSP) اعظمي فیس ۵۵ ډالر دی. ۷ تر ۱۰ کاري ورځې وخت ورکړئ څو د کورس د بشپړولو پاڼلې د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري پروسس شي. خپل چېک یا د پیسو غوښتنه د موټر چلوونکو د خوندیتوب پروګرام (DSP) وړاندې کوونکي ته د ورکړې وړ کړئ.

- ➔ د موټر چلوونکو د خوندیتوب د پروګرام (DSP) دچمتوکوونکو یو لېست په IN.gov/BMV کې یا 888-692-6841 ته په زنګ وهلو سره د لاسرسي وړ دی.

### د بیمې اړتیاوې

د انډیانا قانوني وايي یو شخص ښايي ونشي کولای چې په انډیانا کې موټوري نقلیه وسیله وچلوي که چېرې د موټوري نقلیه وسیلې په تړاو مالي مسؤولیت عملي نه وي، یا شخص د موټوري نقلیه وسیلې د چلولو لپاره بیمه شوی نه وي. د مسؤولیت د بیمې له اوسنۍ پالیسۍ پرته، چې د ایالت له حد اقل معیارونو سره برابره وي، د موټر چلول د قانون خلاف دي. د ایالتي بیمې حد اقل معیار د یو شخص د بدني ټپ، یا مړینې لپاره ۲۵،۰۰۰ ډالر؛ په هره یوه پېښه کې د دوو یا زیاتو کسانو د بدني ټپ یا مړینې لپاره ۵۰،۰۰۰ ډالر؛ او د ملکیت د زیان لپاره په هره پېښه کې ۲۵،۰۰۰ ډالر دی. دا معمولاً د ۲۵/۵۰/۲۵ مسؤولیت بیمې په نامه یادېږي. د نابیمه شویو موټر چلوونکو د مخنیوي لپاره، د انډیانا قانون موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) اړ ګڼي چې پر هغو موټر چلوونکو د موټر چلولو د امتیازونو ځنډول او مالي جریمې وضع کړي کوم چې معلومه شوي وي چې د موټر د بیمې لپاره د ایالت د حد اقل اړتیاوو د لرلو له ثبوت پرته یې په انډیانا کې موټر چلولی وي. په جریمو کې د بېرته ګرځولو فیسونه او ځنډول شامل دي چې کېدای شي له ۹۰ ورځو څخه تر یو کال پورې وي.

### *د مالي مسؤولیت ثبوت*

کله چې د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) څخه د مالي مسؤولیت د ثبوت (د بیمې د ثبوت) د وړاندې کولو لپاره خبرتیا ترلاسه کړئ نو ځنډ مه کوئ. ژر تر ژره د خپل موټر د بیمې له چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ او غوښتنه ترې وکړئ چې یو کارکوونکی دې په برېښنایي توګه د مطابقت تصدیق (COC) موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته واستوي. د لاندې هر یو حالت په پایله کې ښايي د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) څخه د مسؤولیت د تایید خبرتیا ترلاسه کړئ:

- د موټر پېښه
- د حرکت په حال کې د نمرو وړ دوو نورو ترافیکو سرغړونو له ترلاسه کولو وروسته په یو کال کې دننه د حرکت په حال کې د نمرو وړ یوه ترافیکي سرغړونه
- جدي ترافیکي سرغړونه لکه سرغړونه یا جرم
- د داسې یو موټر چلوونکي له لوري د حرکت په حال کې د نمرو وړ یوه ترافیکي سرغړونه، چې مخکې د مالي مسؤولیت د ثبوت نه وړاندې کولو له امله ځنډول شوی وي

په سمه توګه ډک شوی د مطابقت تصدیق (COC) به وښيي چې هغه نقلیه وسیله چې تاسو د پېښې پر مهال چلوله، د موټوري نقلیه وسیلې د مسؤولیت له حد اقل خوندیتوب (۲۵/۵۰/۲۵) سره بیمه شوې وه. د مطابقت تصدیق (COC) باید د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري د مالي مسؤولیت د تایید لپاره د غوښتنې له استولو وروسته په ۹۰ ورځو کې په برېښنايي توګه ترلاسه او د موټوري نقلیه وسیلو د اداري (BMV) له لوري پروسس شي، یا به ستاسو د موټر چلولو امتیازونه وځنډول شي.

کله چې ستاسو د موټر چلولو امتیازونه وځنډول شي، وروسته له دې چې ستاسو د بیمې وړاندې کوونکی د مالي مسؤولیت ثبوت واستوي، ښايي د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) له لوري وضع شوی ځنډول ستاسو د موټر چلولو له سوابقو څخه لرې شي. دا چاره معمولاً دې ته اړتیا لري چې ستاسو د بیمې وړاندې کوونکی ستاسو او د پېښې د نېټې لپاره د پېښې په احضاریې یا راپور کې د یادې شوې نقلیه وسیلې د پوښښ لپاره د مطابقت تصدیق (COC) واستوي. که تاسو د شرکت اړوند نقلیه وسیله یا کرایي نقلیه وسیله چلوله، ستاسو کارګمارونکی یا د کرایي شرکت باید ډک کړي یو
سوګندلیک - د کارګمارونکي یا د کرایي نقلیه وسیلو لپاره د مالي مسؤولیت ثبوت - 55434 ایالتي فورم ډک

که له بیمې پرته د نقلیه وسیلې د چلولو لپاره د انډیانا یوې محکمې، یا له ایالت څخه بهر د یوې محکمې له لوري، محکوم شوي اوسئ، باید له محکمې سره اړیکه ونیسئ څو معلومه شي چې ایا کولای شئ د موټر چلولو له خپلو سوابقو څخه د محکومیت د لرې کولو لپاره د بیمې ثبوت وړاندې کړئ.

که له مالي مسؤولیت پرته د نقلیه وسیلې د چلولو یا د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) سره د بیمې د نه ثبتولو له امله د محکمې د محکومیت په پایله کې ستاسو د موټر چلولو امتیازونه وځنډول شي، د انډیانا قانون اړینه ګڼي چې د خپلې بیمې له چمتو کوونکي څخه وغواړئ چې د راتلونکي مالي مسؤولیت ثبوت له SR22 فورم سره یو ځای په برېښنايي توګه ثبت کړي تر څو ستاسو د موټر چلولو امتیازونه بېرته درکړل شي. د SR22 فورم نه ثبتول به تر هغې پورې ستاسو د موټر چلولو په سوابقو کې د ځنډولو د دوام لامل شي تر څو چې ستاسو د بیمې چمتو کوونکی یو د اجرا وړ SR22 ثبت نه کړي.

### د SR22 د اړتيا موده

SR22 فورم ښيي چې تاسو د موټوري نقليه وسيلې د بيمي يوه پاليسي لرئ چې د ايالت حد اقل معيارونه پوره کوي او موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) له مخکينی خبرتيا ورکولو څخه پرته نه شي لغوه کېدای. کله چې تاسو SR22 ته اړتيا ولرئ، بايد په دوسيه د موټوري نقليه وسيلو له اداری (BMV) سره يوه د اجرا وړ پاليسي وساتئ. له بيمي پرته هغه ځنډونې چې پر 2021/31/12 يا وروسته اجرا شوي دي، نامحدودې ځنډونې دي. له بيمي پرته نامحدود ځنډول کېدای شي د SR22 فورم له ترلاسه کولو څخه وروسته هم پاتې شي او د ۱۸۰ ورځو لپاره په دوامداره توګه د SR22 په ساتلو سره پای ته ورسېږي.

که تاسو د SR22 يوه اړتيا ولرئ او موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) ستاسو د بيمي له ترلاسه کوونکي څخه يو SR26 (د SR22 بيمي لغوه کول) ترلاسه کړي، د انډيانا قانون موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) څخه غواړي چې ستاسو د موټر چلولو امتيازونه د SR22 د يوې اجرا وړ پاليسی ترلاسه کولو پورې، يا د SR22 د اړتيا د مودې د وخت تر پای ته رسېدلو پورې وځنډوي. که موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) له بيمي پرته نامحدود ځنډولو لپاره د ۱۸۰ ورځو توقيف په موده کې يو SR26 ترلاسه کړي، د انډيانا قانون موټوري نقليه وسيلو اداری څخه غواړي چې توقيف لرې کړي او ځنډول بېرته فعال حالت ته وګرځوي.

### د نه بيمې د بېرته ګرځولو فيسونه

يو موټر چلوونکی چې د مسؤوليت د بيمي له پاليسی، چې د ايالت حد اقل معيارونه پوره کوي، څخه پرته موټر چلوي د موټر چلولو د امتيازونو د ځنډولو تابع دی. سربېره پر دې، وروسته له دې چې د بيمي هغه ځنډول پای ته ورسېږي، د انډيانا قانون تاسو اړ ګڼي چې د موټر چلولو د خپلو امتيازونو د بېرته ګرځولو لپاره فيس ورکړئ؛ دا د SR22 پر هره اړتيا سربېره دی. له بيمي پرته د لومړني ځنډول کېدلو لپاره د بېرته ګرځولو فيس ۲۵۰ ډالر، له بيمي پرته د دوييم ځنډول کېدلو لپاره ۵۰۰ ډالر، او له بيمي پرته د درېيم او ورپسې ځنډونو لپاره ۱،۰۰۰ ډالر دی چې د ۲۰۱۵ د جنوری له ۱ څخه وروسته پېښ شوي وي. د ۲۰۱۵ د جنوری له ۱ څخه مخکې له بيمي پرته ځنډونو لپاره، له بيمي پرته لومړي ځنډول کېدلو لپاره د بېرته ګرځولو فيس به ۱۵۰ ډالر، له بيمي پرته د دوييم ځنډول کېدلو لپاره ۲۲۵ ډالر، او له بيمي پرته د درېيم او او ورپسې ځنډونو لپاره ۳۰۰ ډالر وي. يو موټر چلوونکی کولای شي له بيمي پرته د بېرته ګرځولو د فيس له ورکړې خپل د موټر چلولو امتيازونه بېرته وګرځوي که د دوی د بيمي چمتو کوونکی په بريښنايي توګه د راتلونکي مالي مسؤوليت ثبوت (SR22) واستوي او SR22 د ۱۸۰ ورځو لپاره په دوامداره توګه وساتي. که موټوري نقليه وسيلو اداره (BMV) د SR22 د توقيف د ۱۸۰ ورځو په موده کې SR26 ترلاسه کړي، فيسونه به د پيسو د ورکړې ترلاسه کولو يا SR22 پورې بېرته فعال حالت ته وګرځول شي.

کولای شئ د بېرته ګرځولو فيسونه په IN.gov/BMV کې، 888-692-6841 ته په تليفون سره، يا د پُست له لارې د بېرته ګرځولو د فيس د کوپن په کارولو سره چې په بريښناليک يې د موټوري نقليه وسيلو له اداري (BMV) څخه ترلاسه کوئ، ادا کړئ.

## ځنډونې

د انډيانا قانون محکمو ته واک ورکوي چې موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته امر وکړي چې د يو کس د موټر چلولو امتيازونه تر ځانګړو شرايطو لاندې وځنډوي، په ګډون د هغو مواردو چې هغه کس پکط د ځانګړو ترافيکي سرغړونو مرتکب ليدل شوی دی.

### په محکمه کې نه حاضرېدل يا د ترافيکي سرغړونو د پيسو نه ورکول

د قانون د پلي کوونکي يو افسر له لوري د صادرې شوې احضاريې په ځواب کې د قانون د محکمې پر وړاندې نه حاضرېدل، يا د يوه حکم له صادرېدلو وروسته د ټکټونو د پيسو نه ورکول، ښايي ستاسو د موټر چلولوامتيازونو د ځنډولو لامل شي. وروسته له دې چې تاسو محکمې ته حاضر شئ يا د احضاريې پيسې ورکړئ، محکمه به د موټوري نقليه وسيلو له اداری څخه وغواړي چې ستاسو ځنډول وتړي. تاسو کولی شئ له خپلې بيمې له چمتو کوونکي څخه د راتلونکي مالي مسؤوليت ثبوت (SR22 فورم) په بريښنايي توګه استولو او د توقيف مودې لپاره SR22 ساتلو په غوښتنې سره خپل ځنډول توقيف کړئ.

### د ځنډول کېدو پر مهال موټر چلول

د ځنډول کېدو پر مهال د موټر چلول يوه جدي ترافيکي سرغړونه ده. له يوې مخکينی سرغړونې سره د ځنډول کېدو پر مهال موټر چلول کېدای شي ستاسو د موټر چلولو په سوابقو کې د کوچنی سرغړونې يا جرم د محکوميت لامل شي. د محکمې له لوري وضع شوې جريمې ښايي پام وړ وي او محکوميتونه کېدای شي د بيمي د حق د زياتېدلو لامل شي. موټوري نقليه وسيلو اداره تاسو په کلکه هڅوي چې د موټر چلولو له ځنډول شوي جواز سره يوه موټوري نقليه وسيله و نه چلوئ.

### د نشې په حالت کې د نقليه وسيلې چلول

د نشې په حالت کې د نقليه وسيلې چلول يا له قانوني حد (۰.۰۸) څخه د وينې د الکولو له لوړ غلظت (BAC) سره د موټر چلول جنايي سرغړونه يا جرم دی او د نقليه وسيلې د چلولو لپاره ستاسو پر امتياز سملاسي اغېز لري. د يوه شخص د وينې د الکولو غلظت (BAC) په ټاکلو کې اساسي عوامل د کارول شويو الکولو اندازه، الکول څومره ژر کارول شوي، او د شخص د بدن وزن دي. که د قانون د پلي کولو يو افسر په يو احتمالي علت دا باور کړي چې يو موټر چلوونکی له9-30-9 IC 9-30-6, IC 9-30-5, IC، يا 9-30-15 IC سره سم يوه سرغړونه کړې ده، افسر ښايي له موټر چلوونکي وغواړي د شخص په سيستم کې د الکولو د اندازې د ټاکلو لپاره کيمياوي ازموينه وکړي. که قاضي ومومي چې احتمالي لامل شته دی، په داسې توګه چې شخص د نشې په حالت کې نقليه وسيله چلولې ده، ښايي هغه شخص د موټر چلولو د امتيازونو له ځنډولو سره مخ شي.

- هغه موټر چلوونکی چې په کیمیاوي ازموینه کې پاتې راشي، د ۱۸۰ ورځو لپاره به د موټر چلولو د امتیازونو له ځنډول کېدو سره مخ شي.
- هغه موټر چلوونکی چې له کیمیاوي ازموینې د تسلیمولو څخه انکار وکړي، د یو کال لپاره به د موټر چلولو د امتیازونو له ځنډول کېدو سره مخ شي.
- یو موټر چلوونکی چې د نشې په حالت کې د موټر چلولو مخکینی محکومیت ولري او د کیمیاوي ازموینې د تسلیمولو څخه انکار وکړي، د دوو کلونو لپاره به د موټر چلولو امتیازونو له ځنډول کېدو سره مخ شي.

په احتمالي لامل ځنډول کېدو سربېره، محکمه ښایي د نشې په حالت کې د موټر چلولو د محکومیت له امله د یو شخص د موټر چلولو امتیازونه وځنډوي. تکراري سرغړونکو لپاره د ځنډول کېدو موده ښایي اوږدې وي. دې سرغړونې لپاره په جزاګانو کې ښایي هغه شرایط شامل وي چې ستاسو د موټر چلولو پر امتیازونو لګول شوي دي.

که موټر چلوونکی پر شرایطو برابر وي، محکمه ښایي د موټر چلولو د ځانګړو امتیازونو لپاره یو امر صادر کړي. محکمه ښایي د بلېدلو انټرلاک (ignition interlock) وسیلې نصبول هم اړین وګڼي، چې په میخانیکي توګه د موټر چلوونکي د وینې د الکولو کچه ګوري مخکې له دې چې هغه وکولای شي موټر چالان کړي.

کله چې له ۱۸ کلونو د کم عمر یو موټرچلوونکی د نشې په حالت کې د موټر چلولو لپاره احضار شي، د ماشومانو محکمه هم ښایي د هغه د موټر چلولو د امتیازونو د ځنډولو سپارښتنه وکړي.

## د نشې په حالت کې د کښتۍ چلول

که د نشې په حالت کې د کښتۍ پر چلولو محکوم شئ، ستاسو د موټر چلولو امتیازونه د یوې نقلیه وسیلې د چلوونکي سره یو شان مجازاتو تابع دي.

د نشې په حالت کې د کښتۍ چلولو محکومیت موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته استول کېږي او محکومیت ستاسو د موټر چلوونکي د سوابقو برخه ګرځي.

د کښتۍ چلولو اړوند نورې سرغړونې، لکه په بې پروایي سره د نورو خوندیتوب په خطر کې اچول یا د موټر چلولو د امتیازونو د ځنډول کېدو پر مهال د کښتۍ چلول، هم ستاسو د موټر چلوونکي سوابقو ته زیاتېږي.

## د اولا د نفقې د پیسو نه ورکول

یوې محکمې چې معلومه کړې وی یو پلار یا یوه مور د ماشوم د نفقې په ورکړه کې مجرم یا متخلف دی، ښایي موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته امر وکړي چې سملاسي د متخلف پلار یا مور د موټر چلولو امتیازونه تر هغه وخت پورې وځنډي تر څو چې موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) له محکمې څخه د پلار یا مور د موټر چلولو د امتیازونو د بېرته ګرځولو لپاره له محکمې څخه یو امر ترلاسه کړي.

که یوه ځایي اداره چې د ماشوم د ملاتړ د پیسو د ورکړو د اجرا مسؤولیت لري، معلومه کړي چې یو پلار یا مور د محکمې ناستې ته نه دی حاضر شوی یا حاضر شوی خو مجرم یا متخلف پېژندل شوی، بیا دا اداره هم کولای شي موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته امر واستوي او غوښتنه ترې وکړي چې د پلار یا مور د موټر چلولو امتیازونه تر هغه پورې وځنډوي تر څو چې موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته خبر ورکړل شي چې پلار یا مور پیسې ورکړي دي یا یې د پیسو د ورکړې پلان جوړ کړی دی.

## له بې اعتباره پیسو سره موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته د پیسو ورکړه

که موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته د هر ډول خدمتونو یا فیسونو لپاره د پیسو یوه ورکړه واستوئ او هغه ورکړه ترسره نه شي، موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) به په نامحدود ډول ستاسو د موټر چلولو امتیازونه وځنډوي. خپل د موټر چلولو امتیازونو د بېرته ګرځولو لپاره، باید د مکلفیت پیسې جمع د خدمتونو، ټولولو او بېرته ګرځولو ټول پلي کېدونکي فیسونه ورکړئ.

## خپل د موټر چلوونکي د سوابقو کتل او بېرته ګرځول یې

خپل د موټر چلولو سوابقو د هر ډول ستونزې له حل څخه وروسته، ښایي لېوالتیا ولرئ چې یو اعتباري باورلیک ترلاسه کړئ او بېرته سړک ته وګرځئ. ستاسو لومړی سرچینه چې ویې ګورئ باید ستاسو د موټر چلوونکي سوابق وي، چې هر وخت یې له کوم لګښت پرته په IN.gov/BMV کې کتلی شئ. د خپلې لومړۍ کتنې لپاره، باید د IN.gov/BMV یو حساب جوړ کړئ. په myBMV.com کې په "Viewable Driver Record"کې ستاسو د موټر چلولو د جواز حالت او همدارنګه د احضاریو، ځنډونو، او د دې معلومات شامل دي چې څنګه کولی شئ خپل د موټر چلولو امتیازونه بېرته راوګرځوئ که نا تکمیلې غوښتنې درته پاتې وي.

IN.gov/BMV ته له ننوتلو وروسته، د پاڼې په کیڼ اړخ کې "Driver Record"وټاکئ، بیا د خپلو سوابقو د لیدلو لپاره "Viewable Driver Record"وټاکئ.

همدارنګه د "موټر چلوونکي رسمي سوابق " (Official Driver Record) هم شته دي چې په ۴ ډالر يې پېرلی شئ. د موټر چلولو د امتيازونو د بېرته ګرځولو هر ډول ناتکميلي غوښتنې، سره له هغې نېټې چې تاسو يې د بېرته ګرځولو لپاره وړ ياست، به په (Reinstatement Requirements) بکس کې د موټر چلوونکی د ليدلو وړ سوابقو پورتنۍ برخې سره نږدې يا ستاسو د موټر چلوونکي رسمي سوابقو کې لېست شوي وي.

که ستاسو د موټر چلولو امتيازونه لا هم د محکمې له لورې ځنډول شوي وي، د محکمې د تليفون شمېره به د محکمې له لورې د ځنډولو له اړوند امر سره يو ځای لېست شوي وي. تاسو بايي له محکمې سره اړيکه ونيسئ چې څنګه کولای شئ د يوې ځانګړې ځنډونې لپاره د دوی اړتياوې پوره کړئ. کله چې د محکمې اړتياوې پوره شي، محکمه به په مستقيم ډول موټوري نقليه وسيلو اداري (BMV) ته د بېرته ګرځولو معلومات واستوي. وروسته له دې چې له محکمې څخه معلومات ترلاسه شي، د موټوري نقليه وسيلو ادرې له لوري پروسس ښايي تر ۱۰ کاري ورځو پورې وخت ونيسي.

- يادښت: د موټرچلوونکي د ليدلو وړ سوابق چاپېدای نه شي، او بايد ستاسو د موټر چلوونکي د سوابقو د رسمي ترانسکرېپټ په توګه و نه کارول شي. د موټر چلوونکي رسمي سوابق ستاسو د موټر چلوولو رسمي ترانسکريپټ دی او د کسانو، محکمو، ايالتي ادارو او استخداموونکو له لورې کارول کېدای شي. له پېرلو وروسته تر ۳۰ ورځو پورې کولای شئ خپل د موټر چلولو رسمي سوابق چاپ کړئ. په IN.gov/BMV کې د پېرولو پر مهال به ستاسو د موټر چلولو د رسمي سوابقو يوه بريښنايي نسخه هم وړاندې شي. همدارنګه کسان کولای شي خپل د موټر چلولو رسمي سوابق د BMV Connect په يو کيوسک کې هم وپيري او چاپ يې کړي.

## عادتي ترافيکي سرغړونکی

د انديانا قانون د هغو موټر چلوونکو لپاره جدي مجازات په پام کې نيولي دي چې په يوه ۱۰ کلنه دوره کې په مکرر ډول ترافيکي سرغړونې کوي. موټوري نقليه وسيلو اداره په قانون کې له شته معيارونو څخه کار اخلي چې په لاندې برخو کې خلاصه شوي دي تر څو معلومه شي چې ايا يو موټر چلوونکی د عادتي ترافيکي سرغړونکي (HTV) په توګه وړ يا پر شرايطو برابر دی او که نه.

### *الف برخه (۱۰ کلن يا د ټول عمر ځنډول): دوې عمده سرغړونې چې د ټپي کېدلو يا مرګ لامل شي*

يو عادتي ترافيکي سرغړونکی هغه شخص دی چې په يوه ۱۰ کلنه موده کې يې په تراو دوه د محکمې حکمونه جمع شي چې د ټپي کېدلو يا مړينې لامل شوي وي. لاندې ځينو هغو جرمي سرغړونو ته اشاره کېږي چې د دې لامل کېږي تر څو ستاسو د موټر چلولو پر امتيازونو د عادتي ترافيکي سرغړونکي (HTV) حالت ولګول شي.

- د موټوري نقليه وسيلې د چلولو له امله په بې احتياطۍ سره قتل
- د موټوري نقليه وسيلې د چلولو له امله قصدي يا غير قصدي قتل
- په داسې پېښه کې، چې د مړينې يا ټپي کېدلو لامل کېږي، ښکېل چلوونکی چې د پېښې په صحنه کې نه درېږي او معلومات او مرسته نه وړاندې کوي
- د نشې په حالت کې د موټر چلول چې د مرګ لامل شي
- په داسې حالت کې د موټر چلول چې د وينې د الکولو محتوا له ۰.۰۸ څخه زياته وي او د مرګ لامل شي

هغه موټر چلوونکي چې په يوه ۱۰ کلنه موده کې له پورته يادوو شويو مواردو څخه دوه د محکمې حکمونه جمع کوي، د موټر چلولو امتيازونه به يې د ۱۰ کلونو لپاره ځنډول کېږي.

هغه موټر چلوونکي چې په يوه ۱۰ کلنه موده کې د نشې په حالت کې د موټري نقليه وسيلې د چلولو لپاره چې د مرګ لامل شي، يا د وينې د الکولو له ۰.۰۸ سنله يا زياتې محتوا سره د موټوري نقليه وسيلې د چلولو لپاره چې د مرګ لامل شي دوه د محکمې حکمونه جمع کړي، د دوی د موټر چلولو امتيازونه به د تل لپاره ځنډول کېږي.

د ۲۰۰۱ د جون له ۳۰ مې څخه مخکې، هغه موټر چلوونکي چې په يوه ۱۰ کلنه موده کې يې د نشې په حالت کې د موټوري نقليه وسيلې د چلولو لپاره چې د مرګ لامل شوي وي، يا د وينې د الکولو له ۰.۱۰ سلنې محتوا او د خپل تنفس د ۲۱۰ ليترو يا ډېر سره د موټوري نقليه وسيلې د چلولو لپاره چې د مرګ لامل شوي وي، دوه د محکمې حکمونه جمع کړي وي، د هغوی د موټر چلولو امتيازونه د تل لپاره ځنډول شوي دي.

### *ب برخه (۱۰ کلن ځنډول): درې عمده سرغړونې*

هغه موټر چلوونکي چې په يوه ۱۰ کلنه موده کې له لاندې يادوو شويو مواردو څخه درې د محکمې حکمونه جمع کوي، د موټر چلولو امتيازونه به يې د ۱۰ کلونو لپاره ځنډول شي.

- د نشې په حالت کې يا د وينې د الکولو له ۰.۰۸ سلنې يا زياتې محتوا سره موټر چلول
- د ۲۰۰۱ د جون له ۳۰ مې څخه مخکې، هغه موټر چلوونکي چې د وينې د الکولو له ۰.۱۰ سلنې محتوا او د خپل تنفس له ۲۱۰ ليترو يا زيات سره د نقليه موټوري وسيلې پر چلولو محکوم شوي دي

- د ۱۹۹۷ د جولای له ۱ څخه مخکې، هغه موټر چلوونکي چې د نشې په حالت کې د موټوري نقلیه وسیلې پر چلولو چې د مرګ لامل شوی وي، یا د وینې د الکولو له ۰.۱۰ سلنې محتوا او د خپل تنفس د ۲۱۰ لیترو یا زیات سره د موټوري نقلیه وسیلې پر چلولو محکوم شوي وي
- په بې احتیاطی سره موټر چلول
- جنایي بې احتیاطي لکه یو جرم چې د موټوري نقلیه وسیلې چلول پکې وي
- مسابقه (د سرعت د ټاکلو مسابقه) یا د قانون پر خلاف د سرعت په سیالی کې ګډون
- د پېښې د صحنې پرېښودل یا د اړتیا په حالت کې چارواکو ته د پېښې په اړه خبر نه ورکول
- د IC 35-44.1-3-1 له مخې د قانون د پلي کېدلو پر وړاندې مقاومت کول
- د انډیانا د موټوري نقلیه وسیلې د قانون له مخې هر جنایت یا هر هغه جنایت چې په هغه کې له نقلیه وسیلې څخه ګټه اخیستل د جرم عنصر وي
- په موټور چلېدونکی سیکل چلول - د IC 9-24-1-1(b) په سرغړونه کې B صنف
- په الف برخه کې لیکل شوي هره سرغړونه

### ج برخه: په یوه لس کلنه موده کې لس ترافیکي سرغړونې

تر دې برخې لاندې یو عادتي ترافیکي سرغړونکی (HTV) د موټر چلولو د امتیازونو له پنځه کلن ځنډوني سره مخ کېږي د هغه شخص لپاره چې په یوه ۱۰ کلنه دوره کې یې ۱۰ یا زیاتې ترافیکي سرغړونې کړي وي، چې له هغو څخه یوه یې په الف یا ب برخه کې له عمده سرغړونو څخه وي یا له لاندې هغو څخه یوه وي:

- د موټوري نقلیه وسیلې چلول په داسې حال کې چې د شخص د موټر چلولو جواز د IC 9-1-4-52 (فسخه شوی ۱۹۹۱ جولای ۱)، IC 9-24-18-5(b) (فسخه شوی ۲۰۰۰، جولای ۱)، IC 9-24-19-2، یا IC 9-24-19-3 له مخې پر یوه سرغړونه د شخص د محکومیتونو له امله ځنډول شوی یا لغوه شوی وي
- د موټر چلولو د جواز له ترلاسه کولو پرته د نقلیه موټوري وسیلې چلول

د بېلګې په توګه، په یوه ۱۰ کلنه دوره کې د سرعت له نهو ټکټونو او په بې احتیاطی د موټر چلولو له یو محکومیت سره یو شخص به د عادتی ترافیکي سرغړونکي (HTV) په توګه له یو پنځه کلن ځنډوني سره مخ شي.

### د یو عادتي ترافیکي سرغړونکي په توګه د ځنډول کېدو په حالت کې د نقلیه وسیلې چلول

د انډیانا قانون وایي هغه شخص چې د یوه عادتي ترافیکي سرغړونکي په توګه ځنډول کېدو په حالت کې د نقلیه وسیلې پر چلولو محکوم شي، ښایي د محکمې له لوري د یوې ټاکلې مودې لپاره یې د موټر چلولو نور امتیازونه هم وځنډول شي.

### ۵م محدودیت: د موټر چلولو ازمایښتي یا ځانګړي امتیازونه

د هغه شخص د موټر چلولو پر جواز یو "۵م محدودیت " لګول کېږي چې د محکمې د امر له مخې د سختی، ازمایښتي، مشروط، یا ځانګړي امتیازونه ورکړي شوي وي.

۲م محدودیت به نور د موټر چلولو سوابقو ته د عادتي ترافیکي سرغړونکي (HTV) د ځنډونو لپاره/ د عادتي ترافیکي سرغړونکي (HTV) د موټر چلولو ازمایښتي جوازونو ته چې د ۲۰۱۵ د جنورۍ له ۱ څخه مخکې یې وخت تېرېږي، زیات نه شي.

### SR22 بیمه او د موټر چلولو ځانګړي امتیازونه

یو شخص چې د محکمې له لوري د موټر چلولو ځانګړي امتیازونه ورکړل شوي دي، باید:

- د موټر چلولو د ځانګړو امتیازونو د مودې لپاره د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) سره په دوسیه باندې یو د اجرا وړ SR22 وساتي
- د موټر چلولو د ځانګړو امتیازونو د ورکړې لپاره د محکمې د حکم یو نقل له ځان سره ولري یا حکم په هغه نقلیه وسیله کې ولري چې د شخص له لوري چلول کېږي
- د قانون د پلي کوونکو په غوښتنه د موټر چلولو د ځانګړو امتیازونو د حکم یو نقل وړاندې کړي
- د هرې موټوري نقلیه وسیلې د چلولو پر مهال په اعتباري توګه صادر شوی یو باورلیک له ځان سره ولري

# شپږم څپرکی | ترافیکي نښې او اشارې

ترافیکي نښې ترافیکي جریان کنټرولوي، سړکونه او لویې لارې د موټر چلوونکو، سایکل چلوونکو او پلي کسانو لپاره خوندي ګرځوي. دغه نښې چې د انډیانا د ټرانسپورټ ریاست او ځایي حکومتونو له لوري لګول شوي دي، له رنګونو، لیکلو پیغامونو او سېمبولونو څخه ګټه اخلي څو له موټر چلوونکو سره مرسته وکړي چې ژر په معلوماتو پوه شي. انډیانا د موټر چلولو د جواز ترلاسه کولو لپاره پر دغو نښو پوهېدل اړین دي.

## د ترافیکي نښو رنګونه

د ترافیکي نښې د شالید رنګ پر نښه د بنودل شویو معلوماتو د ډول په پېژندلو کې مرسته کوي. اووه رنګونه دي چې معمولاً د نښو لپاره کارول کېږي.

***سرې ترافیکي نښې***
سرې ترافیکي نښې هغه ترافیکي اړتیاوې ښیي چې موټر چلوونکي اړ دي څو د ترافیکو خوندیتوب ته د ګواښونو د مخنیوي لپاره سملاسي اقدام وکړي. د "ناسمه لار " ( "Wrong Way") نښه له سره شالید سره د یوې ترافیکي نښې مثال دی.




***ژېړې یا فلورسېنټ ژېړې-زرغونې ترافیکي نښې***
ژېړې یا فلورسېنټ ژېړې-زرغونې ترافیکي نښې موټر چلوونکي د سړک د ځانګړو شرایطو او په مخ کې د خطرونو لپاره چمتو کوي او موټر چلوونکو ته د نږدې ښوونځي د سیمو په اړه خبرداری ورکوي. د "لوندوالي پر مهال ښویېدل " ("Slippery When Wet") نښه له ژېړ شالید سره د ترافیکي نښې یو مثال دی. فلورسېنټ ژېړې-زرغونې نښې موټر چلوونکو ته د نږدې ښوونځیو، پلي کسانو، سایکلونو، د لوبو د میدانونو، او د ښوونځیو د بسونو د لارو په اړه خبرداری ورکوي. د "پلي کسانو تېرېدل " ("Pedestrian Crossing") د ښوونځي د تېرېدلو لپاره د ترافیکي نښې یو مثال دی چې ښایي فلورسېنټ ژېړ-زرغون شالید ولري.



***سپینې ترافیکي نښې***
سپینې ترافیکي نښې ترافیکي مقررات، لکه د سرعت محدودیتونه، چې موټرچلوونکي یې باید مراعات کړي، او همدارنګه ګټور معلومات لکه د ایالتي لویو لارو په نښه کوونکي ښیي. د "سرې اشارې پر مهال نه تاوېدل " ("No Turn On Red") له سپین شالید سره د ترافیکي نښې یو مثال دی.




***نارنجي ترافیکي نښې***
نارنجي ترافیکي نښې موټر چلوونکو ته د موقتي ترافیکي شرایطو په اړه خبرداری ورکوي. دا نښې زیاتره دي لپاره کارول کېږي څو موټر چلوونکو ته وړاندې د لویې لارې د رغېنیزو او ساتنې د پروژو له امله د شرایطو په اړه خبرداری ورکړي. د "مخکې نښه لرونکی " ( "Flagger Ahead") نښه له نارنجي شالید سره د ترافیکي نښې یو مثال دی.



***زرغونې ترافیکي نښې***
زرغونې ترافیکي نښې مجاز حرکتونه او هدایات یا لارښوونې ښیي، لکه لویې لارې ته دننه کېدل او بهر کېدل یا راتلونکو منزلونو ته واټن. د واټن ښودونکي یوه نښه له زرغون شالید سره د ترافیکي نښې یو مثال دی.




***آبي ترافیکي نښې***
آبي ترافیکي نښې د سړک خدمتونه او معلومات ښیي. یوه نښه چې له سړک څخه د وتلو په راتلونکي ځای کې د خدمتونو په اړه معلومات ښیي له آبي شالید سره د ترافیکي نښې مثال دی.




***نصواري ترافیکي نښې***
نصواري ترافیکي نښې نږدې تفریحي او فرهنګي ځایونه ښیي. یوه نښه چې نږدې دولتي پارک ښیي له نصواري شالید سره د ترافیکي نښې یو مثال دی.



## د ترافیکی نښو شکلونه

د ترافیکي نښو شکل هم په نښه کې د ښودل شوي معلوماتو ډول ښيي. د ترافیکي نښو لپاره اووه عام شکلونه کارول کېږي.




***دایروي ترافیکي نښې***

دایروي ترافیکي نښې د اورګاډي د تېرېدلو راتلونکي ځایونه ښيي.

---




***متساوی الاضلاع مثلث ترافیکي نښې***

د دریو مساوي ضلعو ترافیکي نښې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې یوې تقاطع ته په نږدې کېدلو سره خپل سرعت کم کړي، او نورو موټر چلوونکو یا پلیو ته د لومړیتوب د حق ورکولو لپاره بشپړ ودرېدلو ته چمتو اوسي.

---




***د درې کونجه بیرغ په شکل ترافیکي نښې***

د درې کونجه بیرغ په شکل ترافیکي نښې د دوه طرفه سړکونو په کیڼ لوري کې لګول کېږي څو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکړي چې په کیڼ لوري کې له نورو نقلیه وسیلو څخه تېر نه شي.

---






***مستطیلي ترافیکي نښې***

مستطیلي ترافیکي نښې له درې ډوله معلوماتو څخه یو ډول یې ښيي. ښایي ترافیکي مقررات وښیي چې موټرچلوونکي یې باید رعایت کړي، لکه د سرعت محدودیتونه او د تاوېدلو د حرکت ممانعتونه لکه "ښي لوري ته مه تاوېږئ " ("No Left Turn").

ښایي ګټور معلومات وښیي لکه د لارې ښودونکې نښې چې یوه ایالتي لویه لار مشخصوي، یا د منزل نښې چې د راتلونکي ښار لوری ښیي.

ښایي موټر چلوونکو ته د خطرناکو شرایطو په اړه خبرداری ورکړي، لکه په سړک کې د یوې شدیدې ګولایۍ (ګرځندي) په اړه وړاندیز شوی سرعت.

د دغه وړاندیز شوي سرعت نښه زیاتره د خبرداري د لوزي یا معین ډوله نښې سره لګول کېږي.

---



***د لوزي یا معین په شکل ترافیکي نښې***

د لوزي یا معین په شکل ترافیکي نښې موټر چلوونکو ته د سړک د راتلونکو شرایطو او خطرونو په اړه خبرداری ورکوي. د "د لوندوالي پر مهال ښویېدونکی " ("Slippery When Wet") نښه د لوزي یا معین په شکل د ترافیکي نښې یو مثال دی.

---



***پنځه ضلعي ترافیکي نښې***

پنځه ضلعي ترافیکي نښې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې ښوونځي ته نږدې سیمې ته ننه کېږي چې ښایي ماشومان به له سړک څخه تېرېږي.

---




***اته ضلعي ترافیکي نښې***

اته ضلعي ترافیکي نښې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې باید په یوه څلورلارې یا تقاطع کې ودرېږي او د لومړیتوب مناسب حق رعایت کړي.

*د خبرداري نښې*

د خبرداري نښې موټر چلوونکي د سړک راتلونکو شرايطو او خطرونو ته چمتو کوي. لاندې نښې د انډيانا د خبرداري ترافيکي نښو مثالونه دي:



زيات شوی لين



سايکل



د بګۍ خبرداری



څاروي



نرۍ پل



د يو شي ښودونکي
(Object Markers)



مخکي څلورلارې يا
تقاطع ده



مخکي ګولايي يا ګرځندی دی



هوسی



د ګالف موټر




درېدو ته چمتو شئ



تېزه ګولايي يا
ګرځندی، ورو شئ



وېشل شوی لويه لاره
پيلېږي



د کرونډي ماشينونه



د اور وژني مرکز



لين پای ته رسيږي



نېغ مخ ځوړ



مخکي تم ځای



د لينونو بدلون




کمه خالي فضا



د سړک کمه ځنډه



ترافيک يو ځای کېږي



دوه طرفه ترافيک



کوږ ووږ سړک



پلي



د لوبو د ډګر
خبرداري



فرعي سړک



د لوندوالي پر
مهال ښوييدونکی



"T" تقاطع



ترافيکي اشاره



مخکي لومړيتوب ورکول




پر پلونو يخ ته پام کوئ

### د لويي لارې د رغاونې او ساتنې نښې

ساختماني سيمي يا زونونه موټر چلوونکو او ساختماني کارکوونکو دواړو ته خطر رامنځته کوي. د لويي لارې نارنجي رغنيزې يا ساختماني نښې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې ساختماني سيمو يا زونونو ته د نږدې کېدلو پر مهال احتياط وکړي. ځينې رغنيزې يا ساختماني نښې لارښووني وړاندې کوي لکه د انحراف نښه يا مقررات ښيي لکه د کار د سيمې د اضافه شوې جريمې نښې.



انحراف



مخکي انحراف



د کار د ځای اضافه شوي جريمي



مخکي بيرغ لرونکی


مخکي بيرغ لرونکی



ښی لين تړلی دی



مخکي د سړک کار


مخکي د کار ډله



د کار د ځای د سرعت حد


---

### د رېل پټلی نښې


د رېل پټلی ترافيکي نښې موټر چلوونکو ته د رېل پټلی د تېرېدلو د راتلونکو ځايونو په اړه خبرداری ورکوي.




د رېل پټلی د تېرېدلو ځای



د رېل پټلی د تېرېدلو ځای


د رېل پټلی د تېرېدلو ځای


د رېل پټلی د تېرېدلو ځای

---

### د ښوونځي د سيمي نښې

ژېړې يا فلوروسنټ ژېړې-زرغونې نښې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې ښوونځي ته نږدې سيمې ته دننه کېږي چې ښايي ماشومان به له سړک څخه تېرېږي.



ښوونځی مخکي د تېرېدلو ځای


ښوونځی د تېرېدلو ځای



د ښوونځي بس مخکي تم ځای



د ښوونځي بس مخکي تم ځای

### د ورو تلونکی نقليه وسيلی نښان

د ورو تلونکي نقلیه وسیلې نښان نارنجي فلوروسینټ مرکز او سرې انعکاسي څنډې لري، او یوه ورو تلونکي نقلیه وسیله ښيي چې سرعت یې په یو ساعت کې له ۲۵ مایلونو څخه نه شي زیاتېدای.



ورو تلونکي نقلیه وسیله

---

### *د سرعت مشورتي نښې*


د سرعت مشورتي نښې ښايي د خبرداري له ځینو نښو سره یو ځای وي.




په وتلو کې توصیه شوی سرعت




په ځلورلارې یا تقاطع کې توصیه شوی سرعت





په مایله سطحه کې توصیه شوی سرعت




مخکې د سرعت حد

### د ترافیکی مقرراتو نښې

د ترافیکي مقرراتو نښې د ترافیکو سرعت او همدارنګه حرکت او د ښودلو قواعد تنظیموي چې موټرچلوونکي یې باید رعایت کړي. لاندې نښې د انډیانا ترافیکي مقرراتو د نښو مثالونه دي:




تقاطع یا ځلورلارې مه بندوئ




مه ننه کېږئ




مه تېرېږئ




بیړني درېدل




ښی لورې وساتئ





کیڼ لین باید کیڼ لوري ته وګرځي




یوازې د زرغون غشي پر مهال کیڼ لوري ته وګرځئ




کیڼ لوري ته د ګرځېدلو اشاره




د زرغون څراغ پر مهال کیڼ لوري ته په ګرځېدلو کې د لومړیتوب حق مراعات کړئ




محدود تمځای




حد اقل سرعت




ګنې تاویدنې



د سره څراغ پر مهال


لاری منع دي


ښي لوري ته ګرځېدل منع دي



تم کېدل منع دی


تم کېدل منع دی


کیڼ لوري ته ګرځېدل منع دي



ریزرف شوی تمځای
د وان د لاسرسي ور



ریزرف شوی
تمځای



د تمځای پیسي
ورکړئ



یو طرفه



یو طرفه



بېرته په شا ګرځېدل
منع دي



ودرېږئ



د سرعت سیمه
مخکي



ورو ترافیک
ښی لوری وساتئ



ښي لوري ته وګرځي



ښی لین باید
ښي لوري ته وګرځئ




محدود شوی لین



غلطه لار




دوه طرفه کیڼ لوري
ته ګرځېدل


ښي لوري ته وګرځئ
یا ترې تېر شئ


کیڼ لوري ته وګرځئ
یا ترې تېر شئ


د موټر د بوکسل کېدو
سیمه


د سره څراغ پر
مهال دلته
ودرېږئ



د لومړیتوب حق ورکول

---

### بشپړوونکي لوحې

ځینې وختونه بشپړونکي لوحې د دربدلو د نښو په پای کې اضافه کېږي تر څو هغه لوري وښیي چې په خلورلارې یا تقاطع باید پرې ودرېږئ.



ټولي لارې



مقابل ترافیک

## ترافيکي لارښووونو نښې

ترافيکي لارښوونو نښې موټر چلوونکو ته د سړک د ډول چې سفر پرې کوي، لويې لارې ته د ننوتلو او وتلو د راتلونکو لارو، او د بېلابېلو منزلونو د واټنونو په اړه معلومات وړاندې کوي. لاندې نښې د انډيانا ترافيکي لارښوونو د نښو مثالونه دي:




هوايي ډګر



د بس تم ځای




لګول شوي واټنونه




له لويې لارې څخه د وتلو لارې




د پرمختللي لارښووني نښه




د وهل شوي واټن نښان




ايالتي سړک




د متحده ايالتونو لويه لار



ايالت منځي يا د ايالتونو تر منځ

---

## د موټر چلوونکو د خدمتونو او تفريحي نښې

د موټر چلوونکي د خدمتونو او تفريحي نښې چلوونکو ته د نږدې اسانتياوو، پارکونو او تفريحي سيمو په اړه معلومات وړاندې کوي.



استوګنځايونه د لاسرسي وړ دي




اسانتياوې د لاسرسي وړ دي



د سايکل ځغلولو لار



د کښتۍ رمپ



د کمپينګ سيمه



د خوړو خدمتونه د لاسرسي وړ دي



د تيلو خدمتونه د لاسرسي وړ دي




د معلولينو تمځای



د معلولينو تمځای




تاريخي نښان




روغتون




د دمې سيمه




د سړک / هوا معلومات




ايالتي پارک



تليفون شته

## ترافیکي اشارې


د ترافیکو د کنټرول وسیلې لکه د دریدلو څراغونه او نښې د ترافیکي جریان د کنټرول لپاره کارول کېږي او په څلورلارو او د پلیو د تیرېدلو په ځایونو کې د لومړیتوب حق ښیي.

### په یوه څلورلارې یا تقاطع کې د موټر چلول

د زرغون څراغ معنا دا ده چې ولاړ شئ. که له زرغون څراغ سره مخ یئ، تاسو د لومړیتوب حق لرئ او کولای شئ په یوه څلورلارې یا تقاطع کې تر هغې موټر وچلوئ چې له نورو نقلیه وسیلو او پلیو څخه پاکه وي.

ثابت ژېړ څراغ په دې معنا دی چې زرغون څراغ پای ته رسیدلی او اشاره سره کېږي. که له ثابت ژېړ څراغ سره مخ یئ، ستاسو د لومړیتوب حق پای ته رسېږي. که یوې څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېږئ او دومره نږدې یاست چې نه شئ کولای په خوندي توګه ودرېږئ، بنایي خپل حرکت بشپړ کړئ.


سور څراغ دا معنا لري چې ودرېږئ. له نورو لوریو څخه څلورلارې یا تقاطع ته دننه کېدونکي ترافیک د لومړیتوب حق لري. که له سره څراغ سره مخ یئ، نه شئ کولای څلورلارې یا تقاطع ته دننه شئ تر څو چې تاسو ته مخامخ څراغ زرغون شوی نه وي او څلورلارې یا تقاطع خالي شوې نه وي.




### په یوه څلورلارې یا تقاطع کې تاوېدل

که له زرغون غشي سره مخ یئ چې سره یا زرغون څراغ سره ښودل کېږي، تاسو د لومړیتوب حق لرئ او کولای شئ په یوه څلورلارې یا تقاطع کې وګرځئ (تاو شئ)، تر څو چې څلورلارې یا تقاطع خالي وي.

که له زرغون څراغ سره مخ یئ چې له غشي پرته ښودل کېږي، تاسو د لومړیتوب حق لرئ او کولای شئ په یوه څلورلارې یا تقاطع کې وګرځئ (تاو شئ)، تر څو چې څلورلارې یا تقاطع خالي وي. تاسو باید د لومړیتوب حق ټولو مخامخ راتلونکو ترافیکو ته ورکړئ. په یو وخت کې یواځې یوه نقلیه وسیله بنایي په یوه څلورلارې یا تقاطع کې کیڼ لوري ته وګرځي.



### د ګرځېدونکو یا تاوېدونکو حرکتونو لپاره ژېړ سترګک وهونکي غشي

د تاوېدلو د حرکت لپاره ژېړ سترګک وهونکی څراغ په دې معنا دی چې کولای شئ یواځې پلیو او مخامخ ترافیکو ته د لومړیتوب د حق له ورکولو وروسته خپل ګرځېدلو یا تاوېدلو ته ادامه ورکړئ.

که له ثابت ژېړ څراغ یا غشي سره مخ یئ، ستاسو د لومړیتوب حق پای ته رسېږي.

### له پوره سره څراغ څخه تېرېدل

که له یو سره څراغ یا غشي سره مخ یئ، ستاسو د لومړیتوب حق پای ته رسېدلی دی. که د یوې څلورلارې یا تقاطع په منځ کې یئ، کولای شئ د مخامخ ترافیکو له درېدلو وروسته خپل تاوېدلو ته ادامه ورکړئ. که له سره څراغ یا غشي سره مخ یئ، نه شئ کولای څلورلارې یا تقاطع ته دننه شئ تر څو چې تاسو ته مخامخ څراغ زرغون شوی نه وي او څلورلارې یا تقاطع خالي شوې نه وي.


له یوې څلورلارې یا تقاطع څخه د سره څراغ یا غشي پر مهال ښي لوري ته د ګرځېدلو یا تاوېدلو لپاره، کله چې مجاز وي، باید بشپړ ودرېږدئ، وګورئ څو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د تاوېدلو په مسیر کې کومه نقلیه وسیله یا پلي کسان نشته یا ستاسو مسیر ته د ننوتلو په حال کې نه دي، وګورئ چې "د سره څراغ پر مهال تاوېدل منع دي " ( "No Turn on Red") نښه نشته او سم لین وکاروئ.

که له یوې یو طرفه کوڅې یا سړک څخه بلې یو طرفه کوڅې یا سړک ته تاوېږئ، کولای شئ د سره څراغ یا غشي پر مهال هم له یوې څلورلارې یا تقاطع څخه کیڼ لورې ته وګرځئ. باید بشپړ ودرېږدئ، وګورئ څو ډاډ تر لاسه کړئ چې ستاسو د تاوېدلو په مسیر کې کوم نقلیه وسیله یا پلي کسان نشته یا ستاسو مسیر ته د ننوتلو په حال کې نه دي، وګورئ چې "د سره څراغ پر مهال تاوېدل منع دي " ( "No Turn on Red" ) نښه نشته او سم لینونه وکاروئ.



### ژېړ سترګک وهونکي څراغونه

په څلورلارې یا تقاطع کې له غشي ښودلو پرته یو سترګک وهونکي ژېړ څراغ په دې معنا دی چې تاسو باید ورو شئ او د یوه څلورلارې یا تقاطع څخه د تېرېدلو پر مهال باید احتیاط وکړئ. که کیڼ لورې ته ګرځئ، باید مخامخ ترافیکو او پلیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ. په څلورلارې یا تقاطع کې ټول ترافیک باید تاسو ته د لومړیتوب حق درکړي. سره له دې باید نورو نقلیه وسیلو او پلیو ته پام وکړئ چې هڅه کوي له څلورلارې یا تقاطع څخه تېر شي.



د ژېړ سترګک وهونکي څراغ بل ډول مستطیلي چټک سترګک وهونکي څراغ دی. مستطیلي چټک سترګک وهونکي څراغونه د پلیو د تېرېدلو په ځایونو کې کارول کېږي او یواځې هغه وخت سترګک وهي چې د یو پلي له خوا فعال شي.

### سره سترګک وهونکي څراغونه

په څلورلارې یا تقاطع کې سور سترګک وهونکي څراغ د درېدلو له نښې سره برابر دی او معنا یې داده مخکې له دې چې په احتیاط سره څلورلارې یا تقاطع ته دننه شئ باید په بشپړ ډول ودرېږئ.



که په داسې یوه څلورلارې یا تقاطع کې له سره سترګک وهونکي څراغ سره مخ یئ چې پکې د ترافیکو درېدلو ته اړتیا نه وي، یواځې هغه وخت کولای شئ حرکت ته ادامه ورکړئ چې څلورلارې یا تقاطع خالي یا صافه وي او د مقابلو ترافیکو د لومړیتوب په حق کې مداخله ونه کړئ.

که په داسې یوه څلورلارې یا تقاطع کې له سره سترګک وهونکي څراغ سره مخ یئ چې پکې ټول ترافیک اړ دي څو ودرېږي، یواځې هغه وخت کولای شئ حرکت ته ادامه ورکړئ چې ودرېږئ او هرې هغې نقلیه وسیلې ته چې له مخکې څخه په څلورلارې یا تقاطع کې ده، هرې هغې نقلیه وسیلې ته چې له تاسو څخه مخکې درېدلې ده او څلورلارې یا تقاطع ته دننه کېږي، او هر هغې نقلیه وسیلې ته چې له تاسو سره په ورته وخت کې را رسېدلې او ستاسو ښي لورې ته ده، د لومړیتوب حق ورکړئ.



### د سایکل اشارې

یوه اشاره چې یواځې د سایکل سمبولونه ښيي د سایکل لین یا د سایکل یو جلا مسیر کنټرولوي او یواځې پر سایکلونو پلي کېږي. د نقلیه وسیلو د اشارو په څېر، سره اشاره د درېدلو، ژېړه د لومړیتوب د حق پای ته رسېدلو، او زرغونه د تللو په معنا ده.

### د بس یا ټرانزیټ اشارې



یوه اشاره چې سپینې مستطیلي میلې ښیي، د بس یا ټرانزیټ لین کنټرلوي او یواځې د بس یا ټرانزیټ پر چلوونکو پلي کېږي.

### سره څراغ یا د درېدلو نښې ته نږدې کېدل

که یو سره څراغ یا د درېدلو نښې ته نږدې کېږئ، باید پر ثابته سپینه کرښه ودرېږئ. که د درېدلو کرښه نه وي، باید د درېدلو له نښې سره په عمودي توګه یا د څلورلارې یا تقاطع په خپل لورې کې د پلیو کسانو د تېرېدلو ځای ته له ننوتلو مخکې په بشپړ ډول ودرېږئ. که د پلیو کسانو د تېرېدلو ځای نه وي، څلورلارې یا تقاطع ته له ننوتلو مخکې باید په بشپړ ډول ودرېږئ.

زیاتره هغه کسان چې موټرسیکلونه، په موټور چلېدونکي سیکلونه او سایکلونو چلوي په سره څراغ کې بند پاتې کېږي او اشاره زرغونې اشارې ته نه بدلېږي. دا کسان ښایي په لاندې حالت کې په سور څراغونو کې د اوږدې مودې له انتظار څخه ډډه وکړي:

- په ترافیکي اشارې سره کنټرول کېدونکي څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېدونکی چلوونکی کولای شي له ثابت سره څراغ څخه تېر شي که چلوونکی لږ تر لږه د دوو دقیقو لپاره په بشپړه توګه ودرېږي او پوره احتیاط وکړي.
- دا قانون پر اتومات سیکلونو (autocycles) نه پلي کېږي

### د لومړیتوب د حق نښې ته نږدې کېدل

د لومړیتوب د حق نښه ښیي چې یو موټر چلوونکی باید څلورلارې یا تقاطع ته د نږدې کېدلو پر مهال ورو شي او بشپړ درېدلو ته چمتو شي که چېرې یوه نقلیه وسیله یا پلي چې د لومړیتوب حق ولري له یو بل لوري څخه څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېږي.

که د لومړیتوب د حق نښې ته نږدې کېږئ، یوه نقلیه وسیله چې د لومړیتوب له حق څخه له بل لوري څخه نږدې کېږي، له تاسو سره د ټکر د مخنیوي لپاره باید بریک و نه نیسي.

### له غیر فعالې اشارې سره یوې څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېدل

که له غیر فعالې اشارې سره یوې څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېږئ، څلورلارې یا تقاطع ته له ننوتلو مخکې باید ودرېږئ. له درېدلو وروسته، کولای شئ یواځې لاندې ترافیکو ته د لومړیتوب له حق وروسته په احتیاط سره مخکې ولاړ شئ:

- مقابل ترافیکو ته چې له مخکې څخه څلورلارې یا تقاطع ته ننه شوي
- هرې هغې نقلیه وسیلې ته چې له تاسو څخه مخکې درېدلې او څلورلاې ته ننه کېږي
- هرې هغې نقلیه وسیلې ته چې له تاسو سره په ورته وخت کې څلورلارې یا تقاطع ته رارسېدلې او ستاسو ښي خوا ته ده
- هر پلي ترافیک ته

### له نښې یا اشارې پرته څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېدل

له کوچنۍ کوڅې (alley) یا د موټر له لارې (driveway) څخه یوې کوڅې ته له ننوتلو مخکې، باید ودرېږئ او نورو نقلیه وسیلو ته د لومړیتوب حق ورکړئ.

### د پلیو اشارې

د پلیو اشارې پلیو ته خبرداری ورکوي چې ښایي کله دوی په خوندي توګه له یوې کوڅې یا څلورلارې یا تقاطع څخه تېر شي.

کله چې د پلیو اشاره د "WALK" کلمه یا د تګ په حالت کې د یو شخص سمبول ښیې، پلي کولای شي په خوندي توګه له یوې کوڅې یا څلورلارې یا تقاطع څخه تېر شي. په ځینو څلورلارو کې، د پلیو د اشارې یا د درېدلو د نښې په لاندې برخه کې یو تڼۍ ده چې ښایي د تګ د اشارې د فعالولو لپاره کېکاږل شي.

کله چې له کوڅې یا څلورلارې یا تقاطع څخه تېرېدل د پلیو کسانو لپاره خوندي نه وي، د پلیو اشارې د "DON'T WALK" کلمې یا د پورته شوي لاس سمبول ښیې. کلمې یا سمبولونه سترګک وهي څو پلیو ته خبرداری ورکړي چې له کوڅې یا څلورلارې یا تقاطع څخه په خوندي توګه د تېرېدلو وخت پای ته رسېږي.





مه تېرېږئ | مه تېرېږئ | تېر شئ | تېر شئ

### د پلیو هایبرډ څراغونه

د پلیو هایبرډ اشاره د پلیو د تېرېدلو د اسانولو لپاره کارول کېږي او ښایي د څلورلاریو تر منځ (mid-block) د تېرېدلو په ځای کې ومونډل شي. د پلیو هایبرډ څراغ تیاره وي مګر دا چې د یو پلي له لوري فعال شي.

کله چې د یو پلي له خوا فعال شي، د پلي هایبرډ څراغ به سترګک وهونکي ژېړه رڼا وښیي څو موټر چلوونکي ته اجازه ورکړي چې د پلیو کسانو د تېرېدلو ځای خالي کړي. له سترګک وهونکي ژېړې رڼا وروسته به ثابت ژېړ څراغ وي څو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکړي چې د دوی د لارې حق پای ته رسېږي. بیا، کله چې پلی تېرېږي دوه ثابت سره څراغونه به وښودل شي، او بیا به دوه سره څراغونه سترګک ووهي څو موټر چلوونکو ته اجازه ورکړي که د تېرېدلو ځای له پلیو څخه خالي وي، تېر شي. ورپسې به د پلیو هایبرډ څراغ تیاره شي تر څو چې بیا د یو پلي له خوا نه وي فعال شوی.




۱. تر فعالېدو پورې تیاره
۲. سترګک وهونکی ژېړ
۳. ثابت ژېړ
۴. د پلي د تېرېدلو د واټن پر مهال ثابت سور
۵. بدلېدونکی سترګک وهونکی سور له پلیو څخه د خالي والي د دمې پر مهال
۶. تر بیا فعالېدو پورې تیاره

**د نښو شرحه**
**SY** ثابت ژېړ
**FY** سترګک وهونکی ژېړ
**SR** ثابت سور
**FR** سترګک وهونکی سور

# اووم څپرکی | دنقلیه وسیلي خوندي چلول


تر دي چي کېدای شي د تجربه لرونکو موټر چلوونکو پام د موټر چلولو پر مهال واوړي. یو دفاعي موټر چلوونکی د نورو موټر چلوونکو کړنو ته ګوري او د احتمالي ستونزو اټکل کوي.

## د لین نښي


د لین نښي یا خط کشی ترافیک جلا کوي او موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چي کله له نورو نقلیه وسیلو څخه تېرېدل مجاز دی.

### *د لین ژېړي نښي*


د لین ژېړي نښي یا خط کشی د ترافیکو څو لینونه چي پر مخالفو لوریو ځي سره جلا کوی. ښایي له ماتي شوي ژېړي کرښي څخه تېر شئ تر څو له بلي نقلیه وسیلي څخه تېر شئ کله چي دا کار خوندي وي، خو تاسو باید له ثابتي ژېړي کرښي څخه تېر نه شئ مګر دا چي تاو شئ.



له ثابتي ژېړي کرښي سره دوه طرفه سړک




په یو وخت کي په یوه لوري د نه تېرېدلو له سیمو (زونونو) لپاره له ماتي شوي ژېړي کرښي سره دوه طرفه سړک.



له ثابتي ژېړي کرښي سره څلور لینه سړک

### *د لین سپیني نښي*

د لین سپني نښي یا خط کشی د ترافیکو څو لینونه چي پر ورته لوریو ځي سره جلا کوی. له دوو څخه د زیاتو لینونو لرونکي ډېری سړکونه ماتي شوي سپیني کرښي لري چي لینونه سره جلا کړي. ښایي له ماتي شوي سپیني کرښي څخه تېر شئ څو لین بدل کړئ کله چي دا کار خوندي وي، خو تاسو باید له ثابتي سپیني کرښي څخه تېر نه شئ.



له ماتو شویو سپینو کرښو سره د ترافیکو دري لینونه

## د لینونو بدلول او له نورو نقلیه وسیلو څخه تېرېدل

په یو وخت کي یواځي یو لین بدل کړئ. کله چي د تاوېدلو یا ګرځېدلو لپاره د چمتو کېدلو په موخه لینونه بدلوئ، باید د لینونو له بدلولو یا تاوېدلو څخه لږ تر لږه ۲۰۰ فټه مخکي د دي کار لپاره خپله اراده څرګنده کړئ (اشاره ورکړئ). که لږ تر لږه په یو ساعت کي د ۵۰ میله سرعت په سیمه (زون) کي نقلیه وسیله چلوئ، ستاسو د اشارې واټن باید له تاوېدلو څخه لږ تر لږه ۳۰۰ فټه مخکي وي. په لینونو کي دننه او بهر مه کېږئ، چي دا ستاسو د یوې پېښې خطر په ستره کچه زیاتوي. په لویه لار کي ورو نقلیه وسیلي باید ښی لین وکاروي. د کیڼ لاس لین د چټکو تلونکو یا تېرېدونکو نقلیه وسیلو لپاره پرېږدئ.

د لینونو د بدلولو پر مهال دغه قوانین مراعات کړئ:

- ډاډ ترلاسه کړئ چي په هغه لین کي له تاسو څخه مخکي هیڅ ترافیک نشته چي غواړئ ورننوځئ
- د هغو نقلیه وسیلو د کتلو لپاره خپلي هنداري وګورئ چي له تاسو څخه د تېرېدلو لپاره چمتو دي
- په لنډه توګه خپل سر د هغه لین په لور وګرځوئ چي ور ننوځئ څو ډاډ ترلاسه کړئ چي ستاسو په د خپل پټ ټکي (ړانده ټکي، چي نه لیدل کېږي) کي هیڅ نقلیه وسیله نشته او د څنګ لین ته د تګ لپاره پوره فضا شته ده
- خپله د تاوېدلو اشاره وکاروئ څو نورو موټر چلوونکو ته د لینونو د بدلون لپاره د خپلي ارادې په اړه خبر ورکړئ
- په منظم ډول د موټر چلولو نوي لین ته ننوځئ

### *له نورو نقليه وسيلو څخه تېرېدل*

له نورو نقليه وسيلو څخه د تېرېدلو پر مهال دغه قوانين مراعات کړئ:

- ډاډ ترلاسه کړئ چې د تېرېدلو لين له ترافيکو څخه پاک دی، ځکه چې بايد له هرې راتلونکې نقليه وسيلې څخه لږ تر لږه ۱۰۰ فټه مخکې د سړک ښي لوري ته تاو شئ.
- د خپلې نقليه وسيلې شا او کيڼ لوري ته وګورئ څو ډاډه شئ چې بله نقليه وسيله له تاسو څخه د تېرېدلو هڅه نه کوي
- خپلې د تاوېدلو اشارې وکاروئ تر څو نورو موټر چلوونکو ته د لينونو د بدلون لپاره د خپلې ارادې په اړه خبر ورکړئ
- د تېرېدلو لين ته ولاړ شئ، چټک شئ، او مخکې تګ ته ادامه ورکړئ تر هغې چې وکولای شئ هغه نقليه وسيله په خپله شاليد هنداره (عقب نما) کې ووينئ چې ترې تېرېږئ
- مخکې له دې چې بېرته هغه لين ته راشئ چې په پيل کې مو موټر پکې چلاوه، د تاوېدلو مناسبه اشاره وکاروئ

### *ممنوع تېرېدل*

په لاندې حالتونو کې له نورو نقليه وسيلو څخه تېرېدل خطرناک او غيرقانوني دي:


- د موټر چلوونکي په لوري کې د سړک په مرکزي کرښه کې يوه ثابته ژېړه کرښه په نښه شوې يا کش شوې وي
- د سړک په کيڼ لاس لوري کې يوه ژېړه درې کونجه شکله "د نه تېرېدلو سيمه " ( "No Passing Zone ") نښه، يا د سړک په ښي لاس لوري کې سپينه مستطيلي "مه تېرېږئ " ( "Do Not Pass ") نښه لګول شوې وي
- کله چې په يوه ګولايي يا ګرځندي کې موټر چلوئ يا ور نږدې کېږئ
- کله چې د يوې غونډۍ څوکې يا د سړک ميل ته نږدې کېږئ
- د يوې څلورلارې يا تقاطع، رېل پټلۍ د تېرېدلو ځای يا تقاطع، پله، د درې له پله (اوږد پل چې له درې څخه تېرېږي) يا تونل په ۱۰۰ فټه واټن کې

### *له تاسو څخه تېرېدل*


که بله نقليه وسيله د سړک په کيڼ لاس لوري کې له تاسو څخه تېرېږي، پرېږدئ چې بله نقليه وسيله په خوندي توګه تېره شي او خپل سرعت مه زياتوئ.

## د خوندي او قانوني تاوېدلو لپاره قوانين


د خوندي او قانوني تاوېدلو لپاره لومړی قانون دا دی چې له تاوېدلو څخه پوره مخکې مناسب لين ته ولاړ شئ. کيڼ لوري ته د تاوېدلو لپاره، د خپل سفر د لوري په وروستي چپ لين کې اوسئ. ښي لوري ته د تاوېدلو لپاره، د خپل سفر د لوري په وروستي ښي لين کې اوسئ.




له يو طرفه سړک څخه دوه طرفه سړک ته تاوېدل



له يو طرفه سړک څخه يو طرفه سړک ته تاوېدل



له دوه طرفه سړک څخه دوه طرفه سړک ته تاوېدل




له دوه طرفه سړک څخه يو طرفه سړک ته تاوېدل


### *د تاوېدلو د ارادې اشاره ورکول*

له تاوېدلو یا د لینونو له بدلولو مخکې باید د تاوېدلو مناسبه اشاره ورکړئ.


د اشارې ورکولو تر ټولو خوندي ډول د څراغ اشارې کارول دي چې په ډېری نقلیه وسیلو کې کارول کېږي. که، له دغو اشارو څخه یوه یا زیاتې بې سم کار نه کوي، کولای شئ د لاس له اشارو څخه کار واخلئ. نه شئ کولای چې د موټر چلولو د مهارتونو په ازموینه کې د لاس له اشارو څخه کار واخلئ.



کیڼ لوري ته ګرځېدل




ښي لوري ته ګرځېدل



ودرېږئ یا ورو شئ

**له ځانګړو ټاکل شویو مرکزي لینونو څخه کیڼ لوري ته تاوېدل**

په بوختو یا ګڼې ګوڼې سړکونو کې چې کیڼ لوري ته د نقلیه وسیلې د تاوېدلو لپاره ډېر ځایونه لري، زیاتره یو مرکزي لین لري چې یواځې کیڼ لوري ته د تاوېدونکو نقلیه وسیلو لپاره ټاکل شوي وي.




د سړک د فرش له غشو سره د تاوېدلو مرکزي لین

تل مو پام وي چې هغه نقلیه وسیلې چې په مخالف لوري کې سفر کوي ښايي مرکزي لین ته دننه شي څو ستاسو د نقلیه وسیلې په مخ کې چپ لوري ته تاو شي. هېڅکله دا ډول لین له نورو نقلیه وسیلو څخه د مخکې کېدلو لپاره مه کاروئ.

کیڼ لوري ته د تاوېدلو لپاره ټاکل شوي مرکزي لینونه معمولاً د متناوبو جهتي غشو له نښې سره چې "یواځې مرکزي لین " ( "CENTER LANE ONLY") عبارت ښيي، یا د سړک د فرش له غشو سره پېژندل کېدای شي، که څه هم ځینې مرکزي لینونه نښې یا د سړک د فرشي غشي نه لري.

**د *U* په بڼه تاوېدل**



د U په بڼه د تاوېدلو منځنی څلورلارې یا تقاطع
(Median U-Turn Intersection)

د U په بڼه تاوېدل یو مانور دی چې په هغه کې یو موټر چلوونکی د ۱۸۰ درجې تاوېدلو سره لوری بدلوي. دا په بالقوه توګه خطرناک دی او باید یواځې هغه وخت ترسره شي چې قانون نه وي منع کړی. د U په بڼه د تاوېدلو پر مهال لاندې قوانین مراعات کړئ:

- تل مخامخ ترافیکو او پلیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ.
- هېڅکله په سړک کې په یوه ګولایي یا ګرځندي کې یا کله چې د یوې غونډۍ څوکې یا د سړک میل ته نږدې کېږئ د U په بڼه مه تاوېږئ
- هېڅکله په ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویه لاره کې د U په بڼه مه تاوېږئ. پر ځای یې له لویې لارې څخه د وتلو تر راتلونکي لارې پورې خپل حرکت ته ادامه ورکړئ او په مخالف لوري کې بېرته لویې لارې ته ننوځئ

یو ځای چې هلته د U په بڼه تاوېدل اجازه لري او اړین دي، په هغه څلورلارې یا تقاطع کې دي چې په خپله په څلورلارې یا تقاطع کې کیڼ لوري ته د تاوېدلو حرکت منع وي، او کیڼ لوري ته تاوېدل له څلورلارې یا تقاطع څخه په تېرېدلو او په راتلونکې منځنی پرانیسته کې د U په بڼه له تاوېدلو وروسته ترسره کېږي. دا د U په بڼه یا د J په بڼه د تاوېدلو د منځنیو څلورلاریو یا تقاطع ګانو (median U-turn or J-turn intersections) په نامه یادېږي او د موټر چلوونکو د لارښوونې لپاره نښې چمتو کېږي.

### *د تېرو لارو درېدل*

د تېرو لارو د درېدلو قوانین د دوو لارو د درېدلو د قوانینو په څېر دي: ودرېږئ او راتلونکي یا مخالف ترافیک وګورئ، بیا که حرکت ته ادامه ورکول خوندي وي ادامه ورکړئ. د تېرو لارو په درېدلو کې، قانون دا دی چې لومړی نقلیه وسیله چې په څلورلارې یا تقاطع کې درېږي، لومړی نقلیه وسیله ده چې باید له څلورلارې یا تقاطع څخه تېره شي. که څه هم، ښایي کله کله د

بلې نقلیه وسیلې له چلوونکي سره په ورته وخت کې د ټولو لارو د درېدلو نښې ته ورسېږئ. د کيڼ لوري نقلیه وسیله باید نورو ته د لومړیتوب حق ورکړي. که څه هم، که کوم شک وي چې کوم موټر چلوونکی د لومړیتوب حق لري یا که د ټکر احتمال وي، غوره ده چې بل موټر چلوونکي ته د لومړیتوب حق ورکړئ.

### ***چوکونه یا دایروي تقاطع***




دوه لینه چوک
(د ټولو چوکونو یا دایروي تقاطع ګانو ډیراین نه ښیي)

**چوک (roundabout) یوه دایروي تقاطع ده چې ترافیک یواځې په ښي لوري په تاوېدلو سره ورننوځي یا ترې بهر کېږي او د ساعت د عقربې خلاف حرکت کوي.** چوک یا دایروي تقاطع ته د نږدې کېدلو پر مهال، راتلونکي یا مخالف ترافیک تل څرخېدونکو ترافیکو ته د لومړیتوب حق ورکوي.

د څو لینه چوکونو (دایروي تقاطعو) لپاره چې دایروی سړک له یو څخه زیات لینونه لري، موټر چلوونکي باید پوه شي چې چوک ته له ننوتلو مخکې باید په کوم لین کې وي. موټر چلوونکي باید په څرخېدونکي (تاوېدونکي یا ګردشي) سړک کې لینونه بدل نه کړي.

مناسب لین ته د موټر چلوونکو د لارښوونې لپاره له څرخېدونکي (تاوېدونکي) سړک څخه مخکې نښې، د سړک د فرش نښې یا خط کشی، یا دواړه وړاندې کېږي.

د ترافیکو دایره له چوک یا دایروي تقاطع سره توپیر لري، ځکه ښايي د ساعت د عقربې موافق او مخالف ترافیک ولري. د ترافیکي دایرې تاوېدونکي (چرخشي) سړک ته نږدې کېدل هم ښايي د لومړیتوب د حق د نښو پر ځای د درېدلو په نښو سره کنټرول شي.

ځینې چوکونه (دایروي تقاطع) ښايي له یو څخه زیات لینونه ولري، چې کېدای شي ترافیکي خطر رامنځته کړي کله چې کوچنۍ نقلیه وسیلې د تراکتور-ټریلرو او بسونو په څېر د سترو نقلیه وسیلو تر څنګ له چوک څخه تېرېږي.

څو لینه چوک ته په نږدې کېدلو یا ترې تېرېدلو پر مهال موټر چلوونکي باید هغو لویو نقلیه وسیلو ته د لومړیتوب حق ورکړي چې په ورته وخت کې له چوک څخه تېرېږي. په دې چاره کې په خوندي توګه له چوک څخه د سترې نقلیه وسیلې د خوندي تېرېدلو لپاره ورو کېدل یا درېدل شامل دي.

که دوې سترې لارۍ په ورته وخت کې یو چوک ته نږدې کېږي یا تېرېږي، په ښي لین کې موټر چلوونکی باید په کيڼ لین کې موټر چلوونکي ته د لومړیتوب حق ورکړي. په دې چاره کې په کيڼ لین کې د سترې لارۍ د خوندي تېرېدلو لپاره ورو کېدل یا درېدل شامل دي.

### ***د تاوېدونکو نقلیه وسیلو تعقیبول***

کله چې یو موټر چلوونکی تعقیبوئ چې د تاوېدلو لپاره یې خپله اراده څرګنده کړې وي (اشاره یې ورکړې وي)، یا چې ورو شوی وي او ښايي د تاوېدلو پلان ولري، تاسو باید ورو شئ او د درېدلو لپاره چمتو اوسئ.

## د سرعت محدودیت

د انډیانا قانون موټر چلوونکي اړ کښي چې د سرعت په اعلان شوي یا لګول شوي حد کې نقلیه وسیلې وچلوي.

د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي مجاز حد څخه اوښتل په خوندي توګه په ګولايیو (ګرځندیو) کې او د توکو په شاوخوا کې په خوندي توګه د جلب د کارولو لپاره د موټر چلوونکو وړتیا کمه کړي. دا کار په بېړنیو حالتونو کې د نقلیه وسیلې د درېدلو لپاره اړین واټن هم زیاتوي. د لګېدلو پر مهال د نقلیه وسیلې له سرعت سره د ټکر شدت زیاتېږي. د سرعت په زیاتېدلو سره د نقلیه وسیلې د ساختماني ځانګړتیاوو او همدارنګه د هوا د کڅوړو او د خوندیتوب د کمربند په څېر د مهارولو د وسایلو اغېزناکتوب کمېږي.

### ***د کلیوالي ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویو لارو د سرعت محدودیتونه***

د کلیوالي ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویې لارې لږ تر لږه د ۵۰،۰۰۰ کسانو له نفوس سره د ښار څخه بیرون ساحو کې موقعیت لري. د سرعت د محدودیت لاندې قوانین په دغو سیمو کې پلي کېږي:

- د مسافرینو د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۷۰ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي
- هغه لارۍ چې د نقلیه وسیلې څرګند شوی ناخالص وزن یې له ۲۶،۰۰۰ پونډ څخه زیات وي، باید سرعت یې په ساعت کې له ۶۵ میلو یا د سرعت له لګول شوي حد څخه زیات نه شي

په یوه وېشل شوي کلیوالي ایالتي لویه لار کې، د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۶۰ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي.

### د ښاري سرعت محدودیتونه

ښاري سیمې لږ تر لږه ۵۰،۰۰۰ وګړي نفوس لري. د سرعت د محدودیت لاندې قوانین په دغو سیمو کې پلي کېږي:

- په یوه ښاري ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویه لار کې، د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۵۵ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي
- په یوه نا وېشل شوي ایالتي لویه لار کې، د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۵۵ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي
- د کاونټي پر سړکونو، د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۵۵ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي
- په ډېری استوګنیزو ښاري سیمو کې د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۳۰ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي
- په کوچنیو کوڅو (alleys) کې د نقلیه وسیلو سرعت باید په ساعت کې له ۱۵ میلو یا د سرعت له اعلان شوي یا لګول شوي حد څخه زیات نه شي

### د ښوونځي د سیمي (زون) د سرعت محدودیتونه

که ښوونځي ته نږدې موټر چلوئ، باید خپل سرعت د ښوونځي د سیمي لپاره د سرعت د ځرګند شوي محدودیت تر ټولو ټیټ حد ته راکم کړئ. د ښوونځي د سیمي د سرعت د محدودیتونو لپاره معمول ساعتونه د سهار له ۷ بجو څخه د مازدیګر تر ۴:۳۰ بجو پورې، له دوشنبې څخه تر جمعې پورې یا کله چې د ښوونځي د سرعت د محدودیت ځراغونه سترګک وهي، دي. خو بیا هم، ځاني چارواکي ښایي د ښوونځي د سیمو لپاره د ټیټ سرعت محدودیتونه رامنځته کړي کله چې ماشومان شته وي.

### د لویې لارې د کار په سیمو (زونونو) کې د کم شوي سرعت محدودیتونه

د کار په سیمه کې د سرعت محدودیت تل د هغې سیمې لپاره د سرعت له ټاکل شوي اعظمي حد څخه په ساعت کې ۱۰ میله څخه کم دی. موټر چلوونکي باید د کار په سیمه کې د سرعت لګول شوي محدودیت رعایت کړي. د کار د سیمې د سرعت ځینې محدودیتونه یوازې هغه وخت د پلي کېدلو وړ دي چې سترګک وهي او نور هغه هر وخت د پلي کېدلو وړ دي.

### د ښوونځي د بس د سرعت محدودیتونه

کله چې په ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) یا ایالتي لویه لار کې موټر نه چلوئ، د ښوونځي د بس لپاره د سرعت اعظمي حد په ساعت کې ۴۰ میله دی مګر دا چې د سرعت اعلان شوی محدودیت کم وي. په ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) یا ایالتي لویه لار کې د ښوونځي د بس لپاره د سرعت اعظمي حد په ساعت کې ۶۰ میله یا د سرعت اعلان شوی محدودیت دی.

#### په خطرناکو شرایطو کې سرعت کم کړئ

ډېر سرعت، تر دې که شرایط غوره یا ایډیال هم وي، خطرناک دی او د پېښې احتمال زیاتوي. په لاندې شرایطو کې د سرعت په ټاکل شوي حد یا له هغه څخه په زیات سرعت د موټر چلول لا زیات خطرناک دي:

- بده هوا او کمزورې لید
- بنوی یا کنګل سړکونه
- په زړو ټایرونو موټر چلول
- د نقلیه وسیلې ناخوندي شرایط
- خراب فزیکي حالت
- د سړک پر سطحه خطرناک شرایط

## د بریک نیولو او تعقیبولو واټنونه

لاندې جدول ښیي یوه نقلیه وسیله په ساعت کې په ۳۵، ۵۵، او ۷۰ میلو سره سفر کولو سره څومره چټک یا څومره لرې حرکت کوي.

د موټر چلوونکو لپاره یو ښه قانون دا دی چې تعقیب کړي چې له مخکینې نقلیه وسیلې څخه لږ تر لږه دوې تر درې ثانیې لرې وي. کله چې یوه نقلیه وسیله تعقیبوئ، له یو ثابت شي څخه یې تېرېدل وګوئ او اټکل وکړئ چې څومره وخت تېرېږي چې له هغه شي څخه تاسو تېر شئ.

| سرعت | ۳۵ میله په ساعت کې | ۵۵ میله په ساعت کې | ۷۰ میله په ساعت کې |
|---|---|---|---|
| فټ واټن چې په یوه ثانیه کې وهل کیږي | 51.3 | 80.7 | 102.7 |
| ترافیکي لینونه په یوه ثانیه کې | 2.6 | 4 | 5,1 |
| د فوټبال د یو میدان د وهلو یا سفر کولو لپاره ثانیې | 5,8 | 3,7 | 2,9 |

ګڼ عوامل د یوې نقلیه وسیلې د درېدلو په وړتیا اغېز کوي:

- د نقلیه وسیلې وزن
- د برېکونو ډول او حالت

- د ټیرونو ډول او حالت
- د سړک د فرش فزیکي حالت
- د سړک د فرش ښویوالی
- د سړک درجه یا میل

### ښویېدل

ناڅاپه تاوېدل، لین بدلول، یا سخت بریک نیول کېدای شي د نقلیه وسیلې د ښوییدلو لامل شي. د ښوییدلو د سمولو طرزالعمل په مخکینیو څرخونو (ویلونو) د چلېدونکي (چې انجن یواځې مخکیني ویلونه چلوي) او په شاتنیو څرخونو (ویلونو) د چلېدونکو (چې انجن یواځې شاتني ویلونه چلوي) نقلیه وسیلو لپاره یو شان ده.

که ستاسو نقلیه وسیله د کشش په له لاسه ورکولو پیل کوي یا شاتني څرخونه (ویلونه) یو لوري ته په ښوییدلو پیل وکړي، د ګاز پاډل (اکسلریټر) کم کړئ. د ښوییدلو له لوري څخه چټک مه تاوېږئ او جلب ډېر لرې (ډېر زیات) مه تاووئ چې کېدای شي د چورلېدلو یا څرخېدلو لامل شي.

که ستاسو نقلیه وسیله معمولي برېکونه لري، جلب په کنټرول شوې طریقه د موټر د شا د ښوېدلو په لوري تاو کړئ. کله چې بېرته کشش ترلاسه کړئ، نقلیه وسیله سیده یا مستقیمه کړئ او ورو حرکت ته ادامه ورکړئ.

که ستاسو نقلیه وسیله د قفل ضد بریک سیسټم (ABS) لري، نو خپله پښه د بریک په پاډل باندې وساتئ، او قوي او ثابت فشار وربانديِ وساتئ، په داسې حال کې چې جلب په عادي توګه چلوئ. برېکونه مه پمپ کوئ. یو میخانیکي غږ یا شور او لړزه یا د برېک په پاډل کې زیات شوی مقاومت ښیي چې ستاسو د قفل ضد برېک سیستم (ABS) کار کوي.

### چپه کېدل

د چپه کېدلو پېکرونه تقریباً د مسافرو د نقلیه وسیلو د ټولو تلفاتو یو پر دریمه برخه جوړوي. کولای شئ د موټر چلولو پر وخت د چپه کېدلو خطر را کم کړئ:

- **په ترهېدلي توګه له جلب کارولو څخه ډډه وکړئ –** زیاتره چپه کېدل هغه وخت رامنځته کېږي چې موټر چلوونکي بېړني حالت ته د ترهېدلي غبرګون په توګه له حد څخه ډېر جلب سموي (اصلاح کوي). د لوېې لارې په سرعت، له حد څخه زیات د جلب سمول (اصلاح کول) یا له حد څخه زیات جلب کارول کېدای شي د دې لامل شي څو موټر چلوونکی کنټرول له لاسه ورکړي چې کېدای شي څنډې ته د موټر د ښوېدلو او چپه کېدلو لامل شي.
- **سم مانور وپېژنئ –** که ستاسو نقلیه وسیله له سړک څخه وځي، سملاسي بېرته د سړک فرش ته مه راګرځئ. د ګاز پاډل (اکسلریټر) کم کړئ. کله چې خوندي وي، بېرته په تدریجي توګه سړک ته وګرځئ.
- **خپل ټایرونه وساتئ –** په ناسم ډول ډک شوي (پمپ شوي) او زاړه ټایرونه د نقلیه وسیلې د ساتلو لپاره ستاسو د وړتیا خنډ ګرځي، چې د ټکر د احتمال کمولو لپاره تر ټولو مهم عامل دی.
- **نقلیه وسیله په سمه توګه بار کړئ –** کولای شئ د خپلې نقلیه وسیلې لپاره اعظمي خوندي بار او همدارنګه د بار سم وېش د خپلې نقلیه وسیلې د څښتن په لارښود کې ومومئ.
- **پر کلیوالي سړکونو احتیاط وکړئ –** ډېر احتمال لري چې د موټر چپه کېدل پر ناوېشل شویو، دوه طرفه سړکونو یا له موانعو پرته پر وېشل شویو سړکونو رامنځته شي. که نقلیه وسیله له کلیوالي سړک څخه ووځي کولای شئ که له لښتي (خندق یا ژور ځای) یا خاکریز سره ټکر شي، یا پر نرمه خاوره ولګېږي، نقلیه وسیله کېدای شي چپه شي.
- **په ګولایيو یا ګرځندو او مایلو سطحو یا رمپونو کې ورو شئ –** زیاتره په دغو سیمو کې وړاندیز شوي سرعتونه چمتو کېږي – سرعت باید له دغو وړاندیز شویو سرعتونو څخه زیات نه شي.

د مسافرینو په زیاتېدلو سره، د یو ۱۵ کسیز وان د چپه کېدلو سرعت په پام وړ توګه زیاتېږي. په نورو خطرونو کې بې تجربې موټر چلوونکي، د نامناسبې اندازې او یا په ناسمه توګه ډک شوي (له هوا څخه) ټایرونه، ناسمه توګه بار او یا مسافر باروول چې د نقلیه وسیلې د جاذبې پر مرکز اغېز کولای شي، راځي.

## د تیلو لګښت

د تیلو لګښت په ساعت کې له ۴۵ میلو څخه پورته په دوامداره توګه زیاتېږي، په داسې توګه چې د مسافرو موټر او سپکې لارۍ په ساعت کې د ۵۵ میلو سرعت په پرتله په ساعت کې په ۷۵ میله سرعت سره په سفر کولو کې تقریباً ۵۰ سلنه زیات تېل مصرفوي.

په لاندې مواردو سره کولای شئ خپل د تیلو په لګښت کې سپما اعظمي حد ته ورسوئ:

- په معقول ډول موټر چلولو، د سرعت د محدودیتونو رعایتولو، پر چت د بار له لېږدولو څخه مخنیوي او له خپلې نقلیه وسیلې څخه د اضافي وزن لرې کولو سره په لا ګټوره توګه موټر وچلوئ.
- له چټک تېزېدلو (تعجیل یا د سرعت زیاتولو) او ناڅاپي دریدلو څخه ډډه وکړئ.
- د خپل انجن په سمې ساتنې، په مناسب ډول د خپلو ټایرونو د ډک ساتولو (له هوا څخه) او د مبلایلو د سپارښت شوې درجې په کارولو سره خپله نقلیه وسیله په سم حالت کې وساتئ.
- سفرونه پلان او یوځای کړئ. ستاسو د تیلو لګښت هغه وخت بدتر دی کله چې ستاسو انجن یخ وي نسبت هغه وخت ته چې ګرم وي. څو لنډ سفرونه چې له ساړه پیل (چې انجن سوړ وي) څخه کېږي د یو اوږده څو موخیز سفر په نسبت چې ورته واټن رانغاړي، کېدای شي دوه چند تیل ولګوي.

## د ټایر فشار او د ټایر د رخې ژوروالی

### *د ټایر فشار*

ټایرونه هره میاشت په یو انچ مربع کې تر ۱ پونډ (psi) پورې فشار له لاسه ورکوي، له همدې امله په میاشت کې یو ځل یا له اوږده سفر څخه مخکې د اضافي ټایر په ګډون ټول ټایرونه وګورئ. طریقه یې داسې ده:

- د فشار یو باوري اندازه کوونکی یا ګېج وپیرئ
- د خپل موټر دروازه پرانیزئ او پر داخلي چوکاټ باید ستاسو د نقلیه وسیلې لپاره له سپارښت شوي psi سره یو سټکر شته وي.
- خپل ټایرونه "ساړه" وګورئ– مخکې له دې چې موټر وچلوئ یا لږترلږه له موټر چلولو څخه درې ساعته وروسته.
- د فشار ګېج د خپل ټایر په وال کې دننه کړئ
- ګېج به پورته "خیز ووهي " او یوه اندازه شوې شمېره به وښيي
- اندازه شوی psi د خپل نقلیه وسیلې د موټر چلوونکي د دروازې دننه سټیکر یا د څښتن په لارښود کې له psi سره پرتله کړئ – د خپل ټایر پر څنګ psi سره یې **مه پرتله کوئ**
- که ستاسو psi له شمېرې څخه پورته وي، پرېږدئ چې هوا تر هغې پورې ووځي چې برابر شي؛ که ښکته وي، هوا ورکړئ (یا له پرچون پلورونکي څخه مرسته وغواړئ) څو مناسبې شمېرې ته ورسېږي

### *د ټایر د رخې ژوروالی*

په میاشت کې یو ځل، یا د سړک د یوه اوږد سفر له پیلولو مخکې، خپل ټایرونه د سولېدلو او زیانمن کېدلو له اړخه وګورئ. د سولېدلو د کتلو یو تر ټولو اسانه طریقه د سنټ یا پول (د یوې روپۍ د سلمې برخې) د سکې ازموینه ده.

1. یو سنټ یا پول سکه راواخلئ او د ابراهام لینکن بدن د بټې او شهادت ګوتو په منځ کې ونیسئ.
2. په خپل ټایر کې یو ځای انتخاب کړئ چې هلته د ټایر رخه تر ټولو ټیټه ښکاري او د لینکن سر (پر سکه) د ټایر په یوه لیکه کې دننه کړئ

که د لینکن د سر (پر سکه) هره برخه په رخه کې وپوښل شي، ستاسو د ټایر د رخې اندازه قانوني او خوندي ده. که ستاسو د ټایر رخه تر هغې کمه وي (تقریباً د یو انچ ۶/۱ برخه)، په ناوړه شرایطو کې په سړک د نښلېدلو لپاره ستاسو د موټر وړتیا ډېره کمه ده.

## د هوا په نامعلومو حالاتو کې موټر چلول

### *په ژمي کې موټر چلول*

په ژمي کې موټر چلول د یخ، واورې او د تودوخې د زیاتو سړو درجو له امله یو شمېر خطرونه لري. له موټر چلولو څخه مخکې تل خپلې کړکۍ پاکوئ.

پر سړک یخ یا کنګل یو بالقوه خطرناک حالت دی چې کېدای ښایي د دې لامل شي چې موټر کشش له لاسه ورکړي.

واوره، په ځانګړي توګه کله چې له پام وړ باد سره یو ځای وي، موټر چلوونکو ته یو شمېر ستونزې رامنځته کوي. لید ښایي د پام وړ په توګه کم شي. د باد په واسطه د واورې لېږد ته پام کوئ، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې چې یواځې څو انچه واوره کېدای شي د دې لامل شي چې سړکونو د تګ وړ نه وي یا صعب العبور شي. تل د یخ یا کنګل حالاتو ته هم پام کوئ، کله چې پر ځمکه واوره وي، په ځانګړې توګه په څلورلاریو یا تقاطع ګانو کې، تل د نورو موټر چلوونکو له خوا د لیدل کېدلو لپاره د مخې څراغونه وکاروئ. په یاد ولرئ چې په مایلو سطحو یا رمپونو، پلونو او هوایي پلونو کې رطوبت ښایي د سړک له نورو برخو څخه مخکې کنګل شي. د واورې پاکولو د ماشینونو تر شا په خوندي واټن کې اوسئ.

په ډېرو سړو شرایطو کې له موټر چلولو څخه مخکې تل د خپلې نقلیه وسیلې انجن ته زیات وخت ورکړئ چې ګرم شي. تل له تېلو یا ګازو ډکې ټانکۍ سره موټر چلوئ، تر څو د بند پاتې کېدلو په حالت کې بخارۍ تر هغې پورې کار وکړي تر څو چې شوني وي. په مکرر ډول د خپلې مخې او شا له څراغونو څخه واوره پاکه کړئ.

په خپله نقلیه وسیله د ژوندي پاتې کېدلو یا بقا ژمنی بسته ولرئ چې د کشش لپاره رېګ یا د فرش ټوټې، د بېټرۍ د نښلولو کېبلونه ((booster cables، کمپلې، بېلچه، لاسي څراغ، اضافي جامې، شمعې، اورلګیټ، نه خرابېدونکي خواړه، او د اوبو بوتل پکې راځي.

### *باران*

د سړکونو لندې سطحې کېدای شي په خطرناک ډول ښویې وي، په ځانګړي توګه له باران څخه سملاسي وروسته. کله چې په لمدو سړکونو موټر چلوئ، ستاسو نقلیه وسیله په حقیقت کې د غوړو، خاورو او اوبو پر یوه نرۍ لایه حرکت کوي چې کېدای شي پر اوبو د نقلیه وسیلې د ښوېدلو (hydroplaning) لامل شي.

پر اوبو د نقلیه وسیلې ښوییدل (Hydroplaning) له سرعت سره زیاتیږي او په هر ځای کې ښایي ستاسو ټایرونه یواځې له غوړو، خاورې او اوبو سره په اړیکه کې وی. که دا چاره پیښه شي، د بریک نیولو، سرعت زیاتولو، یا تاوېدلو لپاره به هېڅ اصطکاک نه وي او یو ناڅاپي باد، د سفر د سړک بدلون، یا ډېر لږ تاوېدل کېدای شي د دې لامل شي چې د خپلې نقلیه وسیلې کنټرول له لاسه ورکړئ.

له رخو او لیکو پرته ټایرونو (چې رخې او لیکې یې له منځه تللي وي) یا په ډېرو سولېدلو ټایرونو سره موټر مه چلوئ. که پر سړک ډېر باران، ولاړې اوبه، یا چیکړې وي، ورو شئ. د اوبو له ډنډو څخه له تېرېدلو وروسته، خپل بریکونه د دوی په پمپ کولو یا تخته کولو سره وازمویئ. دا کار به یې په وچولو کې مرسته وکړي. که اوبه ستاسو د ټایرونو له رخو څخه ژورې وي، ورو شئ. د نورو موټر چلوونکو له خوا د لیدل کېدلو لپاره د مخې څراغونه وکاروئ.

### غبار

غبار کولای شي د نورو نقلیه وسیلو، پلیو، او ترافیکي اشارو د لیدلو لپاره ستاسو لید را کم کړي. په احتیاط سره او په کم سرعت سره موټر وچلوئ. د مخې پورتني څراغونه مه کاروئ. د مخې ټیټ څراغونه سړک او مخکې شیان په ښه توګه روښانه کوي. که غبار په بشپړه توګه نږدې شي، او لید صفر ته راکم شي، تر هغې چې شوني وي له سړک څخه په احتیاط ووځئ او ودرېږئ. په غبار کې د موټر چلولو پر مهال باید د مخې له څراغونو او د بېړني حالت له اشارو څخه کار واخیستل شي.

### شدید بادونه

پیاوړي بادونه پر پام اړونکو نقلیه وسیلو (لکه وانونو او ورزشي نقلیه وسیلو) پام وړ اغېز کوي. داسې شرایطو ته مو پام وي او د خپل خوندیتوب لپاره مناسب اقدام وکړئ.

### ناڅاپي سیلاب

ناڅاپي سیلاب هر کال د سړک د هوا د حالاتو اړوند بلې هر اړوندې پېښې په پرتله د زیاتو مړینو لامل کېږي. د شپې پر مهال یا په نابلدو سړکونو د موټر چلولو پر مهال ځانګړې پاملرنه ولرئ. که په طوفان کې بند پاتې شوئ یا له خطرناک حالت سره مخ شوئ، دغه قوانین تعقیب کړئ:

- د ترافیکي موانعو یا د تړل شوي سړک د لګول شویو نښو په شاوخوا کې موټر مه چلوئ
- هغو پلونو، پلچکونو، او د سړک بسترونو ته پام کوی چې ښایي د سیلاب اوبه یې یوسي یا یې کمزوري کړي.
- په هغو ځایونو کې موټر مه چلوئ چې اوبه د سړک پر سر وي، ځکه د اوبو ژوروالی تل څرګند نه وي او اوبه کېدای شي د اوبو وړل شویو ځایونو د پټولو لامل شي
- که ستاسو موټر د سیلاب په سیمه کې بند پاتې کېږي، ژر تر ژره یې پرېږدئ، ځکه د سیلاب اوبه کېدای شي په چټکی راپورته شي او موټر او سپرلی یې یوسي.

## په شپه کې موټر چلول

په شپه کې موټر چلول تل یو شمېر بالقوه ستونزې لري او که تاسو د شپې یا په خطرناکو حالتونو کې د موټر چلولو تجربه و نه لرئ، کېدای شي لا بدتره شي. ډېر احتمال لري چې موټر چلوونکي ښایي د شپې د موټر چلولو پر مهال ستړي شي او ښایي د پېښو لوړ خطر ولري. په ۴۵ پاڼه کې د خوب د هرې نښې په تجربه کولو سره، چمتو اوسئ چې موټر چلول ودروئ.

### لید

په شپه کې د پلیو، د سړک د نښو یا خط کشیو، او نورو نقلیه وسیلو پېژندل زیات ستونزمن دي. د شپې د موټر چلولو په حالت کې، په ځانګړې توګه پر نابلدو سړکونو، باید عادي سرعت را کم کړئ.

همدارنګه د راتلونکو یا مخامخ څراغونو ځلا ښايي ستاسو لید کم کړي. د ځلا د مخنیوي لپاره، مستقیم د رانږدې کېدونکي نقلیه وسیلې د مخې څراغونو ته مه ګورئ، پر ځای یې د سړک پر ښي لوري تمرکز وکړئ.

### د مخې څراغونه

موټر چلوونکي باید د لمر لوېدلو او لمر راختلو تر منځ او همدارنګه په بل هر هغه وخت کې چې لید له ۵۰۰ فټو څخه کم وي، د مخې له څراغونه څخه کار واخلي. کله چې د مخې څراغونه روښانه وي، کله چې د راتلونکي نقلیه وسیلې ته په۵۰۰ فټه کې نږدې کېږئ یا د بلې نقلیه وسیلې له شا څخه په ۲۰۰ فټه کې واټن کې د هغې د تعقیبولو پر مهال، باید د مخې لاندیني څراغونه وکارول شي.

## ناسم او خطرناک موټر چلول

### *په خوبولي یا نیم ویده حالت کې موټر چلول*

په خوبولي حالت کې موټر چلول کولای شي ستاسو د پیښي خطر زیات کړي. په خوبولي یا نیم ویده حالت کې د موټر چلولو اړوند پیښې کېدای شي ډېرې جدي وي، چې د سخت ټپي کېدلو یا ان د مړیني لامل کېږي. په ملي کچه، اټکل کېږي چې د موټوري نقلیه وسیلو د ټولو ټکرونو چې د مړیني لامل شوي، په ۱۶.۵٪ سلنه کې یې یو موټر چلوونکی ښکېل و. مطالعاتو ښودلې چې له خوب پرته ۱۸ ساعته سفر موټر چلوونکي له هغه موټر چلوونکي سره په برابر اندازه خرابوي یا یې له اختلال سره مخ کوي چې د وینې د الکولو محتوا (BAC) یې ۰.۰۸ سلنه وي، چې د الکولو قانوني حد دی.

د ډېرې ستړیا په حالت کې له موټر چلولو څخه په تر ټولو اغېز منونکو کسانو کې د نوبت کارکوونکي (چې په ټاکلو نوبتونو کې کار کوي)، مېندې او پلرونه، هغه کسان چې درد ارامونکي یا مسکن درمل کاروي، او هغه کسان چې نانداوي شوی د خوب اختلال لري، راځي. که څه هم ښایي هر څوک له پوره استراحت پرته د موټر چلولو وژونکي تېروتنه وکړي، تنکي ځوانان چې له ۱۶-۲۹ کلونو عمر لري په تر ټولو لوړ خطر کې دي، چې د ستړیا اړوند پېښو ۶۴ سلنه برخه جوړوي.

که نه شئ کولای چې په هوښ کې پاتي شئ یا د خوبولیتوب یا د نیمه خوب حالت له لاندې نښو څخه هره یوه یې تجربه کوئ، د موټر چلولو درولو ته چمتو اوسئ:

- د درېدلو په څراغونو کې ویده کېدل
- اړړمې ایستل، ستړګي موښل، اوښلني سترګي (له اوښکو یا اوبو ډکې سترګې)، یا د سترغلو درونداوالی
- د تېرو څو میلو یا څو دقیقو د موټر چلولو په یاد راوړلو کې ستونزې
- د سړک د نښو یا د وتلو د سړکونو له لاسه ورکول
- په نه تمه کېدونکي توګه د لینونو بدلول
- د سر ټکان (ښورېدل) یا ښکته لوېدل
- له سړک څخه وتل یا د لړزونکو خطونو (د خوندیتوب خطونه دي چې د لړزې په رامنځته کولو سره چلوونکي ته د احتمالي خطر په اړه خبرداری ورکوي) سره لګېدل
- د ثابت سرعت په ساتلو کې پاتي راتلل

که په خوبولي حالت کې موټر چلوئ، ښایي د سړک او ترافیکو شرایطو ته په غبرګون کې ورو شئ. ښایي په یو وخت کې له بېلابېلو ځایونو څخه ترلاسه کېدونکو پېچلو معلوماتو په پروسس کې له ستونزو سره مخ شئ. همدارنګه ښایي د موټر چلولو د پرېکړو پر مهال بې احتیاطه شئ، په پام کولو کې ستونزې ولرئ، یا د موټر چلولو پر مهال په رښتیني توګه ویده شئ.

### *څنګه په خوبولي یا نیمه ویده حالت کې د موټر چلولو مخنیوئ وکړئ*

که ستړئ یئ موټر مه چلوئ. د خوبولیتوب د کمولو لپاره تر ټولو غوره طریقه زیات خوب دی. هر څومره ژر چې کولای شئ یو خوندي ځای ته ولاړ شئ او یوه سترګه (د لنډ وخت لپاره) خوب وکړئ.

کله چې احساس کوئ خوبولئ یئ (خوب درځي)، که شوني وي له موټر چلولو څخه ډډه وکړئ. پرېږدئ چې داسي یو څوک موټر وچلوي چې ښه استراحت یې کړی وي. ګډ سفر کول (د موټر شریکول)، د عامه ټرانسپورټ کارول، ټکسي راغوښتل، یا د کورنی له یو غړي یا ملګري څخه غوښتنه چې تاسو ورسوي، په پام کې ونیسئ.

## د حواسو د ګډوډۍ په حالت کې موټر چلول

د موټر چلوونکي د حواسو ګډوډي په انډیانا کې یوه زیاتېدونکې اندېښنه او د ټکرونو یو عمده لامل دی. د حواسو د ګډوډۍ په حالت کې موټر چلول هر هغه فعالیت دی چې ستاسو سترګې له سړک څخه اړوي، لاسونه مو د جلب له څرخ څخه لرې کوي، او ستاسو ذهن له موټر چلولو څخه لرې کوي. د حواسو د ګډوډۍ په حالت کې د موټر چلولو په فعالیتونو کې د موبایل تلیفون کارول، پیغام استولو او د خوړو خوړلو په څېر شیان شامل دي.

د انډیانا قانون په ځانګړې توګه د موټوري نقلیه وسیلو د کارولو یا چلولو پر مهال د مخابراتي وسایلو کارول منع کوي. د دې ممانعت یواځیني استثناوې هغه وخت دي کله چې د لاس له کارولو پرته (hands-free) اړیکه فعاله وي یا چې مخابراتي وسیله د یوې رښتیني بېړنۍ پېښې لپاره ۹۱۱ ته د زنګ وهلو لپاره کارول کېږي.

متني پیغام تر ټولو ستره خبرداري ورکوونکي د حواسو ګډوډي ده. د یو متني پیغام استول یا لوستل د پنځو ثانیو لپاره ستاسو سترګې له سړک څخه اړوي. په ساعت کې ۵۵ میله سرعت سره، دا کار داسې دی لکه په پټو سترګو د فوټبال د بشپړ میدان په اوږدوالي موټر چلول. په انډیانا کې د موټر چلولو پر مهال متني پیغام، زنګ یا په بل ډول د موبایل تلیفون په څېر مخابراتي وسایلو کارول منع دي، مګر دا چې د لاسونو له کارولو پرته (hands free) کارول کېږي.

## تېری کوونکی یا تعرضي موټر چلوونه

تقریباً د انډیانا د ټولو ترفیکو تلفاتو یوه پر درییمه برخه یې د "خطرناک موټر چلولو " له امله رامنځته کېږي. د موټر چلولو خطرناکه پېښه هر هغه ټکر دی چې د موټر چلوونکو له لورې د لاندې یو یا څو اقدماتو یا کړنو د کولو په پایله کې رامنځته کېږي: بریدګره یا تېری کوونکي موټر چلوونه، ترافیکي اشارې ته پام نه کول، یا زیات سرعت.

د انډیانا د قانون له مخې، که د یوې نقلیه وسیلې د دوامداره چلولو د یوې برخې په موده کې یو شخص له لاندې مواردو څخه یې لږ تر لږه درې موارد ترسره کړي، شخص په بریدګره یا تیري کوونکي موټر چلوونه کې ښکېل ګڼل کېږي:

- ډېر نږدې یوه نقلیه وسیله تعقیبول
- د نقلیه وسیلې ناخوندي کارول یا چلول
- له سړک څخه په وتلو په ښي اړخ کې له بلې نقلیه وسیلې څخه مخکې کېدل
- په ناخوندي توګه د نقلیه وسیلې درول یا ورو کول
- د هارن غیر ضروري غږونه
- د لومړیتوب حق نه ورکول
- د ترافیکو د کنټرول وسیلې نه رعایتول
- په ناخوندي سرعت موټر چلول
- په مکرر ډول ځراغونه ورکول (د موټر د مخې څراغونه روښانه او ګل کول)

## پر کلیوالی سړکونو موټر چلول

پر کلیوالي سړکونو موټر چلول کېدای شي پر ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) پخو سړکونو یا ښاري کوڅو د موټر چلولو په پرتله زیات خطرناک وي. کلیوالي سړکونه ښایي د سور یا عرض له مخې نري او له اسفالټ شویو، خاورینو یا جغلي سطحو څخه جوړ وي.

**جغل**—پر نرم جغل باندې درېدل یا تاوېدل ډېر ستونزمن دي ځکه ستاسو کشش کم وي. کله چې کشش کم وي، کېدای شي ښویېدل رامنځه شي. باید له مخکې څخه ورو شئ څو په تاوېدلو یا درېدلو کې د ښویېدلو خطر کم کړئ.

**خاوره**—په وچو مودو کې خاورین سړکونه ښایي ډېرې دوړې ولري. دوړې ستاسو لید کمولای شي. د دې لپاره چې نور موټر چلوونکي مو ووینې، د مخې لاندیني څراغونه وکاروئ.

**نري پلونه او سړکونه**—ځیني پلونه او سړکونه ښایي نري یا تنګ وي. پر نریو یا تنګو سړکونو یا پلونو نورو نقلیه وسیلو ته په نږدې کېدلو یا ترې تېرېدلو کې باید احتیاط وکړئ. تل د نري یا تنګ پله نښو ته پام کوئ او نورو نقلیه وسیلو ته د درېدلو لپاره چمتو اوسئ.

**رېونده یا میل لرونکي غونډۍ یا څوکې**—د یوې رېونده (تونډې یا میل لرونکي) غونډۍ څوکې ته له نږدې کېدلو څخه مخکې، ورو شئ، د سړک ښي خوا ته ولاړ شئ، او راتلونکي یا مخامخ نقلیه وسیلې وګورئ. هېڅکله هڅه مه کوئ چې یوې رېونده غونډۍ یا څوکې ته د نږدې کېدلو پر مهال له بلې نقلیه وسیلې څخه تېر یا مخکې شئ.

**د لید کمې شوې کرښې یا خطونه**—کرل شوي فصلونه (کرنیز محصولات) لکه جوار ښایي څلورلارو یا تقاطع ګانو ته د نږدې کېدونکو نقلیه وسیلو او په کږو وږو سړکونو د راتلونکو یا مخامخ نقلیه وسیلو د لیدلو لپاره ستاسو د لید وړتیا کمه کړي.

## پر ایالت منځی یا د ایالتو تر منځ لویو لارو موټر چلول

پر لویو لارو له چټکو تلونکو ترافیکو سره منظم یو ځای کېدل ښه قضاوت او وخت ته اړتیا لري. کله چې لویې لارې ته د ننوتلو له لارې څخه یوې ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویې لارې ته دننه کېږئ، په ښي اړخ کې پاتې شئ او د سرعت زیاتولو په لین کې خپل سرعت زیات کړئ، تر څو کله چې لاره صافه وي له ترافیکو سره یو ځای شئ. هغه موټر چلوونکي چې له مخکې څخه پر ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویه لار باندې دي، باید دې ډول ننوتلو ته اجازه ورکړي. که څه هم، هغه موټر چلوونکي چې ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویې لارې ته دننه کېږي، باید د لویې لارې نقلیه وسیلو ته د لومړیتوب حق ورکړي.

له لویې لارې څخه د بهر کېدلو د تېرې شوې (له لاسه ورکړې) لارې ته د رسېدلو لپاره پر ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویه لاره بېرته شا ته تلل ناخوندي دي. که له لویې لارې څخه د وتلو یوه لار له لاسه ورکوئ، باید د وتلو تر راتلونکې لارې پورې موټر کې ولاړ شئ. د بېړنیو حالاتو له نقلیه وسیلې یا د لویې لارې د ساتنې له نقلیه وسیلې پرته، د بلې هرې نقلیه وسیلې لپاره دا کار غیر قانوني دی چې د یوې ایالت منځي لویې لارې د منځني برخې (median) یا د سړک د بدلولو لارې (crossover) څخه په تېرېدلو سره د U په بڼه تاو شي.

له بېړني حالت یا د خرابې شوې نقلیه وسیلې څخه پرته، نقلیه وسیله د ایالت منځي لویې لارې پر څنډه مه دروئ.

لارې د ایالت منځي لویې لارې په هغو برخو کې چې په یوه لوري دوه لینونه لري تر ښي لین پورې، او د ایالت منځي لویې لارې په هغو برخو کې چې په یوه لوري درې یا زیات لینونه لري د ښي لوري تر دوو لینونو پورې محدودې دي.

## د کار سیمي یا زونونه

زیاتره د سترګک وهونکي غشي تختې د دې لپاره کارول کیږي څو د لین یا "د سړک بدلولو د لارې (crossover) " بندښت وښیي. په دې حالتونو کې، پر سړک نښې یا خط کشی، ترافیکي مخروطونه، بوشکې یا موانع هغه لاره مشخصوي چې نقلیه وسایله یې باید تعقیب کړي. د سترګک وهونکي غشي تخته چې هیڅ کومې خوا ته لوری نه ښیي، د احتیاط لپاره اشاره ده، خو له موټر چلوونکي څخه نه غواړي چې کوم بل لین ته ولاړ شي.




ښي لوري ته ولاړ یا یو ځای شئ



ښي لوري ته ولاړ یا یو ځای شئ



ښي یا کیڼ لوري ته ولاړ یا یو ځای شئ



احتیاط


### *د بیرغ لړونکي اشارې*

په ځینو کاري سیمو کې، د ترافیکو د جریان د کنټرول لپاره د کاري سیمي په هر پای کې یوه یا څو بېرغ لړونکې اشارې لګول کیږي.


کله چې یو بیرغ لړونکی یو فلورسینټ نارنجي/سور بیرغ په افقي حالت کې د ترافیکو کرښې یا لین ته غځوي، باید ودرېږئ. کولای شئ یوازې هغه وخت خپل حرکت ته په کم سرعت سره ادامه ورکړئ کله چې بیرغ لړونکی لاربسوونه وکړي.

که بیرغ لړونکی یوازې د پارو اشاره کاروي، باید پر نښه د "ودرېږئ " ( "STOP ") یا "ورو شئ " ( "SLOW ") له پیغام سره سم، ودرېږئ یا ورو حرکت ته ادامه ورکړئ.

په ځینو مواردو کې د ترافیکو له لین څخه بهر د بیرغ لړونکو نښو د فعالولو لپاره له اتومات بیرغ لړونکي له مرستندویو وسیلو څخه کار اخیستل کیږي. دا وسیلې د بیرغ لړونکي له خوا د پارو نښې د نیولو په څېر د "ودرېږئ " ( "STOP ") یا "ورو شئ " ( "SLOW ") نښې ښیي یا سره او ژیړ څراغونه کاروي.




ودرېږئ — ودرېږئ — ورو شئ — ادامه ورکړئ




اتومات بیرغ لړونکې مرستندویه وسیله

### *د کار په سیمه کې د خوندي موټر چلولو لاربښوونې*

کاري سیمي یا زونونه موټر چلوونکو او کارکوونکو دواړو ته خطر رامنځته کوي. هر کله چې د کار په سیمه کې سفر کوئ، دې خطرونه ته پام کوئ او احتیاط کوئ:

- بیدار اوسئ. د کم سرعت محدودیتونو، د موټر چلولو تنګو لینونو او د لویې لارې کارګرانو ته پام وکړئ.
- پاملرنه وکړئ. د کار د سیمي نښې په دقیق ډول دا وایي چې مخکې د څه تمه ولرئ.
- په وخت سره یو ځای شئ. که د نښو په لومړي ځل لیدلو سره یو ځای شئ، په عمومي توګه ترافیک به زیات روان وي

په منظم ډول. په ځینو ځایونو کې ترافیک هغځول کیږي چې د لین د ترلو په لوري له ترافیکو سره یو ځای شي، دا یو ځای کېدل یا ادغام د ناوخته یا ځنځیر (زیپ) یو ځای کېدلو په نامه یادیږي، چې کېدای شي د ترافیکو د په شاتګ د اوږدوالي د کمولو لپاره وکارول شي. په دغو حالتونو کې به نښې وکارول شي.

- ورو شئ. که په لوړ سرعت سره د کار سیمې ته نږدې کېږئ، په څو ثانیو کې به له ورو یا دریدلو ترافیکو سره مخ شئ.
- له نورو نقلیه وسیلو سره په ډېر کم واټن کې موټر مه چلوئ. د خپلې نقلیه وسیلې په ټولو څنګونو کې خوندي واټن وساتئ.
- د حس د ګډوډېدلو عوامل اصغري حد ته را ټیټ کړئ.
- له مخکې څخه پلان جوړ کړئ او د ځنډونو تمه ولرئ.
- بدیلې لارې په پام کې ونیسئ، که شته وي.

## د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځایونه

د رېل پټلۍ د تېرېدلو په ځایونو (تقاطع ګانو) کې ځانګړي نښې، اشارې، او د سړک د فرش نښې یا خط کشۍ موټر چلوونکو ته د خبرداري ورکولو او تنظیمولو لپاره کارول کېږي، که څه هم باید تمه و نه لرئ چې د رېل پټلۍ د تېرېدو په هر ځای کې دې ټولې دغه وسیلې کارول شوې وي. ځینې نقلیه وسیلې د قانون له مخې اړ دي چې تل د رېل پټلۍ د تېرېدلو په ځای کې ودریږي چې له ۱۵ فوټو څخه نږدې نه وي یا د تر ټولو نږدې رېل څخه له ۵۰ فوټو څخه ډېر لرې وي. دا اړتیا د رېل پټلۍ پر هغو پرېښودل شویو لارو نه پلې کېږي چې هلته مناسبې نښې لګول شوې وي یا هغه د رېل هغه پټلۍ چې له سړک څخه تېرېږي لرې شوې وي.

هغه نقلیه وسیلې چې د رېل پټلۍ د دریدلو په ځایونو کې باید ودریږي، عبارت دي له:


- ټول هغه نقلیه وسیلې چې د کرایې لپاره مسافرین لیږدوي
- د ښوونځي ټول بسونه
- ټول هغه نقلیه وسیلې چې چاودېدونکي یا لمبه کېدونکي مایعات لیږدوي

د خبرداري یو شمېر نښې شته دي چې موټر چلوونکو ته د رېل پټلۍ د تېرېدلو د ځایونو په اړه د خبرداري ورکولو لپاره کارول کېږي.



د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځای


د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځای


د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځای


د رېل پټلۍ د تېرېدلو ځای

### *د رېل پټلۍ چلیپا نښې (Crossbucks)*

د رېل پټلۍ د تېرېدلو په ځای کې د رېل پټلۍ چلیپا نښې (Crossbucks) د رېل پټلۍ موقعیت ښیي.

کله چې یواځې ښودل کېږي، د رېل پټلۍ چلیپا نښه باید د لومړیتوب د نښې په توګه په پام کې ونیسئ او د دریدلو یا د رېل له پټلیو څخه د تېرېدلو پرېکړه پر تاسو پورې اړه لري. که یو رېل رانږدې کېږي، باید ودرېږئ.

کله چې د رېل پټلۍ چلیپا نښه د دریدلو له نښې سره ښودل کېږي، باید په بشپړه توګه ودرېږئ او یواځې هغه وخت باید د رېل له پټلیو څخه تېرېدلو ته ادامه ورکړئ چې ډاډ ترلاسه کړئ کوم رېل نه رانږدې کېږي. هېڅکله په ساده توګه داسې مه انګېرئ چې رېل نه رانږدې کېږي، ځکه چې یواځې د دریدلو نښه ده.

کله چې د خبرداري فعال زنګونه، سترګک وهونکي څراغونه، یا څراغونه او دروازې شته وي، باید ودرېږئ او تر هغې حرکت ته ادامه ور نه کړئ چې فعال خبرداري لغوه شوي نه وي یا د قانون د پلې کولو یو افسر یا د رېل پټلۍ بیرغ لرونکي (لارښوونکي) د مخکې تګ لارښونه نه وي درته کړې.





### *د رېل پټلۍ د تېرېدلو د ځای خوندیتوب*

- د ښکته شوې دروازې په شاوخوا کې د موټر چلول غیر قانوني دي.
- د خبرداري د ټولو نښو او وسایلو پیروي وکړئ. د اورګاډو اندازې ته په کتلو سره، د اورګاډي اصلي سرعت کېدای شي خورا تېر ابستونکی وي. په هېڅ حالت کې باید هڅه ونه کړئ چې د تېرېدلو یو ځای ته په رسېدلو کې له یو رېل سره مسابقه وکړئ.




- د ریل پټلیو څخه د تېرېدلو پر مهال له درېدلو یا د ګېرونو له بدلولو څخه ډډه وکړئ. یو موټر چلوونکی باید هېڅکله له ریل پټلیو څخه تیریدل پیل نه کړي، مګر دا چې وکولای شي له درېدلو پرته ترې تېر شي. که ستاسو نقلیه وسیله په رېل پټلۍ کې بنده پاې کېږي، ټوله سورلي باید سملاسي نقلیه وسیله پرېږدي.
- د تېرېدلو د بند شوي ځای په اړه د معلوماتو ورکولو په موخه د رېل پټلۍ ته د زنګ وهلو لپاره د بېړنۍ خبرتیا نښه ولټوئ او د مرستې لپاره له ۹۱۱ سره اړیکه ونیسئ.
- اضافي رېل ګاډو ته پام کوئ. په هغو ځایونو کې چې د رېل له یوې څخه زیاتې پټلۍ دي، یو موټر چلوونکی چې د رېل له یوې پټلۍ یا لارې څخه تېرېدلو ته انتظار کوي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د لومړي رېل څخه له تېرېدلو وروسته بل رېل پر بله پټلۍ نه راځي. پام وکړئ چې یو رېل خو به د لومړي رېل تر شا مخالف لوري ته حرکت نه کوي.
- "ځایي ارامو سیمو یا زونونو " ته مو پامو وي چې په هلته ځینو دروازه یي د تېریدلو ځایونو ته د رېل په نږدې کېدلو سره د لوکوموټیو (د رېل ماشین) هارن غږ نه کوي.
- پام مو وي چې ځینې رېل ګاډي د رېل پر پټلیو د کوڅې په منځ کې چلېږي. په دې حالتونو کې، ترافیکي اشارې په ټولو لوریو کې سور څراغ روښانوي څو د یو رانږدې کېدونکي رېل شتون وښیي.
موټر چلوونکي باید دا ښودنه یا اشاره د تېرېدلو د بل هر خبرداري په توګه وګڼي.
- د رېل پټلۍ د تېرېدلو د ځای په ۱۰۰ فټه واټن کې له بلې نقلیه وسیلې څخه مه تېرېږئ (مخکې کېږئ).

## د رېل پټلۍ د تېرېدلو په ځایونو کی خوندیتوب




د رېل پټلۍ د تېرېدلو د ځای دروازه

که ستاسو نقلیه وسیله د رېل پټلۍ د تېرېدو په ځای کې غیر فعاله شي، یا که د یو رېل ګاډي د نږدې کېدلو پر مهال د رېل پر پټلۍ یا د تېرېدلو په ځای کې کومه مانع یا خنډ ووینئ، دا کولای شي تاسو، نورو موټر چلوونکو یا د رېل چلوونکو او مسافرو ته ژوند ګواښوونکي ننګونه رامنځته کړي. له همدې امله باید سملاسي داسې یو اقدام وکړئ چې د ټکر د پایلو له کمولو یا اصغري کولو سره مرسته وکړي. دلته ستاسو لپاره ځینې عمومي لارښوونې دي چې د داسې حالت د پېښېدلو پر مهال یې په پام کې ونیسئ:

- کله چې د تېرېدلو څراغونه په سترګک وهلو پیل وکړي او دروازې په راښکته کېدلو پیل وکړي، تاسو تقریباً ۲۰ ثانیې وخت لرئ چې د تېرېدلو له ځای څخه تېر شئ.
- په هغه حالت کې چې تاسو یا بل موټر چلوونکی د رېل په پټلۍ کې بند پاتې شئ، باید سیمه پرېږدئ، نورو ته خبر ورکړئ چې د ورته کار کولو خبر ورکړئ، او د راتلونکي یا مخالف رېل پر لوري په ۴۵ درجې زاویه د رېل له پټلۍ څخه منډه ووهئ. له شاوخوا څخه له لرې کېدلو وروسته، د ستونزې د راپور کولو لپاره ۹۱۱ ته زنګ ووهئ.




که د رېل د تېرېدلو ځای ته نږدې کېږئ او ستاسو نقلیه وسیله د رېل پټلۍ د تېرېدو په ځای کې غیر فعاله شي، یا که د رېل پټلۍ یا د تېرېدلو په ځای کې کومه مانع یا خنډ ووینئ، خو هېڅ رېل نه رانږدې کېږي یا نشته وي:

- سملاسي د بېړنۍ خبرتیا ورکولو سیستم (ENS) ته زنګ ووهئ. د تلیفون شمېره د رېل پټلۍ د تېرېدلو د ځای پر دروزاه په نښلول شوې ابې نښه یا لوحه کې شته (په ښي لوري کې ښودل شوې؛ د تلیفون شمېره ښایي په واقعي نښه یا لوحه کې توپیر ولري). دوی ته ووایئ چې په دقیق ډول څه مانع یا خنډ دی او ستاسو موقعیت چېرته دی.
- د بېړنۍ خبرتیا ورکولو سیستم (ENS) ته له خبرتیا ورکولو وروسته، ۹۱۱ ته زنګ ووهئ او د ستونزې راپور ورکړئ.

## له ټراکټور-ټرېلرو سره د سړک شریکول

له ټراکټور-ټرېلر سره د پېښې یا ټکر د احتمال کمولو لپاره، د هغوی د برېک نیولو له وړتیا، پټو ټکو (ړانده ټکي، چې نه لیدل کېږي)؛ او د مانور له وړتیا سره ځان بلد کړئ. د هرې هغې نقلیه وسیلې اعظمي سور چې له ځانګړې اجازې پرته چلول کېدای شي اته فوټه او شپږ اینچه دی. د هرې هغې نقلیه وسیلې اعظمي لوړوالی چې له ځانګړې اجازې پرته چلول کېدای شي ۱۳ فټه، ۶ اینچه دی. د هرې هغې نقلیه وسیلې اعظمي وزن چې له ځانګړې اجازې پرته چلول کېدای شي ۸۰،۰۰۰ پونډه (lbs) دی. داسې یوې نقلیه وسیلې ته له حرکت ورکولو څخه مخکې چې د عامه لویو لارو د اندازې او یا وزن له محدودیتونو څخه اوړي، باید د اضافي اندازې/اضافي وزن اجازه ولرئ. د اړتیاوو او اجازو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، IN.gov/DOR/mcs.htm وګورئ. ټول هغه نقلیه وسیلې چې اوږدوالی یې له ۸۰ اینچو څخه زیات دی، باید د خوندیتوب د واټن څراغونه (clearance lamps)، نښانګر (markers)، یا منعکس کوونکي (reflectors) ولري چې د شپې پر مهال نورو موټر چلوونکو ته نقلیه وسیله د لید وړ ګرځوي.

### بریک نیول

ټراکټور-ټریلر به د هغه موټر په پرتله زیات وخت ونیسي تر څو ودریږي چې په ورته سرعت سره سفر کوي، او له همدې امله باید د یو ټراکټور-ټریلر په مخ کې باید په ناڅاپي توګه لین بدل نه کړئ یا و نه دریږئ. یو منځنی مسافر وړونکی موټر چې په ساعت کې ۵۵ میله سرعت سره سفر کوي، کولای شي تقریباً په ۱۳۰ تر ۱۴۰ فوټه، یا تقریباً د فوټبال د یو میدان د اوږدوالي په نیمایي کې ودریږي. له تودو بریکونو سره یو بشپړ بار شوی ټراکټور ټریلر ښایي له ۴۰۰ فوټو څخه زیات، یا د فوټبال د یو میدان له اوږدوالي څخه زیات واټن کې په بشړه توګه ودریږي.

### تاوېدل

هر ډول تاوېدونکي نقلیه وسیله چې تاوېږي، شاتني ټایرونه د مخکینو ټایرونو په پرتله لنډ واټن وهي، او هر څومره چې نقلیه وسیله اوږده وي، توپیربه هم زیات وي. د ټراکټور-ټریلر چلوونکي د یوې تنګې تاوېدنې لپاره پخپل لومړي ګام کې بهر لوري ته حرکت کوي.

کله چې یو ټراکټور-ټریلر تعقیبوئ، مخکې له دې چې تري تېر شئ د تاوېدلو اشارو ته یې پام وکړئ، په ځانګړې توګه په ښي لوري کې. که داسې ښکاري چې ټراکټور-ټریلر کیڼ لوري ته حرکت کوي، یوه شېبه صبر وکړئ او وګورئ چې موټر چلوونکي د کوم لوري اشاره ورکوي او په سمه توګه تاوېدلو ته پام وکړئ. یو چوک یا دایروي څلورلاري یا تقاطع ته د نږدې کېدلو یا ننوتلو پر مهال، مهرباني وکړئ له ټراکټور-ټریلرو سره د سړک شریکولو اړوند قوانین په پام کې ونیسئ. کولای شئ دغه قوانین د دې څېرکي د چوک یا دایروي څلورلارې یا تقاطع په برخه کې وګورئ.

### پټ ځایونه (ړانده ټکي، چې نه لیدل کېږي)

ډېری موټر چلوونکي په تېروتنې سره داسې انګېري چې د ټراکټور-ټریلر چلوونکی کولای شي سړک ښه ووینې ځکه چې د کوچني موټر د چلوونکي په پرتله دوه برابره لوړ ناست دی. په داسې حال کې چې د ټراکټور-ټریلر چلوونکي د مخې ښه لید او ستري هنداري لري، دوی لا هم جدي پټ یا ړانده ټکي لري چې په هغو کې یو موټر په بشپړه توګه له لید څخه ورکیږي. د ټراکټور-ټریلر د موټر چلوونکي لپاره پټ یا ړانده ځایونه د چلوونکي له کابین مخې لوري، د ټریلر هر لوري ته او د کابین په څنګ کې تر ۲۰ فوټو پورې، او د نقلیه وسیلې په شا کې تر ۲۰۰ فوټو پورې دي.

هغه موټر چلوونکي چې په څنګونو یا شا کې په پټو یا ړندو ځایونو کې پاتې کېږي، د ټراکټور-ټریلر د موټور چلوونکي مخه نیسي تر څو د خطرناک حالت څخه د مخنیوي لپاره اقدام وکړي.

### د مانور وړتیا

ټراکټور-ټریلرونه په اوږدو واټنونو د محصولاتو د لېږد لپاره ډیزاین شوي دي او د کوچني موټرو په څېر د مانور وړ نه دي. ټراکټور-ټریلرونه زیات وزن لري، د دریدلو او سرعت زیاتولو واټنونه یې اوږده دي، او د تاوېدلو شعاع یې پراخه دي. په څو لینه لویو لارو کې، ټراکټور-ټریلرونه په مرکزي لین کې پاتې کېږي څو د ځایي ترافیکو له جریان سره مرسته وکړي چې لویې لارې ته دننه او بهر شي.

په منځني لین کې پاتې کېدل د ټراکټور-ټریلر د چلوونکي انتخابونه هم زیاتوي که د خطرناک حالت یا پېښې د مخنیوي لپاره د لینونو بدلولو ته اړ وي.

### له ټراکټور-ټریلرو سره د سړک شریکولو لپاره لارښوونې

- **له لویې لارې څخه د وتلو لارې ته د رسېدلو یا تاوېدلو ته د ټراکټور-ټریلر لار مه بندوئ.** د ټراکټور-ټریلر مخې ته پرانیستې فضا ته تلل د ټراکټور-ټریلر د چلوونکي د خوندیتوب واټن (cushion of safety) له منځه وړي. د ساختماني سیمې په یو لین کې ټراکټور-ټریلر ته ماتې ورکول په ځانګړې توګه خطرناک حالت رامنځته کوي. یو شېبه خپل سرعت کم کړئ او د ټراکټور-ټریلر تر شا بهر شئ. دا کار به ستاسو څو ثانیې وخت ونیسي او د پېښې خطر به په ستره کچه را ټیټ کړي.
- **دا کار به ستاسو څو ثانیې وخت ونیسي او د پېښې خطر به په ستره کچه را ټیټ کړي.** تل له ټراکټور-ټریلر څخه په بشپړ ډول تېر شئ او تل په کینه خوا کې تري تېرېږئ. که د ټراکټور-ټریلر څخه په تېرېدلو کې زیات وخت ونیسئ، ستاسو موقعیت د دې لامل کېږي که پر سړک مخکې یوه مانع یا خنډ راڅرګندېږي، د ټراکټور-ټریلر چلوونکی به و نه شي کولای له مانع یا خنډ څخه د لرې کېدلو اقدام وکړي.
- **ټراکټور-ټریلر له ډېر نږدې مه تعقیبوئ یا یې تر شا ډېر نږدې مه پاتې کېږئ.** کله چې ټراکټور-ټریلر له شا تعقیبوئ، که د موټر چلوونکي د شالید هنداري نه شئ لیدلی، چلوونکی تاسو نه شي لیدلی. د ټراکټور-ټریلر تر شا په نږدې واټن کې موټر چلول خطرناک دي، ځکه که ټراکټور-ټریلر په چټکې سره ودرېږي تاسو خپل د خوندیتوب واټن (cushion of safety) له منځه وړئ. سربېره پر دې، که هغه نقلیه وسیله چې تاسو یې تعقیبوئ پر سړک کوم څه ووهي، د موټر د مخې له لګېدلو مخکې به د غبرګون لپاره هېڅ وخت و نه لرئ.
- **هېڅکله د رانږدې کېدونکي لارې اندازه او سرعت کم مه ګڼئ.** د ستري اندازې له امله، یو ټراکټور-ټریلر زیاتره داسې ښکاري چې سرعت یې له هغه څخه کم دی چې سفر پرې کوي. د (کوچني) موټر او ټراکټور-ټریلر پام وړ ټکرونه په څلورلارو یا تقاطع ګانو کې رامنځته شوي دي ځکه موټر چلوونکی نه دی پوهېدلی چې ټراکټور-ټریلر څومره نږدې و یا څومر چټک رانږدې کېده.

## له نورو نقلیه وسیلو سره د سړک شریکول

### *انډیانا د څنډې ته کېدلو (Move Over) قانون*

انډیانا د څنډې ته کېدلو (Move Over) قانون لري چې موټر چلوونکي اړ کړي چې د لومړیتوب حق رعایت کړي؛ کله چې له سترګک وهونکو څراغونو سره یو بېړنی نقلیه وسیله را نږدې کېږي، بندي څنډې ته شئ او په بشپړ ډول ودرېږئ؛ یا لینونه بدل کړئ.

### *بېړني نقلیه وسایل*

هغه موټر چلوونکي چې بېړنی نقلیه وسیلي ته نږدې کېږي چې په متناوب ډول یې سره، سره او سپین، یا سره او ابي څراغونه سترګک وهي، اړ دي چې له مجازي نقلیه وسیلي څخه خپل لین بدل کړي. که څنډې ته کېدای نه شئ، موټر چلوونکي باید خپل سرعت د سرعت له اعلان شوي حد څخه په ساعت کې ۱۰ میله راکم کړي او په احتیاط سره حرکت ته ادامه ورکړي. نه رعایت یې د A ډلي یا طبقې یوه سرغړونه ده.

د IC 9-13-2-6 له مخې پېژندل شوي مجازي بېړنی نقلیه وسیلي په لاندې ډول دي:

1. د اوروژني وژني د اداري نقلیه وسایل
2. د پولیسو د اداري نقلیه وسایل
3. امبولانسونه
4. بېړني نقلیه وسیلي چې د روغتونونو یا روغتیایي او روغتون د شرکتونو له لوري یا لپاره کارول کېږي.
5. هغه نقلیه وسیلي چې د انډیانا د ترانسپورټ وزارت له لوري د بېړنیو نقلیه وسیلو په توګه ټاکل شوي دي.
6. هغه موټوري نقلیه وسیلي چې د انډیانا د بېړنیو طبي خدمتونو د کمیسیون له لوري تایید شوي دا دي: (A) امبولانسونه چې له روغتونونو پرته په کسانو، شرکتونو، محدود مسؤولیت لرونکو شرکتونو، یا سهامي شرکتونو پورې اړه لري؛ یا (B) امبولانسونه نه دي او د ایستلو او ژغورنې د خدمتونو په ګډون بېړني طبي خدمتونه وړاندې کوي.
7. د سمون یا اصلاح د اداري نقلیه وسیلي چې د بېړنیو نقلیه وسیلو په توګه ټاکل شوي او بېړنیو حالتونو ته ځواب وایي.

### *مجاز پارک شوي نقلیه وسایل*

سربېره پر دې، هغه موټر چلوونکي چې له کهربایي سترګک وهونکو څراغونو سره یوې مجازي ولاړې یا پارک شوي نقلیه وسیلي ته نږدې کېږي، اړ دي چې له مجازي نقلیه وسیلي څخه خپل لین بدل کړي. که څنډې ته کېدای نه شئ، موټر چلوونکي باید خپل سرعت د سرعت له اعلان شوي حد څخه په ساعت کې ۱۰ میله راکم کړي او په احتیاط سره حرکت ته ادامه ورکړي. دا کار نه کول د B ډلي یا طبقې یوه سرغړونه ده.

له کهربایي سترګک وهونکي څراغ سره مجازي نقلیه وسیلي عبارت دي له:


1. د بېرته ترلاسه کولو نقلیه وسیلي/کشوونکي لارۍ
2. د لویې لارې د ساتنې نقلیه وسیلي
3. د ښاري خدمتونونقلیه وسایل
4. د جامدو کثافاتو لېږدونکي/د کثافاتو لارۍ
5. د سروې/ساختماني نقلیه وسایل

#### د ښوونځي بسونه

د ښوونځي بسونه په دواړو کهربایي او سرو سترګک وهونکو څراغونو مجهز دي. کله چې د ښوونځي د بس چلوونکی کهربایي څراغونه روښانوي، هغه نورو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې بس ورو کېږي او ماشومان پورته کوي یا ښکته کوي. کله چې بس ودرېږي، سره څراغونه او د درېدلو بازو (stop arm) فعالېږي.




کله چې له فعالو سرو سترګک وهونکو څراغونو او د درېدلو له غځول شوي بازو سره د ښوونځي یو بس ته نږدې کېږئ، باید ودرېږئ. که تاسو پر یو سړک موټر چلوئ چې د یو خنډ (مانع) یا ناپرمختللي منځنی برخي (median) سره وېشل شوی وي، یوازې هغه وخت اړ یئ چې ودرېږئ کله چې د ښوونځي له بس سره په ورته لوري سفر کوئ.




هغو ماشومانو ته چې د ښوونځي په بس کې سفر کوي، تر ټولو ستر ګواښ د بس سفر نه دی، بلکې بس ته رسېدل یا له بس څخه تلل دي. کله چې د بس یو تم ځای ته نږدې کېږئ:

- هغو ماشومانو ته پام کوئ چې د بس له تم ځایونو سره نږدې لوبې کوي یا راټولېږي
- پام مو وي هغه ماشومان چې بس ته ناوخته رارسېږي ښايي کوڅې ته و نه ګوري
- کله چې پر بس ژېړ سترګک وهونکي څراغونه ښکاري درېدلو ته چمتو اوسئ، چې موټر چلوونکو ته خبرداری ورکوي چې بس درېږي.

د ښوونځي د بس درېدلو بازو (stop arm) ته پام نه کول کېدای شي د A ډلې یا طبقې د کوچني جرم، که سرغړونه د ټپي کېدلو لامل شي د ۶ مې کچې جرم، یا که سرغړونه د مړيني لامل شي د ۵ مې کچې جرم لامل شي.

په یاد ولرئ چې د ښوونځي بسونه د رېل پټلی د تېرېدلو په ځای کې درېږي. د شا له طرفه ټکر کېدل چې د رېل پټليو تېرېدلو ځایونو کې ولاړ د ښوونځیو بسونه پکې ښکیل وي په وروستيو کلونو کې زیات شوي دي.

## موټرسیلکونه او په موټر چلېدونکي سیکلونه

موټرسیکل چلوونکي او په موټور چلېدونکي سیکلونو (MDC) چلوونکي باید د مسافر وړلو د موټوري نقلیه وسیلو د چلوونکو سره ورته کتنې رعایت کړي. ټل د موټوري نقلیه وسیلو چلوونکو ته د بشپړ لین سور یا عرض ورکړئ. که څه هم ښايي داسي ځرګنده شي چې د ترافیکو په لین کې له یو موټوري نقلیه وسیلې څخه د زیاتو لپاره پوره ځای شته دی، خو باید په پام کې ولرو چې موټر سیکل چلوونکي او په موټور چلېدونکو سیکلونو (MDC) چلوونکي ښايي د بشپړ لین کارولو ته اړتیا ولري
تر څو په خوندي توګه مانور وکړي او له احتمالي خطرونو څخه مخنیوی وکړي چې د نورو نقلیه وسیلو د چلوونکو له خوا نه لیدل کېږي.

د موټرسیکلونو او په موټور چلېدونکو سیکلونو کوچنی نما کېدای شي د د وی د سرعت او واټن په اړه قضاوت کول ستونزمن کړي. همدارنګه دا نقلیه وسیلې کولای شي د نورو موټوري نقلیه وسیلو په پرتله په چټکې ودرېږي. موټرسیکلونه او په موټور چلېدونکي سیکلونه د دوی د اندازې له امله کېدای شي د یوې نقلیه وسیلې په پټ ټکي (ړانده ټکي، چې نه لیدل کېږي) کې پټ شي یا له اوړي څخه په یوه چټکه کتنه (څنګ ته کتل چې زیني له اوړي سره برابرېږي) کې له لاسه ووځي. تل یو ترافیکي لین ته له ننوتلو یا وتلو مخکې او په تقاطع ګانو کې خپلې هنداری او پټ ټکي یا ړانده ټکي وګورئ. د لینونو له بدلولو یا له ترافیکو سره تر یو ځای کېدلو مخکې تل خپل اراده ځرګنده کړئ (اشاره ورکړئ). دا کار د نورو نقلیه وسیلو چلوونکو ته اجازه ورکوي چې د ترافیکو د جریان اټکل وکړي او د خوندي لین موقعیت ومومي.

داسې مه انګېرئ چې پر موټرسیکل یا پر موټور چلېدونکي سیکل د یوې سترګک وهونکي اشارې معنا دا ده چې ژر یوه تاوېدنه په مخ کې ده. دغه نقلیه وسیلې داسې اشارې لري چې معمولاً په خپله نه لغوه کېږي او چلوونکي یې کله کله هېروي چې ګل یې کړي. صبر وکړئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې موټر سیکل چلوونکي یا په موټور چلېدونکي سیکل چلوونکي اقدام وکړي مخکې له دې چې تاسو ادامه ورکړئ.

د سړک شرایط، چې کېدای شي د لویو نقلیه وسیلو چلوونکو ته یواځې جزیي زړه خوړینی (ناراحتي) رامنځته کړي، کېدای شي موټر سیکل چلوونکو ته ستر خطرونه رامنځته کړي. موټر سیکل چلوونکي یا په موټور چلېدونکو سیکلونو چلوونکي ښايي د سړک او ترافیکو شرایطو، لکه کندو (سوریو)، جغلي، لندو، یا ښوییدونکو سطحو، د سړک د فرش درزونو، د رېل پټلې د تېرېدلو ځایونو، یا لارې لارې (خط خط) شوی فرش ته په غبرګون کې په ناڅاپي توګه سرعت بدل کړي یا په یو لین کې خپل موقعیت تنظیم کړي. که موټرسیکل تعقیبوئ، لږ تر لږه درې یا څلور ثانیې وخت ورکړئ څو موټر سیکل چلوونکی وکولای شي په بېړني حالت کې د مانور یا درېدلو لپاره پوره وخت ولري.

## بایسیکلونه

موټر چلوونکي باید په منظم ډول سړک له بایسیکل چلوونکو سره شریک کړي. په ډېری سړکونو کې، بایسیکل چلوونکي د سړک د نورو کارنانو (کاروونکو) سره ورته حقونه او مسؤلیتونه لري. موټر چلوونکي باید له بایسیکل چلوونکو سره د سړک د شریکولو پر مهال لاندې لارښودونه تعقیب کړي:

- موټر چلوونکي کولای شي هغه وخت له یو بایسیکل چلوونکي څخه تېر (مخکې) شي چې د بایسیکل چلوونکي ترڅنګ خوندي فضا شته وي
  (لږترلږه درې فوټه) او کله چې له راتلونکو یا مخامخ ترافیکو څخه کوم خطر نشته وي
- موټر چلوونکي باید بایسیکل چلوونکي ته د لومړیتوب حق ورکړي، لکه څرنګه یې چې بلې نقلیه وسیلې ته ورکوي
- بایسیکل چلوونکي نه شي کولای له دوو (۲) څخه زیات څنګ پر څنګ ولاړ شي، مګر په هغو لارو یا د سړک په هغو برخو کې چې په ځانګړې توګه د بایسیکلونو لپاره ټاکل شوي دي
- بایسیکل چلوونکي اړ نه دي چې د بایسیکل په ټاکلي لین کې یې بایسیکل وچلوي، ځکه بایسیکل چلوونکي هم د بایسیکل له لین څخه او هم د سفر له لین څخه د کټې اخیستلو حق لري
- د بایسیکل چلوونکي په لاره کې له تاوېدلو څخه ډډه وکړئ
- کله چې یو موټر چلوونکي کیڼ لوري ته تاوېږي او له مخامخ لوري څخه یو بایسیکل چلوونکي څلورلارې یا تقاطع ته ننه کېږي، موټر چلوونکي باید له تاوېدلو څخه مخکې صبر وکړي چې بایسیکل چلوونکي تېر شي

- که یو موټر چلوونکی د کیڼ لوري تاوېدلو لین له یو سایکل سره شریکوي، د سایکل چلوونکي تر شا پاتې شئ تر څو هغه په خوندي توګه کیڼ لوري ته تاوېدل بشپړ کړي
- که یو موټر چلوونکی د کیڼ لوري تاوېدلو لین له یو سایکل سره شریکوي، د سایکل چلوونکي تر شا پاتې شئ تر څو هغه په خوندي توګه کیڼ لوري ته تاوېدل بشپړ کړي

له پارک کولو وروسته او د نقلیه وسیلي د دروازو له پرانیستلو مخکې، موټر چلوونکی باید لومړی سایکل چلوونکي وګوري.

### *د سایکل لینونه*

د سایکل لارې او لینونه باید په ځانګړي ډول د سایکلونو د چلولو لپاره وکارول شي، مګر دا چې:

- نښې له پلیو سره ګډ کارول مشخصوي
- موټر چلوونکی پر رسمي دنده وي، لکه د پُست لیږدول

د هرې نقلیه وسیلې د چلونکو یا کاروونکو لپاره نور قوانین عبارت دي له:

- د بایسیکل په لارو یا لینونو کې موټر مه چلوئ مه یې پارک کوئ، یا نقلیه وسیله په داسې حالت کې مه ځای پر ځای کوئ چې په هغه لاره یا لین کې د بایسیکل د ترافیکو مخه ونیسي
- هغه شخص ته د لومړیتوب حق ورکړئ چې د بایسیکل په ټاکل شوې لاره یا لین کې بایسیکل چلوي
- د تاوېدلو لپاره په چمتووالي کې د بایسیکل لارې یا لین ته مه ځئ
- یوازې د تاوېدلو یا د کوچنی کوڅې (alley) د موټر لارې (driveway)، یا خصوصي سړک ته د ننوتلو یا وتلو پر مهال د سایکل له لارې یا لین څخه تېر شئ
- د کوڅې د تمځای د کارولو پر مهال د دروازې په پرانیستلو یا په شا کېدلو کې احتیاط کوئ

### *ګډ لینونه* (Sharrows)





د ګډ لین (Sharrow) نښې یا خط کشي

د ګډ لین (Sharrow) د یو سایکل چې له پاس یې دوه غشي یا وېکټورونه وي، د سړک د فرش نښې یا خط کشي دي او له سایکل چلوونکو سره د مرستې لپاره، چې له پارک شویو موټرو څخه لرې شي او د سړک نورو کاروونکو ته د خبرداري ورکولو لپاره چې د سایکل چلوونکو له لوري د سفر د لینونو د نیولو یا اشغال تمه ولري، کارول کېږي.


### *د سایکل د لین او د بس د لین نښې یا خط کشي*

زرغون رنګ شوی د سړک فرش د سایکلونو د لینونو د لید د ښه کولو لپاره کارول کېږي. سور رنګ شوی د سړک فرش د بس یا ټرانزیټ د لینونو د لید د ښه کولو لپاره کارول کېدای شي چې د بسونو، ټکسي ګانو، یا د عامه ټرانزیټ د نورو ډولونو لپاره ټاکل شوي وي.






### ورو تلونکي نقلیه وسایل



ورو تلونکي نقلیه وسیله

ځینې ورو تلونکي د کروندې نقلیه وسایل، ساختماني تجهیزات، او د څارویو له خوا کشول کېدونکي نقلیه وسیلې ښایي سړکونه سره شریک کړي. د غو نقلیه وسیلو ته د نږدې کېدلو یا ترې تېرېدلو پر مهال باید احتیاط وکړئ. هغې ځانګړې نښې ته پام کوئ چې موټر چلوونکی یې باید د ورو تلونکي نقلیه وسیلې په شا کې وګوري.

پر اس سپور یا د اس په واسطه کشېدونکي نقلیه وسیله پر عامه لویه لار د سپرلی پر مهال د موتوري نقلیه وسیلې له چلوونکي سره ورته حقونه او مسؤولیتونه لري. په احتیاط سره ور نږدې شئ او د لاس هرې هغې اشارې ته پام کوئ چې پر اس سپور کس یا د اس په واسطه کشېدونکي نقلیه وسیلې چلوونکی یې کاروي.

### *ساکن کاري ابزار (Stationary Utility)، د ساتنې (Maintenance) او د جامدو کثافاتو نقلیه وسایل*

کله چې ساکن کاري ابزار ((stationary utility، ساختماني، د ساتنې، د بېرته ترلاسه کول، سروې، یا د جامدو کثافاتو نقلیه وسیلې وینئ چې متناوب کهربایي سترګک وهونکي څراغونه ښیي، که په خوندي توګه شوني وي باید ورو شئ او هغه لین ته ولاړ شئ چې له نقلیه وسیلې سره په څنګ کې نه وي. که پر یوه لویه لار سفر کوئ چې لږ تر لږه څلور لینونه لري چې لږ تر لږه دوه

لينونه يې ستاسو پر لوري يا جهت دي، که په خونديتوګه شوني وي نو بايد ورو شئ او هغه لين ته ولاړ شئ چې له نقليه وسيلې سره په څنګ کې نه وي. که په خونديتوګه د لين بدلول خوندي نه وي، خپل سرعت بايد د سرعت له اعلان شوي يا ټاکل شوي حد څخه په ساعت کې ۱۰ ميله کم کړئ او په احتياط سره پر مخ ولاړ شئ.

### د ترافيکو د کنټرول افسران او رسمي ډله ييز حرکتونه يا مراسم


د څانګړو پېښو، د ترافيکو د ګڼي ګوڼي، يا نورو لاملونو له امله، د قانون يو پلي کوونکی افسر ښايي په يوه څلورلارې يا تقاطع کې ترافيکو ته لارښوونه وکړي. د قانون د پلي کولو د افسر امر ښايي له ترافيکي اشارې يا نښې سره توپير ولري. په داسې حالتونو کې، د قانون د پلي کوونکي افسر د امر پيروي بايد وشي. رسمي ډله ييز حرکتونه، لکه د جنازې د مراسمو لپاره تګ، د لومړيتوب حق لري، د ترافيکي اشارې په پام کې نيولو څخه پرته کوم چې بل څه ښيي.

## موټر ودرول او په شاتګ يا ريورس

### موازي موټر ودرول

په خالي ځای کې د موازي پارک کولو لپاره چې مخ ا و شا ته يې نقليه وسيلې پارک شوي وي، لاندې پړاوونه تعقيب کړئ:

1. د پارک کولو لپاره خپله اراده څرګنده کړئ (اشاره وکړئ).
2. خپله نقليه وسيله خالي ځای ته مخامخ پارک شوې نقليه وسيلې سره موازي کړئ او لږ تر لږه له دې نقليه وسيلې څخه ۲ فټه واټن ولرئ. خپل شاتنی بمپر خالي ځای ته مخامخ پارک شوې نقليه وسيلې له شاتني بمپر سره برابر کړئ (A شکل).
3. ورو شا ته (ريورس) ولاړ شئ څو د نقليه وسيلې مخ مو د موازي موټر د مخې له درواز‌ې سره سم شي. څرخ (ويل) په تېزۍ سره ښي خوا ته تاو کړئ او ورو ورو شا ته (ريورس) ولاړ شئ څو نقليه وسيله په ۴۵-درجې زاويه کې شي، او په شا (ريورس) ولاړ شئ (B شکل).
4. کله چې ستاسو د نقليه وسيلې مخ د موازي موټر له شا څخه تېرېږي، خپل د جلب څرخ په تېزۍ سره کيڼ لوري ته تاو کړئ، بيا په تدريج سره، په داسې حال کې چې بېرته شا ته ځای يا فضا ته دننه ځئ (C شکل).
5. د خپلې نقليه وسيلې څرخونه (ويلونه يا ټايرونه) سيده کړئ او مخکې خالي ځای ته ولاړ شئ (D شکل).



شکل A شکل B شکل C شکل D

کله چې خپله نقليه وسيله مخ پر ښکته پارک کوئ، څرخونه (ويلونه يا ټايرونه) يې د جدول لوري ته تاو کړئ. کله چې خپله نقليه وسيله مخ پورته پارک کوئ، څرخونه (ويلونه يا ټايرونه) يې له جدول څخه (مخالف لوري) ته تاو کړئ. که جدول نه وي، د خپلې نقليه وسيلې څرخونه (ويلونه يا ټايرونه) له کوڅې څخه تاو کړئ.

د تمځای له ځای څخه ترافيکو ته د ننوتلو پر مهال خپله اشاره وکاروئ. د تمځای له ځای څخه د وتلو پر مهال د دواړو لوريو له کتلو څخه ډاډ ترلاسه کړئ او موټر او پلي بيا وګورئ.

### د تمځای غير قانوني سيمې

په لاندې عمومي سيمو کې پارک کول منع دي:


- لويې لارې (مګر دا چې په بل ډول ښودنه شوې وي)
- د تقاطع ګانو يا څلورلارو دننه يا د پليو د تېرېدلو پر ځايونو باندې
- پر پياده روونو يا د موټر د هر ډول لارې (driveway) مخامخ
- د اور وژنې د نل (hydrant) په ۱۵ فټه واټن کې يا د اور وژنې پر لينونو باندې
- پر پلونو يا نورو لوړو ساختمانونو لکه پر لويه لار يا تونل
- د ژېړو جدولونو په څنګ کې
- د بلې پارک شوې نقليه وسيلې تر څنګ
- د معلوليت لرونکو کسانو لپاره د تمځای په ريزرف شويو ځايونو کې مګر دا چې د تمځای اعتباري پلاکارت ولرئ
- د تمځای د لاسرسي وړ ځايونو سره په څنګ کې په رېونده بنه خط خط شوې سيمه کې

### شا ته تلل یا ریورس کول

په شا تلل له مخ پر وړاندې موټر چلولو څخه ډېر ستونزمن دي ځکه ستاسو د لید ساحه په خپله نقلیه وسیلې بنده کړې ده، او د خپل سرعت او لورې کنټرول ډېر ستونزمن وي.

په شا تللو لپاره، خپل بدن ښيي لوري ته تاو کړئ څو له شاتنی کړکی څخه وګورئ. په شا تللو لپاره هېڅکله یواځې د شالید له هنداري څخه کار مه اخلئ. ورو ولاړ شئ، په دقت سره ټولو لوریو ته ګورئ. هېڅکله د تاوېدلو لپاره بېرته یوې تقاطع یا څلورلارې یا تقاطع ته مه ځئ.

### د معلولینو د لاسرسي وړ تمځای




د معلولیت لرونکو کسانو لپاره د تمځای ریزرف شوي ځایونه په نښو او د فرش له نښو یا خط کشی سره مشخص شوي.

د تمځای د ریزرف شوي ځای تر څنګ په رېونده بڼه خط خط شوي ځای کې پارک کول منع دي. خط خط شوی ځای د وېلچیر کاروونکي ته اجازه ورکوي څو خپلې نقلیه وسیلې ته دننه او بهر شي. که د وېلچیر کاروونکی د لاسرسي وړ نقلیه وسیله ولري، اړینه ده چې دغه ځای باید خپل رمپ پرانیزي څو د وېلچر کاروونکي وکولای شي په خوندي توګه نقلیه وسیلې ته دننه او بهر شي. د تمځای په دې خط خط شوي سیمه کې د نقلیه وسیلې پارک کول منع دي تر دې که د پارک کولو اعتباري پلاکارت هم ولرئ.

## د پلیو خوندیتوب

د پلیو د تېرېدلو ځای یا د پلیو اشاره ښيي چې پلي کسان نږدې دي. کله چې پلي کسان په نږدې شاوخوا کې وي، لاندې قوانین یا لارښووني تعقیب کړئ:

- تل پلیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ
- داسې مه تاوېږئ چې د دې لامل شي چې یو پلی کس ودرېږي، ورو شي، یا له ټکر څخه د مخنیوي لپاره کومه بله ځانګړې هڅه وکړي.
- که ماشومان په شاوخوا کې وي، ځانګړې پاملرنه وکړئ ځکه ماشومان د ترافیکو له خطرونو څخه پوره نه دي خبر. ماشومان او نور پلي کسان ښایي په نه تمه کېدونکو ځایونو کې له سړک څخه تېر شي.
- نورو کسانو ته درناوی ولرئ چې له سړکونو څخه په تېرېدلو کې ستونزې لري، لکه د لوړ عمر لرونکي کسان یا یو کس چې د لید معلولیت ولري
- هر څوک یو پلی کس دی

### هغه پلي کسان چې د سترګو لید یې کمزوری دی

د هغو کسانو لپاره چې لید یې کمزوری دی د سفر مرستندوی وسایل زیاتره یوه سپینه امسا یا د لارښووني روزل شوی سپی دی. د لید معلولیت لرونکو کسانو ته خپلواک سفر کول ځیني خطرونه لري او کله چې موټر چلوونکي د سپیني امسا او لارښود سپي پر معنی پوه وي دغه خطرونه په ستره کچه کمېدای شي. موټر چلوونکي باید تل هغو کسانو ته د لومړیتوب حق ورکړي چې د لید کمزورتیا لري.

## د خوندیتوب کمربندونه او د ماشوم د خوندیتوب څوکۍ

د خوندیتوب کمربندونه او د ماشوم د خوندیتوب څوکۍ، لکه د موټر څوکۍ، هر کال د زرګونو کسانو ژوند ژغوري او په یوه پېښه کې د ژوندي پاتې کېدلو چانسونه زیاتوي. کله چې د خوندیتوب کمربند بسته شوی وي، د موټر چلوونکو او د مخکي څوکۍ د سورلیو لپاره د ژوندي پاتې کېدلو فرصت ۴۵ سلنه زیاتوي او د شدید ټپي کېدلو خطر ۵۰ سلنه کموي.

### د خوندیتوب کمربند

د انډیانا د قانون له مخې موټر چلوونکی او سپرلی اړ دي چې هر وخت د خوندیتوب کمربند وکاروي کله چې موټر فعال وي. د بسونو چلوونکي هم اړ دي چې د خوندیتوب کمربند وکاروي.

د خوندیتوب کمربند باید ان په هغو نقلیه وسیلو کې هم وکارول شي چې یوه یا څو د هوا کڅوړې لري. د هوا کڅوړې داسې ډیزاین شوي دي چې د خوندیتوب له کمربندونو سره کار کوي تر څو د ټکر په حالت کې د نقلیه وسیلې سپرلی ورو کړي. د خوندیتوب د کمربند نه کارول کېدای شي د هوا د کڅوړې له امله د ټپي کېدلو لامل شي.

د خونديتوب د زياتولو لپاره، دا لارښووني تعقيب کړئ څو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو او ستاسو سپرلی په نقليه وسيله کې په سمه توګه ناست يئ:

- ټول بايد د خونديتوب کمربند د کوناټيو له لاندې برخې سره او د اوږې پر هډوکي بسته کړي.
- موټر چلوونکی بايد د جلب له څرخ څخه ۱۲ انچه لرې کښېني.
- د څوکۍ د سر تکيې يا بالښتونه بايد داسې برابر شي چې له پورتنۍ برخې څخه لوړ او څومره چې شوني وي د سرې د سا شاتنۍ برخې ته نږدې وي.

### د خونديتوب د کمربند استثناءګانې

لاندې موارد هغه مثالونه دي چې د خونديتوب کمربند ته اړتيا نشته:

- موټر چلوونکي يا سپرلی (مسافر) د طبي لاملونو له امله د خونديتوب کمربند نه بسته کوي، په دې شرط چې له يو ډاکتر څخه د لاملونو ليکلی اسناد ولري
- يو ماشوما چې د ماشوم د ساتنې د سيستم په واسطه يې بايد ساتنه وشي
- له سوداګريزې نقليه وسيلې يا د متحده ايالتونو د پُستي خدمتونو نقليه وسيلې کې سفر کول چې د توکو او خدمتونو د پورته کولو يا رسولو په موخه په تکراري ډول درېدلو ته اړتيا لري
- د متحده ايالتونو د پُستي خدمتونو کليوالي لېږدونکی چې د کليوالي پُستي لارې د خدمت کولو پر مهال موټر چلوي
- د ورځپاڼې د موټوري لارې لېږدونکی يا د ورځپاڼې د بستې لېږدونکی چې له يوې نقليه وسيلې څخه د ورځپاڼو د لېږدولو لپاره درېږي
- د موټر چلوونکي ازموينه اخيستونکی چې د موټوري نقليه وسيلو د ادارې (BMV) له لورې ټاکل شوی او ګمارل شوی وي چې د IC 9-24-10 له مخې د زده کونکي اجازې يا د موټر چلولو جواز له غوښتونکي څخه ازموينه اخلي
- د کروندې د يوې لارۍ موظف چې د کروندې د عادي او معمولو کړنيزو فعاليتونو په تړاو د کروندې د عملياتو لپاره کارول کېږي
- د يوې موټوري نقليه وسيله موظف چې په رسم کذشت کې برخه اخلي
- د ساعت تېرۍ د نقليه وسيلې د استوګنيزې برخې موظف
- د يو امبولانس د درملنې د برخې موظف
- د ټراکټور-ټرېلر د خوب د برخې موظف
- د ښاروالۍ د کثافاتو راټولولو او لېږدولو د نقليه وسيلې له چلوونکي پرته بل موظف
- په ساختماني سيمه کې د لارۍ له چلوونکي پرته بل موظف
- د بېرته ترلاسه کولو د نقليه وسيلې له چلوونکي پرته بله سپرلی، چې په کابين کې لېږدول کېږي ځکه د سپرلی يا مسافر نقليه وسيله د بېرته ترلاسه کولو د نقليه وسيلې له خوا کشول کېږي
- په بېړني حالت کې د عامه خدمتونو د شرکت له لورې د کارول کېدونکي موټوري نقليه وسيلې له چلوونکي پرته بل موظف


### د ماشوم د خونديتوب څوکۍ

له اتو کالو څخه کم عمر لرونکي مسافر د قانون له مخې اړ دي چې د ماشوم د خونديتوب په سيستم لکه د ماشوم د موټر څوکۍ (child car seat) يا د موټر لپاره د ماشوم څوکۍ (booster seat) کې په سمه توګه خوندي شي.

### د مسافرو د هوا کڅوړې

د هوا د کڅوړو د چاودېدلو ځواک د زيات عمر لرونکي کسان او له پنځه فټه څخه کم لوړوالي لرونکي ماشومان وژلي دي. که يو موټر د مسافر يا سپرلی په اړخ کې د هوا په کڅوړه مجهز وي، د خونديتوب ملي شورا (National Safety Council) سپارښتنه کوي چې له ۱۲ کلونو څخه د کم عمر ماشومان دې په شاتنۍ څوکۍ کې سپاره کړل شي.

**ستاسو موټر بايد دا تجهيزات ولري**



## د لارۍ د تجهیزاتو اړتیاوې

د هرې لارۍ یا بس لپاره د روښنایي اړتیاوې دا دي: دوه (۲) د شا سره څراغونه، یو (۱) د شا د پلېټ سپین څراغ، او لرترلږه یو (۱) سور د دربېدلو څراغ.

هغه نقلیه وسیلي چې داسې بار لېږدوي چې د موتوري نقلیه وسیلي له شا څخه تر څلورو فوټو زیات غځېدلی وي، یا د پای تختي یا د پای دورازې ولري چې له شا څخه تر څلورو فوټو زیاتي غځېدلي وي، باید لاندې رڼا اچووني د لیدلو وړ وي:

- یو سور څراغ باید د لمر لوېدلو او د لمر راختلو ترمنځ د نقلیه وسیلي د بار په وروستي پای کي نصب شي. سور څراغ باید په دواړو خواوو کي نصب او له شا څخه له ۵۰۰ فوټه واټن څخه د لیدلو وړ وي.
- یو سور بیرغ باید د لمر راختلو او لمر لوېدلو ترمنځ د نقلیه وسیلي د بار په وروستي پای کي نصب شي. داسي سور بیرغ باید نصب شي، چې له ۱۲ مربع انچو څخه کم نه وي، او باید له دواړو خواو او د موټر له شا څخه د لیدلو وړ وي.

### د نقلیه وسیلي د خطر د خبرداري سترګک وهونکي څراغونه

هر بس، لارۍ، او ټراکټور-ټرېلر باید د اشارې یا سېګنالو ورکولو په سیستم مجهز وي. د تاوېدلو د حرکتونو پر اشارو سربېره، دغه نقلیه وسیلي باید یو سویچ یا د سویچونو یو ترکیب ولري چې د دې لامل کېږي څو د نقلیه وسیلي د ترافیکي خبرداري د اشارې په توګه د مخي دوې اشارې او د شا دوې اشارې په ورته وخت کي سترګک ووهی. اشاره باید دا وړتیا ولري کي نقلیه وسیله روښانه وی او که ګل، وکولای شي په ورته وخت کي سترګک ووهي.

### د ولاړو نقلیه وسیلو لپاره د خبرداري وسایل

که ستاسو نقلیه وسیله غیر فعالېږي، تر دې که کولای شئ چې د سړک څنډې ته یې هم بوځئ، باید د نورو موټر چلوونکو او د ځان د خوندیتوب لپاره نورو موټر چلوونکو ته د لیدلو وړ اوسئ. د غیر فعالي شوې نقلیه وسیلي د خطر څراغونه، که شته وي، باید روښانه وي.

هرکله چې په یوه وېشل شوې لویه لار کي د مخي څراغونو ته اړتیا وي، احتیاطي اقدامات لکه روښانه شوی فیوز، روښانه شوی سور برېښنایي څراغ، یا د لېږدولو وړ سور د بېړني حالت انعکاس ورکوونکی باید ستاسو له موټر څخه ۱۰۰ فوټه شا ته او ۱۰۰ فوټه مخکي، د هغه لین په مرکز کي کېښودل شي چې ستاسو نقلیه وسیلي نیولی دی. سربېره پر دې، له دې اشارو څخه یوه یې باید د نقلیه وسیلي د ترافیکو په اړخ کي او د تر ټولو نږدې رانږدې کېدونکو ترافیکو په لوري تقریباً له نقلیه وسیلي څخه لس (۱۰) فټه لرې کېږدئ.

د ورځي پر مهال، د غیر فعالو شویو موټرونو چلوونکي باید دوه سره څراغونه وښیي: یو یې تقریباً ۱۰۰ فټه لرې د موټر په مخ کي او بل یې تقریباً ۱۰۰ فټه لرې د موټر په شا کي. که ستاسو موټر د یوې ګولایي، د غونډۍ سر یا بلې مانع یا خنډ په ۵۰۰ فټه واټن کي ودرېږي، د خبرداري ورکولو یوه وسیله باید ستاسو له موټر څخه لږ تر لږه ۵۰۰ فټه لرې وښودل شي.

د لارۍ، بس، یا ټراکټور ټریلر چلوونکی چې پر وهل شوي سړک یا یې پر څنډه غیر فعال شوي وي، باید درې دوه طرفه د بېړني حالت منعکس کوونکي مثلثونه، چې د موتوري نقلیه وسیلو د خوندیتوب ۱۲۵م شمېره فدرالي معیار ( Federal Motor Vehicle Safety Standard No. 125) له اړتیاوو سره مطابقت ولري، یا لرترلږه شپږ فیوزونه یا درې د مایعاتو سوځولو لمبې وښیي.

د تر ټولو نږدې رانږدې کېدونکو ترافیکو په لوري د ترافیکو په خوا کي یوه روښانه شوې لمبه یا فیوز، روښانه شوی سور برېښنایي څراغ، یا د لېږدولو وړ سور د بېړني حالت انعکاس ورکوونکی کېږدئ.

له خپلي نقلیه وسیلي څخه تقریباً ۱۰۰ فټه لرې د رانږدې کېدونکو ترافیکو په لوري یوه وسیله کېږدئ. له خپلي نقلیه وسیلي څخه ۱۰۰ فټه لرې په مخالف لوري کي یوه وسیله کېږدئ. هر وسیله د ترافکیو د هغه لین په مرکز کي کېږد چې غیر فعالي شوې نقلیه وسیلي نیولی دی او یوه وسیله د نقلیه وسیلي د ترافیکو په اړخ کي کېږدئ.

که ستاسو نقلیه وسیله پر یوه وېشل شوې لویه لار غیر فعاله شوې وي، وسیله باید ستاسو له نقلیه وسیلي څخه ۲۰۰ فټه لرې کېښودل شي. که ستاسو نقلیه وسیله د یوې ګولایي، د غونډۍ د څوکي یا بلې داسي سیمي چې ښایي د موټر چلوونکي لید بند شوی وي، په ۵۰۰ فټه واټن کي غیرفعاله شي، له خپلي نقلیه وسیلي څخه لرترلږه ۵۰۰ فټه لرې وسیله کېږدئ.

په داسي وختونو کي چې کله د مخي څراغونو ته اړتیا نه وي، د لمبو، منعکس کوونکو یا برېښنایي څراغونو پر ځای د بېړني حالت د دوه جهته منعکس کوونکو مثلثونو یا سرو بیرغونو څخه کار واخلئ. تر دغو شرایطو لاندې، د غیر فعالي شوې نقلیه وسیلي د ترافیکو په اړه هېڅ لمبي ته اړتیا نشته.

# اتم څپرکی | پېښې او بېړني حالات

په انډیانا کې په ټولو ټکرونو کې، د لومړیتوب حق نه ورکول تر ټولو عام لامل دی. پېښې زیاتره د موټر چلوونکو د پام نه کولو، د موټر چلوونکي له خوا د سړک د قوانینو د نه رعایت، یا د دواړو له امله وي.

## له پېښې وروسته څه وکړو

### *په پېښه کې د ښکېلو موټر چلوونکو لپاره قانوني اړتیاوې*

موټر چلوونکي، مسافر او پلي کسان ښایي د سړک په اوږدو کې هر وخت او هر ځای په یوه پېښه کې ټپي شي. پر دې پوهېدل چې له پېښې وروسته باید څه وکړئ، کولای شي تجربه کمه ډارونکې کړي او د غیرو اړینو پېچلتیاوو یا ستونزو فرصت کم کړي.

### *ایا باید خپلې نقلیه وسیلې ته حرکت ورکړئ؟*

په پېښه کې ښکېل موټر چلوونکی باید سملاسي یا هر څومره چې د پېښې صحنې ته نږدې شوني وي ودرېږي پرته له دې چې له اړتیا څخه زیات د ترافیکو خنډ شي. که پېښه د لویې لارې په وهل (طی) شوې برخه کې پېښه شي، موټر چلوونکی باید نقلیه وسیله هر څومره چې د پېښې ځای ته نږدې شوني وي، له لویې لارې څخه لرې کړي. خو بیا هم، موټر چلوونکی باید موټوري نقلیه وسیلې ته حرکت ورنه کړي که چېرې په پېښه کې د خطرناکو موادو لېږد شامل وي یا د ټپي کېدلو، مړیني یا په دام کې ښکېلولو لامل کېږي.

موټر چلوونکی باید د پېښې په صحنه کې پاتې شي، د موټر چلولو د خپل جواز پر ښودلو سربېره، باید خپل نوم، پته او د خپلې موټوري نقلیه وسیلې د ثبت شمېره ټولو ښکېلو کسانو ته ورکړي.

### *معقوله مرسته وړاندې کړئ*

په هغه حالت کې چې پېښه د یو بل شخص د ټپي کېدلو یا مړینې لامل شي، موټر چلوونکی اړ دی چې د قانون د پلي کوونکي، طبي کارکوونکي یا د ۹۱۱ د اپرېټور له لارښوونې سره سم ټپي شویو یا په نقلیه وسیله کې بند پاتې شویو کسانو ته مناسبه مرسته وړاندې کړي. هر څومره ژر چې شوني وي، موټر چلوونکی باید یقیني کړي چې د قانوني پلي کوونکي (ځایي پولیس، سر مامور) په سیمه یا ولسوالۍ کې د حکومت استازی (یا ایالتي پولیس) له پېښې څخه خبر شوي دي.

که ټکر له پرېښودل شوې (بې څښتنه یا بې مراقبته) نقلیه وسیلې یا بلې شتمنۍ سره وي، موټر چلوونکی باید ودرېږي او د پېښې په صحنه کې پاتې شي، د زیانمنې شوې شتمنۍ د څښتن د خبرولو لپاره مناسب اقدامات وکړي، او که څښتن نه شي موندل کېدای، د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره د قانون د پلي کولو ځایي ادارې ته زنګ ووهئ.

### *د مالي مسؤولیت ثبوت (د مطابقت تصدیق) وړاندې کړئ*

له پېښې وروسته، د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په غوښتنه به اړ اوسئ چې د مالي مسؤولیت ثبوت د نقلیه موټوري وسایلو ادارې (BMV) ته وړاندې کړئ. ستاسو د بیمې چمتو کوونکی باید د مالي مسؤولیت ثبوت په برېښنایي توګه د مطابقت د تصدیق (COC) په بڼه ثبت کړي. د مطابقت تصدیق (COC) به وښيي چې ستاسو د موټوري نقلیه وسیلې د اجرا وړ د بیمې پالیسي لرئ چې د هغې پېښې پر مهال د ایالت اصغري مسؤولیت خوندیتوب پوره کوي. که د موټوري نقلیه وسیلو له ادارې (BMV) څخه د مالي مسؤولیت د تایید لپاره غوښتنه ترلاسه کوئ، د خپلې بیمې له غوښتونکي څخه ستاسو په استازیتوب موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) ته په برېښنایي توګه د مطابقت د تصدیق (COC) د استولو په غوښتنه کې ځنډ مه کوئ. د مالي مسؤولیت په اړه د نورو ملعوماتو لپاره، ۵م څپرکی وګورئ.

## له ټکرونو څخه ډډه کول

پر خوندي موټر چلولو سربېره، بېړني حالتونه رامنځته کېږي. که داسې ښکاري چې یو موټر له کوم څه سره لګېږي، حالت ته په کتلو سره، درې شیان دي چې تاسو یې کولای شئ:

**ژر ودرېږئ.**

**ژر تاو شئ.** که احساس کوئ چې نه شئ کولای پر وخت ودرېږئ، خپله نقلیه وسیله له احتمالي ټکر څخه لرې وګرځوئ کړئ.

**سرعت زیات کړئ.** کله کله د سرعت زیاتول ښایي له ټکر څخه د مخنیوي لپاره تر ټولو غوره او یوازینی لار وي.

که ټکر شونی ښکاري، له راتلونکو یا مخامخ ترافیکو څخه لرې شئ، تر دې که دا کار د سړک د پرېښودلو په معنا هم وي. د ښویېدلو پر ځای موټر له سړک څخه بیرون ته وچلوئ، ترڅو لا زیات کنټرول ته اجازه ورکړئ. د کوم کلک څيز د وهلو پر ځای، وښو یا بوټو په څېر د کوم شي، چې لاره درکړي، وهل غوره کړئ. د نه خوځېدونکي شي پر ځای داسې کوم شی ووهئ چې له تاسو سره په ورته لوري حرکت کوي. خو بیا هم، د یو نه خوځېدونکي شي وهل، د مخامخ یو شي له وهلو څخه خوندي دي. په څنګ وهل ښايي په ورو کېدلو کې مرسته درسره وکړي.

### *د سړک له فرش څخه بهر وتل*

که ستاسو د نقلیه وسیلې ټایرونه د سړک څنډې ته ووځي، کوښښ مه کوئ چې سملاسي بېرته د سړک فرش ته وګرځئ. دا کار ښایي ستاسو نقلیه وسیله له توازن څخه وباسي. پر ځای یې، د سړک د څنډې پر اوږدو کې موټر چلولو ته ادامه ورکړئ او د موټر ګاز (اکسلرېټر) کم کړئ. له ورو کېدلو وروسته، په تدریجي توګه بېرته سړک ته وګرځئ.

***اوبو ته لوېدل***

که یوه نقلیه وسیله اوبو ته ولوېږي، له ډوبېدلو مخکې به د څو دقیقو لپاره به د اوبو پر سر ولاړه وي، چې چلوونکي او سپرلی ته اجازه ورکوي چې له یوې پرانیستې کړکۍ څخه ووځي، کله چې لا هم د اوبو پر سطحه وي.

که ستاسو نقلیه وسیله اوبو ته ولوېږي، د دروازې پرانیستلو هڅه مه کوئ. د اوبو وزن به د دروازې پرانیستل تقریباً ناشوني کړي او اوبه به له پرانیستې دروازې څخه د موټر کابین ته ولاړې شي.

دغه لارښوونې تعقیب کړئ که چېرې ستاسو نقلیه وسیله اوبو ته ولوېږي:

- خپل د خوندیتوب کمربند لرې کړئ.
- یوه کړکۍ پرانیزئ. اتومات کړکۍ به خپله پرانیستل شي، مګر دا چې ضربه ډېره شدیده وي او برېښنایي سیستم یې زیانمن کړي وي.
- ماشومان د شا څوکۍ له کمربند او د ماشوم له څوکۍ څخه لرې کړئ او له لویو ماشومانو څخه وغواړئ چې له کوچنیو ماشومانو سره مرسته وکړي. سپرلی یا مسافر د امکان تر کچې په ارامۍ سره د مخې څوکۍ ته ولېږدوئ.
- له موټر څخه ووځئ او د موټر چت یا بام ته ولاړ شئ. دا کار به د امکان تر حده تاسو وچ وساتي او ان کولای شئ د لنډ وخت لپاره نقلیه وسیله په خوځنده اوبو کې د کښتۍ په څېر وچلوئ. کله چې د موټر پر چت یا بام اوسئ، ۹۱۱ ته زنګ ووهئ او نږدې وچه ځمکه ومومئ.
- یوازې د وروستۍ چارې یا هڅې په توګه ساحل ته لامبو ووهئ. که تر هغې چې ستاسو نقلیه وسیله د ابو تر کرښې لاندې ډوبېږي، د بېړني حالت کارکوونکي یا بله مرسته نه وي رارسېدلې، ښایي لامبو ته اړ شئ.
- د خپلو توکو تر لاسه کولو لپاره هڅکله نقلیه وسیلې ته بېرته مه دننه کېږئ.

## ناسم (د نشې په حالت کې) موټر چلول

که موټر چلوونکی د نشه یي توکو یا الکولو تر اغېز لاندې وي، د پېښې احتمال زیاتېږي. الکول ستاسو د ذهن روښانه فکر کولو پر وړتیا او ستاسو پر فزیکي همغږۍ منفي اغېز کوي، او ستاسو د غبرګون وخت زیاتوي. د یو شخص د وینې د الکولو د غلظت (BAC) په ټاکلو کې اساسي عوامل د مصرف شویو الکولو اندازه، الکول څومره ژر مصرف شوي، او د شخص د بدن وزن دي.

ډېری تجویز شوي درمل، له نسخې پرته درمل، او نور د ساعت تېرۍ درمل هم ستاسو پر استدلال او همغږۍ اغېز کوي. د دغو درملو کارول کولای شي په خوندي توګه د یوې نقلیه وسیلې د چلولو لپاره ستاسو پر وړتیا منفي اغېز وکړي. تل پر هر ډول درمل لګول شوی لېبل وګورئ او له موټر چلولو څخه مخکې د درملو د جانبي اغېزو په اړه یې له ډاکټر یا درمل جوړونکي سره خبرې وکړئ.

د نشې پر مهال د یوې نقلیه وسیلې د چلولو اړوند د موټوري نقلیه وسیلې د قانون په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د ۵م څپرکي د ځنډول کېدو په اړه برخه وګورئ.

***د نشې په حالت کې موټر چلوونکي د معلومولو طریقې***

یو موټر چې په نشه یي توکو یا الکولو د نشه شوي موټر چلوونکي له خوا چلول کېږي، یوه وژونکې وسله کېدای شي. یو موټر چلوونکی ښایي نشه وي، که چېرې نقلیه وسیله:

- پراخې تاوېدنې کوي
- پر مرکزي کرښه ځي یا مخ مخ ته او شا شا ته کېږي
- د سرعت له حد څخه اوړي یا په غیر معمول ډول ورو ځي
- بلې نقلیه وسیلې یا شي ته دومره نږدې کېږي چې ورسره ولګېږي
- له لارې څخه کږېږي، وځي یا ډېر نږدې تعقیب کوي
- له دلیل پرته درېږي یا په ناڅاپي یا غیر قانوني توګه تاوېږي
- په نابرابر یا متناقص ډول اشارې (سېګنال) ورکوي یا په شپه کې د مخې له څراغونو پرته موټر چلوي.

## د سړک د غاړې بېړنی حالات

د سړک د غاړې بېړنی حالت یو جدي حالت دی چې تاسو او نور موټر چلوونکي حیرانوي. د خوندیتوب لاندې لارښوونې، که څه هم د انډیانا د قانون له مخې اړینې نه دي، به له تاسو سره مرسته وکړي چې بېرته سړک ته وګرځئ او نورو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکړئ چې د سړک د غاړې یو بېړنی حالت مدیریت کوئ.

- که شوني وي، تل خپله نقلیه وسیله د سړک څنډې ته وباسئ.
- خپل د خطر سترګک وهونکي څراغونه روښانه کړئ.

- یو لاسي څراغ له تازه بېټریو سره د نقلیه وسیلي د چلوونکي په لاسرسي کې وساتئ.
- په خپله نقلیه وسیله کې د انعکاس کوونکي خوندیتوب واسکټ او انعکاس کوونکی سور د بېړني حالت مثلث ولرئ تر څو تاسو نورو موټر چلوونکو ته چې در څخه تېرېږي لا ښه د لیدلو وړ اوسئ.
- که په غونډۍ یا ګولایی کې استئ، خپل انعکاس کوونکی د بېړني حالت مثلث باید له خپلې نقلیه وسیلي څخه ۲۰۰ فټه شا ته، یا له خپلې نقلیه وسیلي څخه ۵۰۰ فټه مخ کې کېږدئ.
- د ژمي په میاشتو کې، کمپلې، اضافي دستکش، او ګرمې خولی په خپله نقلیه وسیله کې ځای پر ځای کړئ، که تاسو باید بېړني حالت ځواب ورکوونکو یا د نقلیه وسیلي کشوونکي نقلیه وسیلي ته انتظار وکړئ.
- کله چې نقلیه وسیله د سړک پر غاړه وي، باید له نقلیه وسیلي څخه ووځئ، د مسافر یا سپرلی په خوا کې او په نږدې شاوخوا کې د نورو موټوري نقلیه وسیلو، موانعو یا خطرناکو ښکته او پورته ځایونو له کتلو وروسته بهر شئ.

## د نقلیه وسیلی د تجهیزاتو خرابېدل

**د ټایر چاودېدل**

د ټایر د پنچرېدلو یا چاودېدلو په حالت کې، باید د جلب څرخ کلک ونیسئ او موټر مستقیم روان وساتئ. په تدریج سره ورو شئ. خپله پښه د ګاز (اکسلریټر) له پاډل څخه لرې کړئ، خو برېکونه مه نیسئ. پرېږدئ چې موټر ورو شي، له سړک څخه ووځئ او بیا کله چې موټر تقریباً درېدلی وي برېکونه ونیسئ.

### *د برېک خرابېدل*

که ستاسو د نقلیه وسیلي عادي ډېسکي یا کاسه يي (ډرم) برېکونه په ناڅاپي توګه کار پرېږدي، که شوني وي، ګېر یو ښکته ګېر ته بدل کړئ، د برېک پاډل څو ځلې چټک او کلک پمپ کړئ. دا کار ښایي ستاسو د نقلیه وسیلي د درولو لپاره د برېک کافي فشار رامنځته کړي. تاسو ښایي د تمځای د برېک یا لاسي برېک د کارولو هڅه وکړئ، خو د برېک پرېښودل وساتئ څو د شا د څرخونو د قفل کېدلو په حالت کې له ښوییدلو څخه مخنیوی وکړئ. په داسې حال کې چې نقلیه وسیله مو په ټیټ ګېر کې وي، پر سړک د درېدلو لپاره په یو ځای پسې وګورئ. وروسته له دې چې ستاسو نقلیه وسیله ودرېږي، مرسته وغواړئ خو هڅه مه کوئ چې نقلیه وسیله چېرته وچلوئ.

### *د لګېدلو یا چالانېدلو قفل*

په لویه لاره کې په بېړني حالت کې موټر چلوونکي باید هڅه و نه کړي چې موټر ګل کړي په داسې حال کې چې لاهم حرکت کوي. د جلب د څرخ د انټرلاک سیستم (interlock system) لرونکي نقلیه وسیلي د چلولو پر مهال، کله چې نقلیه وسیله په حرکت کې وي هېڅکله لګېدل (ignition) د قفل حالت ته مه اړوئ. د جلب د څرخ په تاوولو سره به جلب قفل شي، چې د نقلیه وسیلي د کنټرول له لاسه ورکولو لامل کېږي.

## د نقلیه وسیلی له غلا څخه مخنیوی کول

له لاندې احتیاطي ګامونو سره، د نقلیه وسیلي د غلا احتمال ښایي کم شي:

- کیلي لرې کړئ
- ټل د نقلیه وسیلي دروازې قفل کړئ
- د نقلیه وسیلي د کیلي ګانو دویمه ټولګه په نقلیه وسیله کې یا یې په شاوخوا کې مه پټوئ
- نقلیه وسیله په بشپړه توګه ښي خوا ته د مخې د ټایرونو په تاوولو سره پارک کړئ او د بېړني حالت برېک ونیسئ
- هېڅکله نقلیه وسیله له روښانه انجن سره بې له پاملرنې مه پرېږدئ
- د غلا ضد وسیلي نصبول په پام کې ونیسئ
- هر کله چې شوني وي، په ښه روښانه، ښه ساتل کېدونکو سیمو کې یې پارک کړئ

## د قانون د پلي کوونکو له خوا د ترافیکو درول

د ترافیکو درول نامعلوم خطرونه رامنځته کوي او کېدای شي د پولیسو د افسر او موټر چلوونکي دواړو لپاره د رواني فشار لامل شي. د ترافیکو د درولو موخه دا ده چې یقیني کړی شي چې د نقلیه وسیلي چلوونکی خوندي او له قانون سره په مطابقت کې دی. د نقلیه وسیلي د چلوونکي، مسافرو، او د قانون د پلي کولو د افسرانو د خوندیتوب لپاره، د قانون د پلي کوونکو له خوا درول شوي موټر چلوونکي باید لاندې وړاندیزونه رعایت کړي:

- **د خپلې ښي اشارې په روښانولو سره د افسر حضور ومنئ.** ستاسو د اشارې فعالول افسر ته اجازه ورکوي څو پوه شي چې تاسو د هغوی حضور منئ. د دوی د روزنې پر اساس، که تاسو په دې کې پاتې راشئ چې د خپلې اشارې په لګولو سره د هغوی حضور ومنئ، یو افسر ښایي داسې درک کړي چې تاسو د تسلیمېدلو څخه د مخنیوي لپاره کوم دلیل لرئ یا ښایي نشه اوسئ.

- **خپله نقلیه وسیله د سړک ښي خوا ته کړئ.** افسر به خپل د ګزمې د نقلیه وسیلې په کارولو سره لارښوونه درته وکړي. مرکزي منځ برخې (median) ته مه ځئ. د یوې لویې لارې په مرکزي منځ برخه (median) یا د دوه لینه سړک په مخالف اړخ کې مه دریږئ. دا کار کولای شي موټر چلوونکی او افسر دواړه د راتلونکو (مخالفو) ترافیکو له خوا د وهل کېدلو له خطر سره مخ کړي. که د سړک څنډه نه وي یا د موټر څنډې ته کولو لپاره ډېره نرۍ وي، باید راتلونکی خوندي ځای پیدا او موټر څنډې ته کړئ.
- **که امکان ولري، سملاسي نقلیه وسیله په خوندي توګه څنډې ته کړئ. که امکان ولري، په ښه توګه روښانه شوې سیمه کې ودرېږئ.** د امکان تر کچې خپله نقلیه وسیله له سړک څخه لرې کړئ. کله چې تیاره وي، داسې ځایونه ولټوئ چې ډېره رڼا ولري، لکه د کوڅې یا لویې لارې له څراغونو سره سیمې، نږدې رستورانتونه، یا د خدمتونو لپاره تمځایونه. که په شپه کې درول کېږئ، سپارښتنه کېږي چې د نقلیه وسیلې دننه څراغ روښانه کړئ.
- **که سملاسي کوم خوندي ځای نه شئ موندلای، ورو شئ او د خطر څراغونه روښانه کړئ.** دا کار افسر ته ښیي چې تاسو د هغه شتون منئ او په فعال ډول هڅه کوئ چې د درېدلو لپاره یو خوندي ځای پیدا کړئ.
- **د ګرځنده تلیفون خبرې پای ته ورسوئ او خپله راډیو ګل کړئ.** افسر له تاسو سره د اړیکې نیولو لپاره ستاسو بشپړې پاملرنې ته اړتیا لري چې د اړتیا وړ په اصغري وخت کې اجرایي درېدل بشپړ کړي.
- **په خپله نقلیه وسیله کې دننه پاتې شئ مګر دا چې افسر بل ډول لارښوونه وکړي.** هېڅکله له خپلې نقلیه وسیلې څخه مه بهر کېږئ، مګر دا چې افسر د دې کار لارښوونه درته وکړي. د اجرایي درېدلو پر مهال، د افسر لومړیتوبونه ستاسو خوندیتوب، ستاسو د مسافرو یا سپرلۍ خوندیتوب، او د افسر خپل شخصي خوندیتوب دی. په ډېری حالتونو کې، ستاسو او ستاسو د سپرلۍ لپاره تر ټولو خوندي ځای ستاسو د نقلیه وسیلې دننه دی. له نقلیه وسیلې څخه بهر کېدل پرته له دې چې مخکې د افسر له خوا لارښوونه درته شوې وی، کېدای شي د تېرېدونکي نقلیه وسیلې له خوا د وهل کېدلو خطر زیات کړي او یا د دې لامل شي چې افسر د ګواښ احساس وکړي.
- **موټر چلوونکی او ټول مسافر باید خپل لاسونه په روښانه لید کې کېږدي.** موټر چلوونکی باید خپل لاسونه د جلب پر څرخ وساتي او د مسافرینو لاسونه باید د دوی پر زنګونونو ښکاره شي. د اجرایي درېدلو پر مهال، د موټر چلوونکي او ټولې سپرلۍ د لاسونو د لیدلو لپاره د افسر نه وړتیا د دې لامل کېدای شي چې افسر د ګواښ احساس وکړي. که ستاسو کړکۍ رنګ شوې وي، وروسته له دې چې تاسو د سړک په ښي څنډه خپله نقلیه وسیله ودروئ او مخکې له دې چې افسر له تاسو سره اړیکه ونیسي، ټولې ښیښې ښکته کړئ.
- **د اسنادو د لیدلو لپاره د افسر غوښتنه ومنئ.** د نقلیه وسیلو چلوونکي اړ دي چې د نقلیه وسیلې د چلولو لپاره د موټر چلولو اعتباري جواز، ثبت او بیمه ولري. که دا توکي د موټر په ډشبورډ کې یا تر څوکۍ لاندې وي یا که د بیمې ثبوت د ښودلو لپاره په ګرځنده تلیفون کې زېرمه شوی وي، لومړی باید د دې موضوع په اړه پولیس افسر ته خبر ورکړئ او بیا د معلوماتو د راویستلو څخه مخکې افسر لارښوونې تعقیب کړئ.
- **که د ترافیکو درول د ټکټ یا د نیول کېدلو لامل کېږي، تاسو:**

" باید د پولیسو له افسر سره د درولو د دلیل په اړه بحث او خبرې ونه کړئ.

" د صدور په حالت کې باید د ټکټ له لاسلیک کولو څخه انکار ونه کړي. د ترافیکو ټکټ د موټر چلوونکي لاسلیک ته اړتیا لري. د ټکټ لاسلیک کول د موټر چلوونکي د جرم منل نه دي، بلکې یواځې د ټکټ ترلاسه کولو تایید دی.

" باید په صحنه کې د قانون له پلي کوونکو سره له همکارۍ څخه ډډه ونه کړئ. که یو موټر چلوونکی مشکوک وي چې د نشې په حالت کې موټر چلوي، د تنفس، میتیازو، وینې، یا د کارکړنې له ازموینو څخه ډډه کول کېدای شي د موټر چلولو د امتیازونو د لاسه ورکولو پایلې ولري.

" د صادرولو په وخت کې باید د ټکټ په اړه بحث ونه کړئ. که یو موټر چلوونکی باور لري چې سرغړونه نه ده ترسره شوې یا ټکټ په غیر عادلانه توګه صادر شوی، هغه به فرصت ولري چې قضیه د ترافیکو په محکمه کې وړاندې کړي.

" د پولیسو له خوا د نیول کېدلو په حالت کې باید مقاومت ونه کړئ.

" له یو موټر چلوونکي سره باید د قانون د پلي کونکو افسرانو له خوا په عزت او درناوي سره چلند وشي. که باور لرئ چې د پولیسو افسر د ترافیکو د درولو پر مهال یا بلې مخامخېدنې پر مهال نامناسب چلند وکړي، له مخامخېدنې وروسته هر څومره ژر چې شوني وي باید د افسر مافوق ته د چلند په اړه راپور ورکړئ. افسران اړ دي چې د غوښتنې پر مهال خپل نومونه او د نښان شمېرې وړاندې کړي. لیکل شوي پیغامونه د ادارې د داخلي چارو له څانګې یا د ملکي شکایتونو له بورډ سره ثبت کېدای شي. د ترسره شویو اقداماتو په پام کې نیولو څخه پرته، پولیس افسران په قانوني توګه اړ دي چې ټولې ترافیکي ودرونې مستند کړي، چې د اطلاعاتو د راټولولو د موخو لپاره د موټر چلوونکي د نوم او پتې ترلاسه کول پکې شامل دي.

## د کاربن مونوکسایډ مسمومیت

د موټر له انجن څخه کاربن مونوکسایډ تاسو یا ستاسو سپرلی ته زیان رسولی شي یا یې وژلی شي. کله چې د هوا ایستلو سیستم په سمه توګه کار نه کوي ډېر احتمال لري چې کاربن مونوکسایډ د نقلیه وسیلې د بخارۍ د کارولو پر مهال نقلیه وسیلې ته راشي، یا په زیاتو ترافیکو کې چې له نورو نقلیه وسیلو څخه بهر شوي لوګي تنفس شي. د هوا ایستلو یو نیمګړی سیستم کېدای شي د نقلیه وسیلې شاتنۍ سیټ ته زهرجن لوګي دننه کړي.

تاسو نه شئ کولای کاربن مونوکسایډ ووینئ، بوی یې کړئ، یا یې وڅکئ. د کاربن مونوکسایډ د مسمومیت په نښو کې نیم خوبي (خوبوړنه) یا سربدالي (ګنګسیت)، ستاسو په پوټکي یا شونډو شین رنګ، سردرد، او د رڼا پر وړاندې زیات حساسیت شاملیدلی شي.

### *څنګه د کاربن مونوکسایډ له مسمومیت څخه مخنیوی وکړو*

- د خپلې نقلیه وسیلې د هوا ایستلو سیستم په منظم ډول وګورئ
- د موټر له لاندې خوا څخه هر ډول غیر معمول غورېدنې غږ ته پام وکړئ
- هېڅکله اجازه مه ورکوئ چې د نقلیه وسیلې انجن په بند ګراج کې وچلېږي.
- په ترافیکي ګڼه ګوڼه کې د تازه هوا دریځه یا منفذ وتړئ
- په سړه هوا کې پر لویو لارو باندې، د تازه هوا دریځه یا منفذ پرانیزئ

# نـهم څپرکی | د پوهې د ازموینې د پوښتنو نمونه

## د زده کوونکی د اجازی او د موټر چلولو د جواز ازموینی د پوښتنو نمونه

د پوهې ازموینه له ۱۶ نښو او ۳۴ پوښتنو څخه جوړه ده، او د بریالي کېدلو لپاره کولای شئ یواځې دوې نښې یا شپږ پوښتنې پرېږدئ. که د خپلې پوهې په ازموینه کې ناکام شئ، باید تر بلې ورځې پورې صبر وکړئ تر څو بیا د پوهې د ازموینې هڅه وکړئ.

1. له بلې نقلیه وسیلې څخه په خوندي او قانوني توګه د تېرېدلو لپاره یو موټر چلوونکی اړ دی چې:
   a. ډاډ ترلاسه کړي چې د تېرېدلو لین له ترافیکو څخه پاک یا خالي دی او شا او کیڼ لوري ته وګورئ تر څو ډاډه شي چې بله نقلیه وسیله د تېرېدلو هڅه نه کوي
   b. بریک ونیسي او ورو شي
   c. هغه وخت تېر شي چې د لین نښه یا خط ثابته کرښه وي
   d. ټول ځوابونه سم دي
2. لکه څرنګه چې غبار کولای شي د نورو نقلیه وسیلو، پلیو، او ترافیکي اشارو د لیدلو لپاره ستاسو لید را کم کړي، تاسو باید:
   a. په احتیاط سره موټر وچلوئ او سرعت کم کړئ
   b. خپل د مخې پورتنې څراغونه و نه کاروئ
   c. د سړک او څیزونو د ښه روښانولو لپاره د مخې ټیټ څراغونه وکاروئ
   d. ټول ځوابونه سم دي
3. یو ښه دفاعي موټر چلوونکی باید:
   a. هر وخت ورو موټر وچلوي
   b. د نورو موټر چلوونکو کړنو ته پام وکړي
   c. په ثابت سرعت سره سفر وکړي
   d. یواځې په اشنا سیمو کې موټر وچلوي
4. په سره څراغ کې ښي لوري ته د تاوېدلو لپاره، تاسو:
   a. ورو کېږئ او د کونج په شاوخوا کې تاوېږئ که هیڅ ترافیک نه وي راروان
   b. د لومړیتوب حق نه ور کوئ
   c. په بشپړه توګه درېږئ او د هېڅ نقلیه وسیلې یا پلیو کسانو، چې تاوېدلو په لوري په حرکت کې دي، د لومړیتوب په حق کې مداخله نه کوئ
   d. د "سرې اشارې پر مهال د نه تاوېدلو " ( "No Turn on Red ") نښه له پامه غورځوئ
5. پر لمدو سړکونو د موټر چلولو پر مهال، باید په یاد ولرئ چې:
   a. د سړک فرش له باران څخه سملاسي وروسته ښوی دی
   b. پر لمدو سړکونو موټر چلول پر اوبو د نقلیه وسیلې د ښوییدلو (hydroplaning) لامل کېدای شي
   c. د درېدلو لپاره ځان ته اضافي وخت ورکړئ
   d. ټول ځوابونه سم دي
6. د یوې سترګک وهونکې سرې اشارې معنا دا ده چې:
   a. د ورو کېدلو لپاره یو دلیل
   b. د درېدلو له نښې سره برابره (یو شان ده)، او معنا یې دا ده چې موټر چلوونکی باید په بشپړه توګه ودرېږي
   c. احتیاط وکړئ، ښایي خطر وي
   d. دواړو لوریو ته د کتلو او بیا ادامې ورکولو لپاره یوه اشاره
7. تاسو باید د تاوېدلو لپاره خپله اراده څرګنده کړئ (اشاره ورکړئ)، لږترلږه:
   a. له تاوېدلو څخه ۲۰۰ فټه مخکې
   b. له تاوېدلو څخه ۱۵۰ فټه مخکې
   c. له تاوېدلو څخه ۱۰۰ فټه مخکې
   d. له تاوېدلو څخه ۵۰ فټه مخکې

## د کرایي لپاره د تایید د ازموینی د پوښتنو نمونه

دا ازموینه ۲۵ پوښتنې لري، چې د بریالي کېدلو لپاره یې کولای شئ یواځې پنځه پوښتنې پرېږدئ.

**1.** که د کرایي لپاه تایید سره د کرایي لپاره یوه شتمني لېږدوئ، د نقلیه وسیلې د ناخالص وزن محدودیت څومره دی؟

a. د نقلیه وسیلې نا خالص وزی باید له شپږویشت زره (۲۶،۰۰۰) پاونډو څخه زیات نه شي
b. د نقلیه وسیلې ناخالص وزن باید له شپاړس زره (۱۶،۰۰۰) پاونډو څخه زیات نه شي
c. د نقلیه وسیلې ناخالص وزن باید له شپږویشت زره (۲۶،۰۰۰) پاونډو څخه زیات شي
d. د نقلیه وسیلې ناخالص وزن باید له اته ویشت زره (۲۸،۰۰۰) پاونډو څخه زیات شي

**2.** هغه نقلیه وسیلې چې د کرایي لپاره مسافر لېږدوي، اړ دي چې د ریل پټلی د تېرېدلو په ځایونو کې ودرېږي. دغه نقلیه وسیلې باید د رېل پټلی د لارو په څو فوټه واټن کې ودرېږي؟

a. له ۴ څخه تر ۴۵ فوټو پورې
b. له ۱۰ څخه تر ۴۰ فوټو پورې
c. له ۱۵ څخه تر ۵۰ فوټو پورې
d. له ۲۰ څخه تر ۶۰ فوټو پورې

**3.** د هرې هغې نقلیه وسیلې اعظمي لوړوالی چې له ځانګړې اجازې پرته چلول کېدای شي څومره دی؟ a. ۱۳ فوټه، ۶ انچه

b. ۱۲ فوټه، ۷ انچه
c. ۱۱ فټه، ۸ انچه
d. ۱۰ فټه، ۹ انچه

**4.** له لاندې مواردو څخه کوم یې د یوې لارۍ، بس، یا ټراکټور ټرېلر لپاره، چې پر یو وهل شوي سړک یا یې پر څنډه غیر فعال شوي وي، د خبرداری د منلو وړ وسیلې دي؟

a. درې (۳) فدرالي مطابقت لرونکي د دوه طرفه بېړني حالت انعکاس کوونکي مثلثونه
b. درې (۳) د مایع سوځولو لمبې
c. ټول ځوابونه سم دي
d. لږترلږه شپږ (۶) فیوزونه

## په موټور چلېدونکی سیکل د تایید د ازموینی د پوښتنو نمونه

دا ازموینه ۲۵ پوښتني لري، چې د بریالي کېدلو لپاره یې کولای شئ یواځې پنځه پوښتني پرېږدئ.

**1.** کله چې د رېل پټلی د تېرېدلو نښې ته نږدې کېږئ، تاسو باید:
   a. د درېدلو لپاره چمتو شئ
   b. د تېرېدلو د دروازو په شاوخوا کې حرکت ته ادامه ورکړئ
   c. په چټکی د رېل پټلی له لارو څخه تېر شئ
   d. د رېل پر لارو ودرېږئ او دواړو خووا ته وګورئ

**2.** د درېدلو نښې ته په نږدې کېدلو سره تاسو باید:
   a. له ثابتې سپینې کرښې یا د پلیو د تېرېدلو له ځای څخه مخکې په بشپړه توګه ودرېږئ
   b. د درېدلو له نښې څخه وتښتئ
   c. یواځې هغه وخت ودرېږئ چې ترافیک رانږدې کېږي
   d. په کین اړخ کې نقلیه وسیلې ته د لومړیتوب حق ورکړئ

**3.** هغه موټر چلوونکي چې یوې څلورلارې یا تقاطع ته نږدې کېږي چې ترافیکي اشارې یې سم کار نه کوي، باید:
   a. لومړی ودرېږي، باید په احتیاط سره له څلورلارې یا تقاطع څخه تېر شي
   b. له درېدلو پرته له څلورلارې یا تقاطع څخه تېرېدلو ته ادامه ورکړي
   c. د ځراغ تر زرغون کېدلو پورې صبر وکړي
   d. ټول ځوابونه سم دي

**4.** کله چې د قانون پلي کوونکي افسر امر له ترافیکي نښې یا اشارې سره توبیر ولري، تاسو باید:
   a. د افسر امر له پامه وغورځوئ
   b. د قانون پلي کوونکي افسر له امر څخه پیروي وکړئ
   c. د ترافیکي نښې یا اشارې پیروي وکړئ
   d. ورو شئ او په احتیاط سره پرمخ ولاړ شئ

# الف ضمیمه | د اسنادو اړتیاوې

په لاندې لېست کې هغه اسناد دي چې د نوي، بېرته نویشوي، اصلاح شوي یا بدل شوي د موټر چلولو جواز، د زده کوونکي اجازې، یا د هویت د کارت ترلاسه کولو لپاره اړین دي. که نوي د موټر چلولو جواز، د زده کوونکي اجازې، یا د هویت کارت ته غوښتنه کوئ، باید د لاندې اسنادو اصلي نسخې یا د تایید وړ تصدیق شوي نقلونه وړاندې کړئ:

- **یو** سند چې ستاسو هویت ثابتوي
- **یو** سند چې په متحده ایالتونو کې ستاسو قانوني حالت ثابتوي
- **یو** سند چې ستاسو د ټولنیز امنیت بشپړه شمېره ثابتوي
- **دوه** سندونه چې په انډیانا کې ستاسو استوګنه ثابتوي

که تاسو خپل د انډیانا اوسنی د موټر چلولو جواز، د زده کوونکي اجازه، یا د پېژندني کارت نوی کوی، تعدیل کوئ یا بدلوئ، که غواړئ له ریښتیني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکی باورلیک ترلاسه کړئ، باید د موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) یوې څانګې ته د ځانګړو اسنادو اصلي نسخې یا تصدیق شوي نقلونه راوړئ.

د پېژندني د منلو وړ اسنادو په اړه تر ټولو وروستیو معلوماتو لپاره، REALID.IN.gov وګورئ. که د خپلو اسنادو په اړه پوښتني لرئ، کولای شئ موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) ته په 888-6926841 زنګ ووهئ تر څو د پېردونکو د خدمتونو له یو استازي سره خبرې وکړئ یا د موټوري نقیله وسایلو د ادارې (BMV) یوې څانګې ته ورشئ.

## د پېژندنې اسناد

هغه اسناد چې کولای شئ د خپلې پېژندنې د ثابتولو لپاره یې وکاروئ، عبارت دي له:

- متحده ایالتونو زوکړې تصدیق. د زوکړې تصدیق باید اصلي یا تصدیق شوی نقل وي چې د یوې حکومتي ادارې له لورې صادر شوی وي. د روغتونونو له لوري غیر رسمي د زوکړې تصدیقونه نه منل کېږي.
- د متحده ایالتونو پاسپورټ یا د متحده ایالتونو پاسپورټ کارت. د پاسپورټ تاریخ تېرى نشي کیدی.
- د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له لوري په بهر کې د زوکړې کونسلي راپور.
- د زوکړې تعدیل شوی تصدیق چې په قانوني نوم، د زوکړې په نېټه یا جنډر کې بدلون ښیي، د زوکړې تعدیل شوی تصدیق باید تصدیق شوی وي او ستاسو په ایالت کې د حیاتي احصایې له یوه ایالتي دفتر سره ثبت شوی وي.
- بهرنی پاسپورټ. یو غیر تاریخ تېرى پاسپورټ د متحده ایالتونو له ویزې او I-94 فورم سره، چې متحده ایالتونو ته د غوښتونکي تر ټولو وروستي داخلېدل یا د غوښتونکي اوسنی حالت ثبتوي
- د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوي تابعیت تصدیق، او تایید شوی قانوني حالت.
- د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوی د تابعیت تصدیق او تایید شوی قانوني حالت.
- د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت (DHS) یا د متحده ایالتونو د کډوالۍ او تابعیت د خدمتونو (INS) له خوا صادر شوي د دایمي استوګنې کارت او قانوني حالت. د دایمي استوګني کارت تاریخ تېرى نشي کیدای.
- د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوی د دندې د اجازې کارت او تایید شوی قانوني حالت. د دندې د اجازې سند تاریخ تېرى نشي کیدای.
- د انډیانا له ریښتیني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکی باورلیک چې وخت یې پای ته نه وي رسېدلی
- نور اسناد چې د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت (DHS) یا د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) د کمېشنر له خوا ټاکل کېږي.

که تاسو له متحده ایالتونو څخه بهر زیږېدلي یاست، د هویت د ټاکلو لپاره د زوکړې له ځنډېدلي تصدیق څخه کار اخیستل کېدای شي، خو قانوني حالت لپاره نه.

د متحده ایالتونو غیر اتباع (غیر امریکایي ښاروندان) چې په دې لېست کې د یو سند له سپارلو وروسته یې د ریښتیني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکي اسناد ترلاسه کړي، ښایي په وروسته معاملاتو کې د هویت ثابتولو لپاره دا باورلیک وکاروي.

### *په نوم، د زوکړې په نېټه یا جنسیت کې بدلون ثابتول*

که ستاسو اوسنی قانوني نوم، د زوکړې نېټه، یا جنسیت له هغه څه څخه توپیر ولري چې ستاسو د زوکړې په تصدیق یا د هویت په نورو اسنادو کې ښودل کېږي، باید د هر ډول بدلون قانوني ثبوت وښیئ. د بدلون تاییدوونکي د منلو وړ اسناد عبارت دي له:

- د واده جواز
- د طلاق فرمان

- ¶ د محکمي حکم چې د قانوني نوم یا د زوکړې د نېټې بدلون تاییدوي
- تصدیق شوی، تعدیل شوي د زوکړې تصدیق چې د جنسیت بدلون ښیي؛ یا د ډاکټر له لوري لاسلیک شوی او نېټه لرونکی بیان چې "(ستاسو نوم) په بریالیتوب سره له (د زیږون په وخت کې ټاکل شوي جنسیت) څخه (تایید شوي جنسیت) ته د (ستاسو نوم) د جنسیت دایمي بدلون لپاره ټوله اړینه درملنه ترسره کړه "
- د جنسیت د بدلون په اړه د ډاکټر څرګندونه یا بیان – 55617 ایالتي فورم

## د قانوني حالت اسناد

د متحده ایالتونو د اتباعو لپاره، هغه سند چې تاسو د خپل هویت د ثابتولو لپاره وړاندې کوئ متحده ایالتونو کې ستاسو قانوني وضعیت به هم ثابتوي. هغه اسناد چې د قانوني حالت د ثابتولو لپاره کارول کېږي، عبارت دي له:

- متحده ایالتونو زوکړې تصدیق. د زوکړې تصدیق باید اصلي یا تصدیق شوی نقل وي چې د یوې حکومتي ادارې له لوري صادر شوی وي. د روغتونونو له لوري غیر رسمي د زوکړې تصدیقونه نه منل کېږي.
- د متحده ایالتونو پاسپورت یا د متحده ایالتونو پاسپورټ کارت. پاسپورت تاریخ تېری نشي کیدی.
- د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له لوري په بهر کې د زوکړې کونسلي راپور.
- د زوکړې تعدیل شوی تصدیق چې په قانوني نوم، د زوکړې په نېټه یا جنډر کې بدلون ښیي، د زوکړې تعدیل شوی تصدیق باید تصدیق شوی وي او ستاسو په ایالت کې د حیاتي احصایې له یوه ایالتي دفتر سره ثبت شوی وي.
- بهرنی پاسپورټ. یو تاریخ تېری پاسپورټ د متحده ایالتونو له ویزې او I-94 فورم سره، چې متحده ایالتونو ته د غوښتونکي تر ټولو وروستي داخلیدل یا اوسنی حالت ښیي.
- د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوي تابعیت تصدیق، او تایید شوی قانوني حالت.
- د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوی د تابعیت تصدیق او تایید شوی قانوني حالت.
- د متحده ایالتونو د کورني امنیت وزارت (DHS) یا د متحده ایالتونو د کډوالۍ او تابعیت د خدمتونو (INS) له خوا صادر شوي د دایمي استوګنې کارت او قانوني حالت. دایمي استوګنې کارت تاریخ تیری نشي کیدای.
- د کورني امنیت وزارت (DHS) له خوا صادر شوی د دندې د اجازې کارت او تایید شوی قانوني حالت. د دندې د اجازې کارت تاریخ تیری نشي کیدای.
- نور هغه اسناد چې د متحده ایالتونو د یوې فدرالي ادارې له خوا صادر شوي تر څو هویت او قانوني حالت وښیي. موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) باید وکولای شي تایید کړي چې د سند پېژندنه سمه ده.
- د اقدام د خبرتیا (797- I فورم) سند، که BMV وکولای شي تایید کړي چې DHS دا ترلاسه کړی او هغه عمل او اسناد یې نه دي رد کړي چې د متحده ایالتونو یوې فدرالي ادارې د غوښتونکي د اقدام د خبرتیا اړوند د قانوني حالت ښودلو لپاره صادر کړي.
- په متحده ایالتونو کې د پناه غوښتنې لپاره د غوښتنلیک ثبوت چې د DHS له خوا تایید شوی وي.

## د ټولنیز امنیت شمېره

هغه اسناد چې ستاسو نوم او د ټولنیز امنیت بشپړه شمېره لري چې ستاسو د ټولنیز امنیت د ثابتولو وړ ګرځوي عبارت دي له:

- د ټولنیز امنیت کارت.
- W -2 فورم.
- 1099 فورم.
- Non-SSA 1099 فورم.
- له مخکې چاپ شوی د معاش د ورکړې سند یا رسید چې ستاسو نوم او د ټولنیز امنیت بشپړه شمېره ښیي. که تاسو د ټولنیز امنیت شمیرې لپاره وړ نه اوسئ، تاسو باید داسې اسناد واستوئ چې ښیي تاسو په متحده ایالتونو کې د کار اجازه نه لرئ. سربېره پر دې، که تاسو په متحده ایالتونو کې د کار اجازه و نه لرئ، ښایي له تاسو څخه وغوښتل شي چې د ټولنیز امنیت د شمېرې پر ځای یو اعتباري I-94 وړاندې کړئ.

## د انډیانا د استوګنې اسناد

د پُستي خوني صندوقونه د استوګنې د پتې په توګه نه شي کارول کېدای، مګر دا چې غوښتونکی د انډیانا د لویې څارنوالۍ د پتې د محرمیت په پروګرام کې نوم لیکنه کړې وي. هغه اسناد چې کولای شئ خپلې انډیانا استوګنې ثابتولو لپاره یې وکاروئ، عبارت دي له:

- د خدمتونو له یو شرکت، د کریډیټ کارت له کمپنۍ، ډاکټر یا روغتون څخه په کمپیوټر تولید شوی بیل چې د غوښتنلیک له نېټې څخه تر ۶۰ ورځو زیات مخکې نه وي صادر شوی او ستاسو نوم او د استوګنې پته پکې وي.

- د بانک صورت حساب یا د بانک د معاملې رسید چې د غوښتنلیک له نېټې څخه تر ۶۰ ورځو زیات مخکې نه وي صادر شوی او ستاسو نوم او د استوګنې پته پکې وي.
- له مخکې چاپ شوی د معاش د ورکړې سند یا رسید چې د غوښتنلیک له نېټې څخه تر ۶۰ ورځو زیات مخکې نه وي صادر شوی او ستاسو نوم او د استوګنې پته پکې وي.
- W -2 فورم، پر شتمنۍ یا د غیر مستقیمو مالیاتو بېل، یا د ټولنیز امنیت ادارې یا تقاعد د کلنیو ګټو د لنډیز بیانیه یا اظهارنامه چې ستاسو نوم او د استوګنې پته ښیي. فورمه، بیل، یا اظهارنامه باید د سږني کال یا له سږني کال څخه مخکې کال نېټه ولري.
- د کور د څښتن، کرایه کوونکي یا د موټوري نقلیه وسیلې اوسنی اعتباري بیمه چې ستاسو نوم او د اوسېدلو پته ښیي. د بیمې د پالیسي نېټه باید له غوښتنلیک څخه تر یو کال زیاته مخکې نه وي.
- ستاسو په نامه د یوې ثبت شوې موټوري نقلیه وسیلې لپاره د موټوري نقلیه وسیلې د پور د ورکړې اوسنی کتابچه چې ستاسو نوم او د اوسېدلو پته ښیي.
- د استوګنیزې ګروۍ (mortgage) یا ورته پور تړون، د اجارې یا کرایې تړون چې ستاسو نوم او د استوګنې پته ښیي او د هوکړه لیک د اجرا لپاره د ټولو لوریو لاسلیکونه اړین دي.
- انډیانا د کورنۍ او ټولنیزو خدمتونو ادارې له خوا صادر شوې د ماشوم ملاتړ د چیک رسید یا سند چې ستاسو نوم او د استوګنې پته ښیي. *د چیک د رسید یا سند نېټه باید د غوښتنلیک له نېټې څخه تر ۶۰ ورځو زیاته مخکې نه وي.*
- د فدرالي یا دولتي محکمې یا ادارې له لوري لومړۍ کچه پُست چې ستاسو نوم او د استوګنې پته ښیي. د پُست نېټه باید د غوښتنلیک له نېټې څخه تر ۶۰ ورځو زیاته مخکې نه وي.
- انډیانا د رایې ورکوونکي د ثبت کارت.
- د متحده ایالتونو له پُستي خدمتونوڅخه د پتې د بدلون تایید چې ستاسو مخکینۍ او اوسنۍ استوګنیزې پتې ښیي (CNL107 ښیي).
- ستاسو د انډیانا د ملیکت سروې چې د جواز لرونکي سروې کوونکي له خوا صادره شوې وي او ستاسو نوم او د استوګنې پته ښیي.
- انډیانا د لاسي وسلې اعتباري اجازه چې ستاسو نوم، لاسلیک، استوګنیزه پته، او د زوکړې نېټه ښیي.
- د عامه (دولتي) یا خصوصي ښوونځي سوابق چې د ثبت شوي زده کونکي نوم او د استوګنې پته ښیي.

### *د انډیانا د استوګنې سوګندلیک*

که نه شئ کولای دوه داسې اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو د انډیانا استوګنه ثابته کړي، که له لاندې وړتیاوو څخه یو یې پوره کوئ، کولای شئ د انډیانا د استوګنځی سوګند لیک سپارئ:

- **تاسو وړتیا نه لرئ.** انډیانا د استوګنې سوګندلیک باید د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په څانګه کې د بل کس لخوا لاسلیک شي چې ستاسو قانوني سرپرست یا پالونکی وي، لېرترلږه ۱۸ کلن وي او هغه څوک وي چا سره چې تاسو اوسېږئ. قانوني سرپرست یا پالونکی باید خپل اعتباري د انډیانا باورلیک، یو سند چې هویت ثابتوي، دوه اسناد چې د انډیانا د استوګنې پته ثابتوي، او د پلې کېدلو وړ وکالتنامه یا د سرپرستۍ اسناد تسلیم کړي.
- **له استوګنیزې پتې پرته بې کوره غوښتونکی.** د انډیانا د استوګنې سوګندلیک باید د هغه حکومتي ادارې یا غیر انتفاعي سازمان د قانوني استازي له خوا لاسلیک شي چې تاسو هلته خدمتونه ترلاسه کوئ او کولای شئ پُست ترلاسه کړئ. تاسو باید له هغه حکومتي ادارې یا غیر انتفاعي سازمان څخه د هغوی پر سرلیک لرونکي پاڼه چې د دوی نوم، پته او د ټلیفون شمېره ښیي، یو لیک هم وړاندې کړئ چې د قانوني استازي نوم، لاسلیک او د لاسلیک نېټه ښیي. قانوني استازی باید په هغه لیک کې څرګنده کړي چې اداره یا سازمان تاسو ته خدمتونه وړاندې کوي او ستاسو په استازیتوب به د پُست یا لیک رسول مني.
- **له خپل خپلوان یا ملګري سره اوسېږئ.** انډیانا د استوګنځی سوګند لیک باید د هغه خپلوان یا ملګري لخوا چې تاسو ورسره اوسېږئ د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په څانګه کې لاسلیک شي. خپلوان یا ملګری باید لږترلږه ۱۸کلن وي او خپل د انډیانا اعتباري باورلیک، یو سند چې د هغه هویت ثابتوي، او دوه اسناد چې د انډیانا د استوګنې پته ښیي وسپاري.
- **تاسو په یوه موټوري نقلیه وسیله کې اوسېږئ،** د ګرځنده یا موټوري کور په ګډون چې تر دې پورې محدود نه دي. انډیانا د استوګنې سوګندلیک باید د جواز په څانګه کې د انډیانا د یو بل اوسېدونکي له لوري لاسلیک شي چې تاییدوي چې تاسو کولای شئ د هغه د استوګنې له پتې څخه د سوابقو موخو لپاره کار واخلئ. هغه کس چې سوګندلیک لاسلیکوي، باید دوه داسې سندونه وسپاري چې د هغه د انډیانا پته ثابتوي.

تاسو باید د اوسني کال یا له اوسني څخه مخکې کال لپاره د انډیانا پر عایداتو مالیې د ورکولو ثبوت وړاندې کړئ، او د موټوري نقلیه وسیلو له ادارې (BMV) سره د اوسني موټوري نقلیه وسیلې سرلیک او د ثبت سوابق ولرئ.

## د منلو وړ اسنادو وړاندې کول

موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) یوازې اصلي اسناد او یا د صادرونکي ادارې له لوري تصدیق شوي نقلونه مني. موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) کولای شي هر هغه سند رد کړي چې تقلبي، نباوري، بدل شوی، یا له وخته تېر شوی ښکاري. ټول اسناد باید په انګلیسي وي

یا د تایید وړ دقیقې انګلیسي ژباړې سره وړاندې شي. د موټوري نقلیه وسیلو اداري (BMV) ته په وړاندې شویو اسنادو کې ستاسو قانوني نوم او د زوکړې نېټه باید د ټولنیز امنیت د اداري له سوابقو سره سمه وي.

د هغو اسنادو ژباړه چې له انګلیسي پرته په بله ژبه دي او په انګلیسي فرعي سرلیکونو نه لري، د غوښتنلیک یا غوښتنې په ملاتړ وړاندې کېږي، باید په انګلیسي ژبه بشپړه ژباړه ولري. ژباړه باید د یوې حکومتي اداري، اعتبار لرونکي ښوونیزې اداري، یا د ژباړې د اداري له سرلیک سره په جلا پاڼه کې لیکل شوې وي.

په ژباړه کې باید د ژباړونکي لاسلیک شوې څرګندونه یا بیان وي چې ښیي چې ژباړه بشپړه او دقیقه ده، باید د ژباړونکي په توګه خپله وړتیا تایید کړي، او باید څرګنده کړي چې سند د کورنۍ غړي، ملګري یا کاروباري همکار لپاره نه دی ژباړل شوی.

## د نه مطابقت لرونکې باورلیک ترلاسه کول

د متحده ایالتونو اتباع چې اوس مهال یو باوري، غیر مطابقت لرونکی د انډیانا باورلیک لري، چې د ریښتیني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکي باورلک لپاره د اړینو اسنادو راټولولو لپاره هڅه کوي، یا هغه څوک چې غواړي یوازې د ریښتیني پېژند (Real ID) سره مطابقت لرونکي باورلیک غوښتنې ته انتظار وکړي، کولای شي چې غیر مطابقت لرونکي باورلیک لپاره غوښتنه وکړي.

# ب ضمیمه | تنکي ځوانان د جلب تر شا

## د والدینو او تنکیو ځوانانو لپاره د موټر چلولو لارښود

د والدینو او ځوانانو لپاره د موټر چلولو لارښود په IN.gov/BMV کې خپور شوی. دا یوه مهمه وسیله ده چې له والدینو سره د خپل ماشوم د موټر چلولو په زده کړه کې په ښکېلېدلو کې مرسته کوي.

### *د تنکیو ځوانانو لپاره د خطر عوامل*

- **ناسم او خطرناک موټر چلول** ناسم او خطرناک موټر چلولو او د حواسو ګډوډي د تنکیو ځوانانو په ټکر کې تر ټولو زیات اغېزناک عوامل دي.
- **بې غوري یا پام نه کول.** د موټر چلوونکي بې غوري او د حواسو ګډوډي د ځو نقلیه وسیلو په ټکرونو کې یو له عامو اغېزناکو عواملو څخه دي.
- **له حد څخه زیات سرعت.** غیر قانوني او ناخوندي سرعت د یوې نقلیه وسیلې په ټکرونو کې یو له عامو اغېزناکو عواملو څخه دی. تنکي ځوانان ښایي د موټر چلولو له اوسنیو شرایطو سره د خپل سرعت په برابرولو کې ستونزې ولري. لوړ سرعت د خطرونو د پېژندلو او غبرګون لپاره د موټر چلوونکي وخت کموي.
- **له نورو تنکیو ځوانانو سره موټر چلول.** په نقلیه وسیله کې له هرې شته سپرلۍ سره د پېښې چانس دوه چنده کېږي.
- **د خوندیتوب د کمربند نه بسته کول.** د خوندیتوب د کمربند بسته کول نه یوازې چې قانون دی، بلکې په ټکر کې د ټپي کېدلو یا مړینې د احتمال کمولو لپاره هم تر ټولو غوره طریقه ده.
- **په څلورلارو یا تقاطع ګانو کې بې غوري.** ډېرې د ځو موټرو پېښې چې تنکي ځوانان پکې ښکېل وي په تقاطع ګانو یا څلورلارو کې پېښېږي. موټر چلوونکي باید د حواسو له ګډوډیو څخه لرې وی او په تقاطع ګانو یا څلورلارو کې پر نورو نقلیه وسیلو تمرکز وکړي.
- **د موټر چلولو پر مهال د الکولو او نورو نشه یي توکو کارول.** په داسې حال کې چې د هغو تنیکو ځوانانو سلنه کمه ده چې د الکولو یا نشه یي توکو تر اغېز لاندې موټر چلوي، دوی د هغو ټکرونو تر ټولو زیاته سلنه جوړوي چې تنکي ځوانان پکې ښکېل وي او د جدي ټپي کېدلو یا مړینې لامل کېږي.

### *د تنکیو ځوانانو موټر چلوونکو لپاره لارښوونې*

- تاسو او ستاسو سپرلۍ یا مسافر باید تل د خوندیتوب کمربند وتړئ.
- هر ځل د موټر چلولو له پیلولو څخه مخکې خپلې څوکۍ او هنداري د خپل غوره لید لپاره برابرې کړئ.
- د موټر چلولو پر مهال خپله راډیو مه تنظیموئ. غوره ده چې تر هغه انتظار وکړئ چې ودرېږئ ځکه چې له سړک څخه د څو ثانیو لپاره ستاسو د تمرکز اوښتل کېدای شي د ټکر لامل شي.
- په لوړ غږ موسیقي مه غږوئ. ښایي د خطر زنګ یا هارن وانه ورئ چې کېدای شي تاسو ته به د احتمالي خطر په اړه خبرداری درکوي.
- د موټر چلولو پر مهال په ټلیفون کې خبرې مه کوئ یا پیغامونه مه استوئ - دا کار د قانون خلاف دی. خوراک مه کوئ، وېښتان مو مه ږمنځوئ، سینګار مه کوئ، یا داسې کوم کار مه کوئ چې حواس مو له موټر چلولو څخه اړوي.

- د نشه یي توکو یا الکولو تر اغېز لاندې موټر مه چلوئ یا له داسې کوم کس سره مه سپرېږئ چې نشه وي. ترڅو چې ځینې له نسخې پرته درمل ښایي تاسو ګنګس کړي.
- مخکې له دې چې څلورلارې یا تقاطع ته ننوځئ، یقیني کړئ مخکې له دې چې پرمخ ولاړ شئ څلورلارې یا تقاطع خالي یا خلاصه ده.
- د ټولو ترافیکي اشارو پیروي وکړئ. له زرغون څراغ سره یوې څلورلارې یا تقاطع ته د نږدې کېدلو پر مهال تل د درېدلو لپاره چمتو اوسئ که څراغ بدلېږي. پرته له دې چې د څراغ د ژېړېدلو پر مهال له مخکې څخه په څلورلارې یا تقاطع کې اوسئ، د څراغ له ژېړېدلو وروسته باید څلورلارې یا تقاطع ته دننه نه شئ.
- د سرعت حد رعایت کړئ. ډېر چټک تګ د درېدلو او غبرګون لپاره کم وخت درکوي.

### د تنکیو ځوانانو میندو او پلرونو لپاره لارښوونې

- کله چې تاسو موټر چلوئ، د خپلو ماشومانو لپاره ښه مثال اوسئ.
- تل باید د خوندیتوب کمربند کارولو غوښتنه وکړئ.
- له خپل تنکي ځوان اولاد سره د موټر چلولو تمرین وکړئ کله چې هغه د زده کوونکي اجازه ولري، او کله چې د موټر چلولو د جواز په لومړي کال کې وي.
- خپل تنکی ځوان د موټر چلولو له بېلابېلو شرایطو سره مخ کړئ، د لمدو سړکونو، واورې، لویو لارو، کلیوالي سړکونو، د شپې پر مهال موټر چلولو، او داسې نورو په ګډون.
- په نابلدو سړکونو د موټر چلولو تمرین وکړئ.
- نقلیه وسیلې د خوندیتوب لپاره غوره کړئ، نه د انځور لپاره.
- د موټر چلولو پر قوانینو، مسؤولیتونو، او د خپلې کورنۍ لپاره پرمناسبو پایلو د خبرو لپاره اړین وخت ورکړئ.
- د پرمختللو امتیازونو لپاره یوه ستراتیژي رامنځته کړئ. دا چې تنکی ځوان موټر چلوونکی تجربه ترلاسه کوي او مناسبې پرېکړې څرګندوي، اجازه ورکړئ چې ستاسو تنکی ځوان د موټر چلولو د مسؤولیت لوړې کچې ته ولاړ شي.
- د خوندي موټر چلولو لپاره د اړینو مهارتونو رامنځته کول یو پیچلي کار دی او یواځې د تمرین له لارې زده کیدای شي. د موټر چلوونکي زده کړه یو لومړی ګام دی، خو والدین تنکیو ځوانانو ته د موټر چلولو په ښودلو کې مهم نقش لري.

### له سړک څخه بهر نقلیه وسیلو (ORV) چلول

له ۱۸ کلونو کم عمر لرونکی هر کس چې له سړک بهر نقلیه وسیله (ORV) چلوي یا پکې سپرېږي باید د خوندیتوب یوه خولۍ یا هېلمېټ پر سر کړي چې د 49 CFR 571.218 له مخې د متحده ایالتونو د ترانسپورټ وزارت له خوا ټاکل شوي معیارونه پوره کوي.

یو کس چې

- له سړک څخه بهر نقلیه وسیلې (ORV) څښتن وي؛
- له سړک څخه بهر نقلیه وسیله (ORV) په واک کې ولرئ؛ یا
- له سړک څخه بهر نقلیه وسیلې (ORV) د لرلو حق ولري، که د قانوني سرلیک، اجارې، جواز، کرایه د هوکړه لیک، د پېرلو له انتخاب سره د اجارې، د مشروط پلور د قرارداد، یا بل لامل له امله وي؛

باید په اګاهانه توګه له ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي شخص ته واک یا اجازه ورنه کړي چې دخوندیتوب له داسې خولۍ یا هېلمېټ پر سر کولو پرته، چې د متحده ایالتونو د ترانسپورټ وزارت له خوا ټاکل شوي معیارونه پوره کوي، له سړک څخه بهر نقلیه وسیله (ORV) وچلوي.

## ج ضمیمه | د موټوري نقلیه وسیایلو د ادارې (BMV) نور خدمتونه او سرچینې

### فورمونه

فورمونه په IN.gov/BMV یا د موټوري نقلیه وسیلو ادرې (BMV) په هره څانګه کې شته دي.

### د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې لپاره غوښتنلیک

هرڅوک چې نوی، نوی شوی، بدل شوی، یا اصلاح شوی باورلیک ترلاسه کوي، که د رایې ورکولو وړ وي، کولای شي رایې ورکولو لپاره هم نوم لیکنه وکړي. دا چاره ښایي د باورلیک د یوې معاملې یا تعامل پر مهال د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) په څانګه کې، په myBMV.com کې، یا د Connect BMV په یو کیوسک کې بشپړه شي. د رایه ورکوونکي پُستي فورمونه د هغو کسانو لپاره شته دي چې د باورلیک د معاملې لپاره په څانګه کې نه وي.


### د انتخابي پوځي خدمت نوم لیکنه

د اندیانا قانون موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) څخه غواړي، کله چې له ۲۶ کلنونو څخه د کم عمر نارینه چې د موټر چلولو نوی یا نوی شوی جواز تر لاسه کوي، واک یا اجازه ورکړي چې د انتخابي خدمتونو له سیستم سره د هغه شخص د نوم لیکنې لپاره اړین معلومات فدرالي حکومت ته واستوي. نوم لیکنه نه کول جرم دی او مجازات یې تر پنځو کلونو زنداني کېدل او $250,000 جریمه ده.


➔ د انتخابي خدمتونو نوم لیکنه د متحده ایالتونو د اتباعو لپاره اړینه ده.

# موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) هر وخت. هر ځای

موټوري نقلیه وسیلو اداره (BMV) ستاو د خپل کور هوساینې څخه د خپلي نقلیه وسیلي د ثبت د نوي کولو لپاره څلور اسانې طریقې وړاندې کوي. د نوي کولو پر مهال به د پلېټ سټیکر او د ثبت کارت په مستقیم ډول تاسو ته واستول (پُست) شي.




**د پُست له لارې یې نوی کړئ** د پیسو له ورکړې یا تادیې سره د نوي کولو د خپلي خبرتیا د بشپړولو او استولو (پُست) کولو سره. پلېټونه او سټیکرونه تقریباً په ۲۱ ورځو کې رسېږي. پیسې د چک، ماسټرکارت (MasterCard)، ویزا (Visa)، یا ډېبېټ کارت (debit card) له لارې ورکړئ.



**IN.gov/BMV وګورئ.** زموږ د موټوري نقلیه وسیلو د ادارې (BMV) مجازي څانګه اجازه درکوي چې د خپل پلېټ ډولونه بدل کړئ او د خپلو پلېټونو پرمختګ وګورئ تر څو چې ستاسو پټې ته ورسېږي. پلېټونه او سټیکرونه تقریباً په ۲۱ ورځو کې رسېږي. پیسې د برېښنایي چک (e-check)،ماسټرکارت (MasterCard)، ویزا (Visa)، ډېسکور (Discover)، امیریکن ایکسپرېس (American Express) یا ډېبېټ کارت (debit card) له لارې ورکړئ.



**د تلیفون له لارې یې نوی کړئ** په 888-692-6841 شمېره موټوري نقلیه وسیلو ادارې (BMV) د پېرودونکو د خدمتونومرکز ته په زنګ وهلو او د ۳ غوراوي په ټاکلو سره. دا کرښه په ورځ کې ۲۴ ساعته فعاله وي. پلېټونه او سټیکرونه تقریباً په ۲۱ ورځو کې رسېږي. پیسې د ماسټرکارت (MasterCard)، ویزا (Visa)، یا ډېبېټ کارت (debit card) له لارې ورکړئ.



**یوې BMV Connect کیوسک ته ورشئ** چې معمول معاملې هره ورځ په ۲۴ ساعتونو کې بشپړې کړئ. د کیوسک د موقعیتونو او د لاسرسي وړ معاملو د لیست لپاره IN.gov/ BMV وګورئ.

# نوملیک


- **ایالت منځي (د ایالتونو تر منځ) لویې لارې** 46
- **بایسیکلونه** 52
- **بېړنۍ نقلیه وسیلې** 51
- **په موټور چلېدونکي سیکلونه** 14
- **پیښې او بېړني حالات** 58
- **تاوېدل** 38
- **ترافیکي اشاري** 34
- **تنکي ځوانان د جلب تر شا** 69
- **خنډونه** 23
  - نه حاضرېدل یا پیسي نه ورکول
  - ترافیکي سرغړوني 23
  - د ماشوم د ملاتړ د پیسو نه ورکول 24
  - د خنډول کېدلو په حالت کي موټر چلول 23
  - عادتي ترافیکي سرغړونکي 25
  - د نشي په حالت کي د نقلیه وسیلي چلول 23
  - BMV ته د خراب چیک لیکل 24
- **چوکونه یا دایروي تقاطع** 40
- **څلورلارې یا تقاطع** 34
  - د درېدلو نښي ته نږدي کېدل 35
  - د لومړیتوب د حق نښي ته نږدي کېدل 35
  - یوې څلورلارې یا تقاطع ته نږدي کېدل
  - له اشارې پرته 36
  - په یوه څلورلارې یا تقاطع کي د موټر چلول 34
  - په یوه څلورلاې یا تقاطع کي تاوېدل 34
- **د U په بڼه تاوېدل** 39
- **د ازموینې د پوښتنو نمونه** 63
- **د استوګنې ارتیاوې** 2
- **د انډیانا باورلیکونه** 1
- **د انډیانا نوي اوسېدونکي** 2
- **د برېک نیولو او تعقیبولو واټنونه** 41
- **د بیمې ارتیاوې** 22
- **د پتې بدلون** 20
- **د پوهې ازموینه** 5
- **د پېژندنې اسناد** 66
  - د قانوني حالت اسناد 67
  - د استوګنې اسناد 67
  - د ټولنیز امنیت د شمېرې اسناد 67
  - د منلو وړ اسنادو وړاندې کول 69
- **د پېژندنې کارتونه** 1
  - د یو باورلیک اصلاح کول 20
  - د پېژندنې د کارت ترلاسه کول 3
  - د پُست له لارې ترلاسه کول 11
  - د یو باورلیک بدلول 20
- **د ترافیکو د کنټرول افسران** 54
- **د تمځای پلاکارتونه** 18
- **د ټپي کېدلو یا زیان لپاره مالي مسؤولیت** 7
- **د چلوونکي (Chauffeur) جوازونه** 16
  - د یو باورلیک اصلاح کول 20
  - د یو باورلیک بدلول 20
  - د یو باورلیک بېرته نوي کول 19
  - د ماشوم د خوندیتوب څوکې 55
  - د سوداګریز موټر چلولو جواز 10
  - د حواسو د ګډوډۍ په حالت کي موټر چلول 45
- **د خوندیتوب کمربندونه** 55
- **د ربړ پټۍ د تېرېدلو خایونه** 48
- **د زده کوونکي اجازې** 3
- **د سرعت محدودیتونه** 40
  - د یو باورلیک اصلاح کول 20
  - د اعتبار موده 9
  - د زده کوونکي د اجازې ترلاسه کول 3
  - د یو باورلیک بدلول 20
- **د شپې موټر چلول** 44
- **د ښوونځي بسونه** 51
- **د عامه مسافرو د چلووونکي (chauffeur) جواز** 16
- **د فعالې دندې او د پخوانۍ پوځي نښان** 17
- **د قانون د پلي کوونکو له خوا د ترافیکو درول** 60
- **د کار سیمې یا زونونه** 47
  - د غشو تختې 47
  - د موټر چلولو لارښووني 47
  - بیرغ لړونکي اشاري 47
  - د سرعت محدودیتونه 41
- **د کرایې لپاره تایید** 15
- **د لید چاڼ کول** 4
- **د لین نښې یا خط کشي** 37
- **د موټر چلولو ازمایښتي جوازونه** 9
- **د موټر چلولو جواز** 1
  - د یو باورلیک اصلاح کول 20
  - د اعتبار موده 9
  - د موټر چلولو د جواز غوښتنه 8
  - د پُست له لارې ترلاسه کول 11
  - د یو باورلیک بېرته نوي کول 19
  - د یو باورلیک بدلول 20
  - د ځانګړو ارتیاوو محدودیتونه پر
  - یو باورلیک 13
  - محدودیتونه 12
- **د موټر چلولو د مهارتونو ازموینه** 5
- **د موټر چلوونکي د خوندیتوب پروګرام** 21
- **د نوم بدلون** 20
- **د هوا په نامعلومو حالاتو کي د موټر چلول** 43
- **رښتینې پېژند** 1
- **ښوییدل** 42
- **لارې** 57
  - له ټراکټور-ټریلر سره د سړک شریکول 49
  - د ولاړ نقلیه وسیلو لپاره د خبرداري وسایل 57
- **له عکس څخه مستثناء باورلیکونه** 11
- **له نورو نقلیه وسیلو څخه تېرېدل** 37
- **مخابراتي وسایل** 45
  - ازمایښتي موټر چلوونکي او
  - مخابراتي وسایل 10
- **موټرسیکلونه** 13
  - د یو باورلیک اصلاح کول 20
  - د اعتبار موده 13
  - د موټرسیکل د تایید ترلاسه کول 13
  - د موټرسیکل ترلاسه کول
  - د زده کوونکي اجازه 13
  - د یو باورلیک بدلول 20
  - له موټرسیکلونو سره د سړک شریکول 52
- **ناسم موټر چلول** 59
- **نښې** 27
  - د موټر چلوونکي د خدمتونواو تفریحي نښې 33
  - د لارښووني نښې 33
  - د لویې لارې رغوونه او
  - د ساتنې نښې 30
  - د لویې لارې د رغوونې د بیرغ لړونکي اشاري 47
  - د ربړ پټۍ نښې 48
  - د مقرراتو نښې 31
- **د ښوونځي د سیمې یا زون نښې** 30
  - د نښو رنګونه 27
  - د نښو شکلونه 28
  - د ورو حرکت کوونکي نقلیه وسیلې نښان 31
  - د سرعت مشورتي نښې 31
  - بشپړونکي لوحې 32
  - د خبرداری نښې 29
- **نمرې** 21
- **ورو حرکت کوونکي نقلیه وسیلې** 53

## یادښتونه

## یادښتونه

## يادښتونه

## يادښتونه

## یادښتونه



د موټرسیکل د خپل تایید ترلاسه کولو کې لېوالتیا لرئ؟
نور زده کړئ په
RIDESAFEINDIANA.COM
RIDE SAFE INDIANA
ځیرکه روزنه وکړئ.
ځیرک چلول وکړئ.

# د خدمت لپاره هڅول شوی

## انډیانا موتوري نقلیه وسیلو اداره

د ۲۰۲۳ په جنوری کې خپور شوی| د مهالنیو لپاره **IN.gov/BMV** وګورئ

د پوښتنو یا نورو معلوماتو لپاره **888-692-6841** زنګ ووهئ